# داسلامي

# تاریخ

زړور سپاهیان او

اتلان

داسلامي تاریخ زړور سپاهیان او اتلان

Download from:aghalibrary.com

راټولونکی : عزیزالرحمن حسیني

د مرتب سريزه

د ښـونکي او لايزال خداى ج په سپيڅلي نامه .
جمله ثناء او صفت دى هغه خداى لره چې مجاهدين يې پيدا کړي ، درود او سلام دې وي په غازي او مجاهد پيغمبر حضرت محمد ص او په مجاهدو يارانو يې !

د خپل سپيڅلي او مهربان رب ج بې حسابه شکرونه او حمدونه اداّ کوم چې په ټولنيزو رسنيو کې د فعاله اسلامپالو مبارزينو او استادانو د تاريخي ليکل شوو ملغلرو د راټولولو او انسجام توفيق يې راکړ ، هغه قيمتي تاريخي مطالب چې لوستل يې د يو مسلمان لپاره بې حده اړين او مهم دي ، تر ډيره په دې کتاب کې ترتيب او را جمعه شوي دي .
دا چې له تير يوه کال راهيسې زمونږ بعضو ورونو او دوستانو له مونږ څخه زمونږ په صفحه د خپرو شوو مقالو او مطالبو د را يوځاى کيدو او د يوه کتاب په بڼه د چاپ او نشر غوښتنه او تقاضا کوله ، نو مونږ هم د دوئ د راکړې مينې او تشويق په خاطر دې کار ته متې راونغاړلې ، مونږ د دوئ د ډاډګيرنې او تشويق احسانمند يو ، رب دې دوئ له مونږ سره د ژوند په ټولو چارو کې کامياب او بريالي لري .

په دې کتاب کې بعضې رايوځاى شوي مطالب هغه دي چې زمونږ د اداري د واټساف او ټليګرام نمبر ته د صفحې د کتونکو لخوا راليږل شوي دي ، چې له مونږه يې د نشر غوښتنه شوې ده ، مونږ تر خپله وسه کوښښ کړى چې د مقالې د اصلي ليکونکي نوم له مطلب سره يوځاى نشر کړو ، سره له دې د بعضو په زړه پورې تاريخي مطالبو د اصلي مالکانو او ليکوالانو په اړه مونږ معلومات ندي تر لاسه کړي ، چې ليکنې يې په کتاب کې بغير له نومه نشر شوي دي ، که چيرته د کتاب له نشر وروسته دوئ خپلې مقالې په کتاب کې ويني ، لطفاً ندې خفه کيږي ، او دا دې زمونږ عذر وګڼي .
په کتاب کې پاتې اکثره مطالب ما او د صفحې نورو مديرانو خپل يا په فيسبوک کې د فعالو استادانو له والونو کاپي کړي ، چې په کتاب کې مو د دوئ له نومونو سره يوځاى ځاى پر ځاى او نشر کړي دي .
هغه ليکوالان چې د کتاب له نشر وروسته د خپلو مقالو په اړه خبريږي ، له مونږ سره دې رابطه وکړي مونږ به يې په راتلونکي کې ضرور نومونه له مقالو او ليکنو سره په کتاب کې خپاره او ځاى پرځاى کړو کړو إن شاء الله .
په اخر کې له خپلو درنو ملګرو او د صفحې له مديرانو هر يوه ، استاد سلمان قريشي ، محترم سيد نظير احمد هاشمي ، او محترم طارق عزيز څخه د زړه له تله مننه کوم چې د اسلامي آمت لپاره له مونږ سره په دې مبارزه کې ملګري او همکاران دي .

**نوټ:** د اسلامي تاريخ زړور سپاهيان او اتلان کتاب د بعضې اقتصادي مشکلاتو په خاطرد اوس لپاره يوائې په PDF بڼه ترتيب او نشر شوى ، مونږ کوښښ کوو چې په راتلونکي کې يې په کومه مکتبه چاپ او خپور کړو .

عزيزالرحمن حسيني

د اسلامي حکمرانانو د صفحې مدير .

# اهداء

د اسلامي آمت هغو تنکيو شازلمو ته
چې د اسلام د دفاع او لوړاوي په
خاطر يې خپلې ګل رنګه ځوانۍ او
سپيڅلي بدنونه د باروډ په سرو لمبو
کې ټوک ټوک او لولپه کړل .

داسلامي تاريخ زړور سپاهيان او اتلان

د اقصی د جومات ساتونکي او عثماني خلافت د اخري سرتيري رښتينې کيسه

حسن الإغْدِرلي د عثماني خلافت ورستنی سرتېری و چې له بيت المقدس څخه په ۱۹۸۲
زېږديز کال کې په مرگ ووت .
ټولې نړۍ ته جوته ده چې په ۱۹۱۷ ز کال کې بيت المقدس د برتانيې په لاس کې هغه وخت
ولوېده چې کله عثماني خلافت په لومړي نړۍ وال جنگ کې ماتې وخوړه .
خو تاسو په دې لا نه ياست خبر چې هلته دعثماني خلافت ۵۳ سرتېرو له بيت المقدس څخه د
وتلو انکار وکړ ځکه چې غوښتل يې بيت المقدس د برتانوي يرغلگرو له چور چپاول څخه
وژغوري چې يو له هغو څخه هم "حسن الإغْدِرلي"و.
له نوموړي سره په ۱۹۷۲ ز کال کې د ترکيې د هيواد يو خبريال (إلهان بردکجي) مخامخ شو
او په مرکه کې يې ورته وويل :
زموږ ټول کنډک دلته په بيت المقدس کې ددې موخې لپاره پاتې شو چې موږ نه غوښتل چې
خلک ووايي عثماني دولت موږ يواځې پرېښودو موږ نه غوښتل له څلورو پېړيو وروسته بيت
المقدس وژاړي.. موږ نه غوښتل د انبياو سردار محمد صلى الله عليه وعلى اله وسلم ودرديږي.
په دې نه و خوښ چې اسلامي نړۍ په يو ستر ناورين او غم کې ډوبه شي، له دې وروسته هغه
اوږده او دراز کلونه د سترگو په رپ کې يوپه بل پسې تېر شول .
نور ټول ملگري مې يو په بل پسې د الله حضورته ورغلل او مړه شول ، دښمن نه شوی کولی
موږ ووژني خو د الله فيصلې او حق مرگ يوړل، دا دی زه حسن په خپله دنده لا ولاړيم او د
اقصی د جومات ساتونکی اوڅوکيدار يم ...
زويه ! (ترکي خبريال ته )
کله چې (اناضول) سيمې ته ورستون شې نو د (سنجق توکات) کلي ته ورشه هلته زما ضابط
نقيب مصطفى دی چاچې زه دلته د اقصی په جومات د ساتونکي په دنده گومارلی يم او ماته يې
امانت راسپارلی دی ، زما له خوا يې لاسونه ښکل کړه او ورته ووايه
ښاغلی ضابط !
"حسن الإغْدِرلي"د رشاش يولسم کنډک مشر د اقصی د جومات ساتونکی لا هم په هغه ځای
څوکيدار ولاړ دی په کومه ورځ او کوم ځای چې تا پرېښودلی و تر اوسه يې خپل نوبت نه دی
پرېښی او ستاسو د مبارکو دعاو غوښتونکی دی .
حسن خپل ټول خپلوان او هيواد پريښي وو او د اقصی د جومات څوکيداری يې کوله ، په زړه
کې يې هغه غيرت ، وفا او اخلاص ول چې يواځې پتمن خلک پرې پوهيږي .
خو (ملگري يې ټول )مرگي يو په بل پسې واخيستل او د په ۱۹۸۲ ز کال کې يې د اقصی د
جومات اخري ساتونکی او څوکيدارهم واخيست .

رحمك الله يا بطل رحمك الله يا حسن أفندي.

سلطان محمد فاتح (محمود الثاني) د عثماني کورنۍ له مشهورو پاچهانو او خليفه ګانو څخه دی '

ده د خپل (۴۹) کاله يوې مياشتي او پنځه ورځي ژوند څخه (۳۱) کاله دوې مياشتي او اته ويشت ورځي په عدالت او تقوی سره پر اسلامي نړۍ واک وچلاوه، د کفري او صليبي حکومتونو پايي ئي داسي ولړزولي چي څوارلس واره طاغوت پالو دښمنانو مرګوني حملي ورباندي وکړې، خو موفق نه شول.

سلطان محمد فاتح د ځکندن پر مهال خپل زوی ته داسي وصيت کوي، چي د ټولو مسلمانو حاکمانو او دولتي خلکو له پاره بهترين مسير ګرځي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه د برحقه خلفاوو غوښتني پکښي نغښتي دي:
"اوس زما مرګ رارسېدلی، خو فکرمن او غمجن نه يم، ځکه چي ترځان وروسته تا پرېږدم.

اې زويه! عادل، صالح او رحم لرونکی اوسه، د رحمت وزرونه دي د تر لاس لاندي خلګو په وړاندي د تبعيض پرته وغوړوه او د الهي دين د خپرولو هڅه کوه، ځکه چي دا د ځمکي پر مخ د حاکمانو له مهمو وظايفو څخه دي، پر هر کار د الله جل جلاله دين ته غوره والی ورکوه او دهغه په اړه د فکرکولو څخه مه غافله کيږه!

پر وظيفه باندي د بې دينه خلکو د مقررولو څخه پرهيز وکړه، داسي خلک چي د کبيره ګناه څخه ځان نه ساتي او په نامناسبه کارونو مصروف وي، د داسي خلکو څخه هم ليري اوسه، چي د دوی (بې دينه کسانو) طرف ته تا هڅوي، د فساد او بدعتونو څخه ځان وساته! په خپلو اوليه کارونو کي دي جهاد ته پرمختګ ورکړه، د بيت المال حفاظت کوه، دبل وحق ته د لاس اچولو څخه ځان ساته، بخښنه دي د حقدار طرف ته متوجه کوه، ديني باعمله عالمان دي په حکومتي نظام کي درسره ملګري کړه، هغوی معزز وشمېره، د هغوی د تشويق له پاره هڅي کوه او کله چي دي د هغوی څخه يو کس بلي سيمي ته لېږه، ځان ته ئي راوغواړه، استقبال ته ئي ورسه او په تحفو ئي ونازوه.

بيداره اوسه! دنيا، مال او قدرت تا ته فريب در نه کړي. مؤمنان بايد ستا د دروازې څخه نا اميده ونه ګرځي، له هغو کارو څخه ځان ساته، چي ستا نفس ئي غوښتونکی وي او د شريعت مخالف وي. ځکه چي دين زموږ هدف دی، زموږ د اعمالو اصلاح کوونکی او زموږ کاميابوونکی دی، زما نصيحت واوره او قبول ئي کړه، زه چي کله دې نړۍ ته راغلم؛ نو د يو کوچني ميږي په څېر وم، خو الله عزوجل دا لوی نعمت و ماته راکړ، زما پر طريقه او تګلاره باندي محکم واوسه، د دې دين او د هغه د پيروانو د عزت ساتلو کوښښ کوه، د بيت المال مالونه دخپل طبيعت مطابق، بې ځايه او د ضرورت تر اندازې ډېر مه مصرفوه! ځکه د دغه کارونو کول به ستا دحکومت دهلاکېدو له غټو اسبابو څخه وي". الدولة العثمانية (ص ۱۷۱\ ۱۷۲)

جوزف ابراهيم؛ د فلسطين د آزادۍ ایټالوي جنګیالی !

د فلسطين د آزادۍ په جګړې کې به مو د ډېرو فلسطيني مسلمانانو په اړه اورېدلي وي خو دا به مو نه وي اورېدلي چې د مظلومو فلسطينيانو د آزادۍ لپاره کوم اروپايي وګړی خپل هېواد او ولس پرېږدي او د فلسطينيانو په څنګ کې د صهيونيزم په خلاف جګړه وکړي، فرانکو فونتانا همداسې يو اروپايي دی چې خپل هېواد ایټاليا يې پرېښوده او کابو 22 کاله يې د اسرائيلو په ضد جګړې کې د فلسطينيانو ملګرتيا وکړه.
په دې موده کې يې د فلسطينيانو د مرستې په خاطر خپل ټول شته وپلورل او پيسې يې د فلسطين مهاجرو سره د مرستې لپاره ولګولې. فرانکو د جګړې پر مهال د راکټ په دقيق ډول نښه کولو کې شهرت وموند.
نوموړی د جګړې پر مهال اسلام قبول کړ او جوزف ابراهيم ونومول شو چې په 2015 کال کې د لبنان په هېواد کې وفات شو. نوموړي وصيت کړی وو چې تر مرګ وروسته يې په فلسطين يا هم د فلسطيني مهاجرو په کوم کمپ کې خاورو ته وسپاري.
جوزف ابراهيم به ویل: شايد مړ شم او د فلسطين آزادي ونه ګورم، خو اولادونه يا لمسيان به مې حتماً د فلسطين آزادي ويني هغه مهال به د هغه څه په قدر پوه شي چې دې پاکې ځمکې او دې سرلوړي ملت ته مې ډالۍ کړي.
د فلسطين او ټولو اسلامي هېوادونو د آزادۍ او يو کېدو په هیله

مسلمانان د الوتنې لومړي مخکښان !

احمد چلبي د عثماني خلافت يو ستر او نامتو عالم تېر شوی، دومره چې د ډېرې پوهې او نوښتونو له کبله د خلکو په منځ کې د زرکسبه په نوم يادېدو، نوموړی د تاريخ له هغه ګوتو په شمار کسانو له ډلې دی چې په لومړي ځل ئې د الوتو هڅه کړې او بيا په دې هڅه کې بريالي شوي هم دي، نوموړی مخکې تر دې چې په 1632 کال کې خپله تر ټولو اوږده الوتنه ترسره کړي نه ځلي نور هم د مختلفو واټنونو په وهلو سره د الوتنې په کار کې بريالی شوی وو، په 1632 کال کې نوموړی د ګالاتا له برج والوت د فاسفور له تنګي تېر شو او د 3358 متره واټن په وهلو سره د اسکودار په سيمه کې پر زمکه راکوز شو.
دغه واقعه د اوليا چلبي د سفر په کتاب کې ثبت شوې ده، دا پېښه د څلورم سلطان مراد په دور کې وه چې احمد چلبي د دې ستر کار د ترسره کولو له امله د مراد سلطان له خوا تقدير او ونازول شو.
احمد چلبي له 1609 تر 1640 کال پورې ژوند کړی.
يادونه!
غرب ټل زموږ د امت لاسته راوړنې غلا کړې او بيا يې په خپل نوم زموږ پر بې خبرو مسلمانانو منلي.

پول کونز د خپل کتاب "عثمانيان په اروپا کي" پر ۹۲-پاڼه ليکي چي: "په ۱۵۷۱م کي د لېپالټو تر جګړي پوري اروپايان په دې باور ول چي اسلام او مسلمانان نه ماتېدونکي قوتونه دي."
ځکه مسلمانانو به تل په کم شمېر او کمو وسائلو دښمن ته ماته ورکوله...

غرب او ښځه !

هغه مهال چي اروپايانو ويل ښځه بايد انجيل لمس نه کړي ځکه نجسه ده،
د اندلس د قرطبې په يواځي يو ښار کي ۱۷۰ مسلماني مېرمني د قرآن په ليکلو بوختي وې
"كتاب شمس الإسلام تسطع على الغرب"

موسی بن نصير !

مسلمانانو په اندلس شاوخوا اته پيړۍ واکمني وکړه، طارق بن زياد او موسی بن نصير اندلس په کال ۹۲هـ کي فتحه کړی و، په کال ۸۹۷ هـ کي د مسلمانانو په واک کي وروستي ښار غرناطي هم سقوط وکړ،
تاسو خبر يئ چي د اندلس لوی فاتح موسی بن نصير په پښه ګوډ و او د اندلس د فتحي په مهال يي عمر له ۷۵ کاله اوښتی و؟!
په ګوډه پښه او په دې لوی عمر به يي له دښمنانو سره جګړه کوله! .
اسلامي تاريخ

د اسلامي تاريخ له کرښو د عدالت بيلګې:

کله چې مسلمان قاضي (صاري خضر) د مسلمانو د خليفه او د قسطنطنيي د فاتح (محمد الفاتح) د لاس پرېکولو حکم صادر کړ!

سلطان (محمد فاتح) په اسطنبول کې د شانداره جامع مسجد جوړولو حکم وکړ؛ يو رومي معمار چې نوم يې (إبسلانتي) ؤ او په تعمير کې ډير ماهر ؤ پدې وجيبه موظف شو ، د سلطان له اوامرو څخه يو دا ؤ چې د مسجد ستنې بايد مرمر او ډيرې هسکې وي چې مسجد پرې شاندار ښکاره شي او د هسکوالی اندازه يې هم معمار ته ورکړه؛ خو رومي معمار د يو نامعلوم سبب له مخې ستنې قطع کړې (بې لدې چې سلطان ته خبر ورکړي او يا مشوره ورسره وکړي) کله چې سلطان ته دا خبر ورسيد غصه يې وپارېده؛ ځکه چې دا ستنې په ډير تکليف پيدا شوې وې, اوس نو د سلطان په نظر له ګټې وتلي وې، د غضب په توپان کې يې د معمار د لاس غوڅولو امر وکړ، وروسته پښېمانه شو خو وخت تېر ؤ.
معمار لدې ظلمه ساکت نشو، د اسطنبول قاضي ته يې خپله قضيه پېش کړه، قاضي په شکايت اورېدنه کې تردد ونکړ او بې له ځنډه يې محکمې ته د سلطان د حاضرېدلو امر وکړ؛ سلطان هم د قاضي په اطاعت کې تردد ونکړ او په ټاکلي وخت محکمې ته حاضر شو؛ له حاضريدو سره د کښېناستلو ځای ته روان ؤ چې د قاضي له خوا ورته امر وشو چې بايد له کښېناستلو تېر شي او له خپل خصم سره په څنګ ودرېږي؛
سلطان (محمد الفاتح) له رومي کارګر سره په څنګ ودرېد او قاضي د رومي شکايت واورېد; کله چې د سلطان د خبرو وخت راغی نو د رومي په دعوه يې اقرار وکړ او د قاضي حکم ته منتظر پاتې شو . قاضي له څه فکر کولو وروسته سلطان ته مخ کړ او ورته يې داسې وويل:
د شريعت د أوامرو مطابق لازمه ده چې ستا لاس د قصاص په توګه غوڅ کړای شي**!!**
د قاضي لدې پرېکړې سره رومي کارګر هيښ شو، هيبت وربانديې راغی؛ ځکه د ده په خيال کې نه راتله چې قاضي دې د ده د لاس په قصاص کې د قسطنطنې د فاتح او د مسلمانو د سلطان (محمد الفاتح) چې ټوله اروپا د ده له نومه په لړز کې وه) د لاس پرېکولو پرېکړه وکړي، د رومي معمار غټه هيله دا وه چې ده ته د لاس د تاوان مالي جبېره ورکړای شي خو دلته فيصله ډيره هېښونکې او هيبتناکه واورول شوه ؛ په ټيټ اواز يې قاضي ته وويل چې: له خپلې دعوې تنازل کوي او د مالي عوض تقاضا لري ځکه چې د سلطان لاس غوڅول ده ته هيڅ ګټه نه لري.
قاضي امر وکړ چې سلطان به رومي معمار ته (د هغه ضرر په سبب چې معمار ته يې رسولی) هره ورځ لس د سرو ټوکرې ورکوي، سلطان چې د لاس له غوڅېدلو خلاص شو د خوشحالۍ په خاطر يې لس نورې هم په ځان نذر کړې او ويې ويل چې هره ورځ به شل_شل د سرو ټوکرې ورکوم، ترڅو د بل وخت لپاره راته عبرت وي او بيا داسې ظلم ونکړم.
المصدر: منتديات قبيلة كنانة - من قسم: القصص و الروايات.
ژباړن : عبد الرقيب رقيب

له اسلامي نړۍ څخه اروپا ته د ساینسي علومو لیږد :

له اسلامي نړۍ څخه اروپا ته د ساینسي علومو لیږد د کتابونو په ذریعه شوی، په اندلس کې د مسلمانانو تر څنګ یهود او عیسویان هم اوسېدل خو واک او
حاکمیت د مسلمانانو په لاس کې وو، کوم کتابونه چې په اندلس کې لیکل شوي وو هغه ټول په عربي ژبه وو، د دولسمي پیړۍ په لومړیو کې په اندلس کې یو منظم خوځښت رامنځته شو، د دې خوځښت موخه دا وه چې له عربي څخه ټول ساینسي کتابونه لاتیني، عبراني او یا هم هسپانوي ژبې ته وژباړل شي، ددې ژباړې د تحریک چارې د مشهور راهب او عالم
(( Gundisalvi په لارښوونه پرمخ تلې، دا چې ځینې ژباړونکي به په بشپړ ډول له عربي ژبې سره بلد نه وو نو همدا ده چې ځینې عربي الفاظ او کلمات یې په خپله بڼه بلې ژبې ته لیږدولي او هماغه عربي الفاظ یې په ژباړه کې هم کارولي، د نومړو ژباړونکو له جملې څخه د څو تنو په یادونې بسنه کوو:
۱ـ جیرارډ اف کریمونا ( gerard of Cremona) نومړی دایټالیا اوسېدونکی وو، نومړي یواځې د عربي ژبې د سمې زده کړې په موخه یې په طلیطله کې اوسېدل غوره کړل او هملته ومړ، نومړي چې کله ژباړې ته مخه کړه نو
په یواځې ځان یې یو اویا (۷۱) علمي کتابونه له عربي څخه لاتیني ژبې ته وژباړل.
۲ـ ایډیالرډ آف باته ((ade lard of bath
نومړی ژباړن د بریطانیې اوسېدونکی او د عربي، ساینس او فلسفې لوی عالم وو، له عربي ژبې څخه یې پینځلس کتابونه لاتیني ژبې ته ژباړلي وو، نومړي د شام، سسلی او اندلس بېلابېلو سیمو ته له سفر وروسته بېرته بریطانیا ته ستون شو.
۳ـ رابرټ اف چیسټر ( ( Robert of Chester
په بریطانیه کې د عربي علومو د پرمختګ لپاره نومړي ډېرې هلې ځلې وکړې، نومړی په اندلس کې له زده کړووروسته خپل وطن ته ستون شو، نومړي عالم په کال ۱۱۴۰م کې لاتیني ژبې ته د قرآن کریم په ژباړلو کې له (آرک بشپ پیټر) سره مرسته وکړه، نومړي په کیمیا کې د الکندي کتاب، د الخوارزمي کتاب الجبر والمقابله، په اصطرلاب باندې رساله، د الزرقاء او الخوارزمي (زج) هیئت جدول او ځینې نور اړین کتابونه وژباړل.

کتاب (د الحاد ورستی پړاو) څخه اقتباس .

داسلامي تاریخ زړور سپاهیان او اتلان

د صحرا زمری

.د ايټاليا د دولت قاضی د صحرا د زمري
شهيد عمر مختار نه د اعدامېدو د فيصلې پر وخت سوال کوي.

آيا تا رشتيا د ايټاليا د دولت سره جنګ کاوه
ده وويل هو...
آيا تا زموږ خلاف خلک راپارول ...
ده وويل هو....
آيا ته د هغه عمل جزاء ته تيار يې کوم چې تا زموږ د دولت خلاف کړنې ترسره کړي...
ده وويل هو
آيا ته په دغه ټولو خبرو اقرار کوې
ده وويل هو
قاضی وويل د څومره وخته زموږ خلاف مبارزه کوې
ده وويل د څلويښتو کالو راهيسې..
آيا ته پر هغه څه پښيمانه يې چې تا ترسره کړي
ده وويل نه هيڅکله نه
آيا پوهيږې چې موږ تاته د اعدام سزا درکوو
ده وويل هو
قاضی وويل ډير خوابدی يم چې ستا د ژوند پايله داسې خطرناکه شوه
ده وويل زه خو د ژوند په دغه انجام باندې خوشحاله يم

قاضی وويل صرف مجاهدينو ته داسې خط وليکه
چې نور د ايټاليا خلاف مبارزه پريږدي نوموږ به ستا د اعدام پريکړه لغوه کړو او ډير اعزاز به درکړو
ده قاضي ته په قهر وکتل او ورته وې ويل
هغه ګوته چې د شهادت په وخت کي اشهد ان لااله الا الله واشهد ان محمدا عبده ورسوله ....
سره پورته کيږي هغه به هيڅکله داسي بزدلانه الفاظ ونه ليکي.

## د اندلسي ښځو عجيب خصوصيات:

په اندلس کي د مرابطينو د حکومت په وخت کي د مسلمانو غيرتي مېرمنو عجيب خصوصيات او ځانګړتياوي لرلې.
يو عرب عالم ليکي:
د مرابطينو په زمانه کي به که کومي مسلماني مېرمني د خپل ګاونډي په کور کي د هغوی توره تر خاور لاندي يا زنګ وهلي وليدل، نو د ګاونډي ښځو ته به يې (د هغوی د خاوند او د کور د سړيو د بې همتی پېغور ورکاوه).
ريشخند (پسخند) به يې پرې واهه.

او که به يې د خپل ګاونډي آس خوار او زار وليد، چي خاوند يې ساتنه او پالنه نه کوي، نو هغوی ته بې يې هم د بې هيمتی پېغور ورکاوه.

او که به کومي ښځي غوښتل چي بله ښځه وزوروي، نو ورته وبه يې ويل:
"ستاسي اس مي وليدی چي پر ځرمني يې خاورې پرتې او خوار ولاړ ؤ."

او که به مېرمنو پر يو او بل وياړ کاوه، نو ويل به يې:
"د ډېري مودې را پدې خوا مي له خپل خاوند څخه د توري او ډال له بوی پرته د بل شي بوی نه دی حس کړی."

که به مسلمانو مېرمنو داسي ځوان وليدی، چي پر هغه باندي د عطرو او خوشبويو نښې ښکارېدلې او يا به يې ځان غوړ کړی ؤ، نو ښځو به له هغه څخه د نکاح کولو په خاطر ځان ساته، او ويل به يې:
"داسي کس د واده کولو لپاره ښه نه دی."

ځينو به ويل:
"د واده کولو لپاره داسي ځوان مناسب نه دی، چي قدمونه يې د غزا په خاورو ګردمن نه وي."

که به ښځو داسي ځوان ولېد يا به پرې خبر شول چي هغه لمونځ نه کوي، يا هم له علماء کرامو سره ناسته پاسته نه کوي، نو ويل به يې:
"داسي کس نه ښائي چي زما د بچيانو پلار شي، مګر داچي په غوجل کي د حيواناتو خادم شي."

بناءً؛
د هغه وخت سړي ځکه د مېراني، زړورتيا، پاک لمنی او غيرت د بشپړو ځانګړتياو لرونکي وه، چي ښځو يې پوره مرسته ورسره کول.

د سلطان محمد فاتح له لوري د مکې شریف ته لیک:

د قسطنطینیې تر فتحې وروسته محمد الفاتح ټولو والیانو ته خطونه ولیکل چې په هغوی کې یو د مکې شریف هم وو. د لیک تر څنګ ئې تحفې هم ور ولیږلې. په خط کې تر تمهید وروسته لیکي چې:

"دا لیک د خوښې د دې خبر سره در استول کیږي چې سږ کال الله تعالی موږ ته داسې فتح راکړه چې داسې فتح سترګو نه وه لیدلې، نه به غوږونو د هغه په اړه اوریدلې وي، موږ مشهوره زمکه قسطنطینیه(استانبول) فتح کړه، تاسې د دې سترې فتحې اعلان وکړئ او د دې تر څنګ د حرمین الشریفین له اوسیدونکو، علماء کرامو، د صالحو ساداتو، زاهدانو، نیکو عبادت کوونکو، سترو مشائخو، شرفاوو، امامانو، کشرانو او مشرانو، بیت الله چې دالله مضبوطه رسۍ ده هلته په عبادت مصروفو کسانو نه، د زمزم د ساتونکو، د مقام ابراهیم محافظینو او د رسول الله ﷺ د ګاونډیانو نه په عرفات کې د سلطنت لپاره د دعاء غوښتنه وکړئ. له الله تعالی نه د مرستې او برکت دعاء وکړئ، زه د لیک سره تاسې ته یو څه خصوصي ډالۍ در استوم.
۲۰۰۰۰ د خالصې طلاء خښتې چې له همدې غنیمت نه ستاسې لپاره ځانګړې شوې دي، ۷۰۰۰ خښتې د فقراوو لپاره دي، ۲۰۰۰ د ساداتاتو نقباوو لپاره دي. ۱۰۰۰ خښتې خاص د حرمین الشریفین د خادمانو لپاره دي. نورې د مکې مکرمې او د مدینې منورې د مسکینانو او محتاجو کسانو لپاره دي. هغه د دوی د ضرورتونو مطابق د دوی تر منځ تقسیم کړئ. له دوی نه زموږ لپاره د دعاوو غوښتنه وکړئ.

د مکې شریف محمد الفاتح ته د دې لیک ځواب ولیږه:
"په ډیر ادب سره مې ستاسې لیک پرانیستو او د مبارکې کعبې په مخکې کې مې د حجازیانو او عربانو تر منځ ولوستو، په دې لیک کې هغه قرآني آیتونه وو چې شفاء او د مؤمنانو لپاره رحمت دي. د خاتم الانبیاء ﷺ د معجزې له ظهوره هم خبر شوو چې د "قسطنطینیې" فتح ده، چې د سترو دیوالونو او خوندي توب په اړه ئې د زمکې انسانان مثالونه ورکوي، موږ پر دې کار د الله حمد و ثناء وویله ځکه دا ډیر ستونزمن کار وو. موږ پرې خوشاله یو. تاسې زموږ د پلار نیکونو تاریخ ژوندی کړ. د دې مقدسې زمکې د اوسیدونکو سره د دې مینې له اظهار نه به زموږ د نیکونو ارواوو ته اطمینان ور په برخه شوی وي، الله دې دوی ته په لوړو جنتونو کې ځای ورکړي.

مصادر: محمد الفاتح / ډاکټر جمال عبد الهادي

د صحرا زمرى
سيد عمر بن مختار په ۱۸۶۲م زيږديز کال د ليبيا هيواد طبرق ته څيرمه نږۍ ته سترګې غړولي، لومړنۍ زده کړې يې د خانقا په مدرسو کې سرته رسولي ، دا مدرسې د افريقا د صوفيانو مجاهدينو له لوري اداره کيدلې او ددې ډلې مشر سيد محمد بن علي سنوسي رحمة الله عليه وو، تر هغه وروسته عمر مختار د لوړو زده کړو لپاره د جبل الاخضر په سيمه کې د القصور خانقاه مدرسې ته لاره پيدا کړه او هلته يې د استادانو څخه د زده کړو وروسته خپله هم د ښوونکي په دنده پيل وکړ چې د ۱۹۱۱ زيږديز پورې همالته بوخت وو.

په ۱۹۱۱ زيږديز کال کې ايټالوي ښکيلاک پر ليبيا حمله وکړه او د خلګو ازادي يې ونګوله عمر مختار خانقاه پريښوده ، د پرديو د ايستلو لپاره يې وسله پورته کړه او د ايټالوي استعمارګرانو په وړاندې يې مجاهدين را غونډ کړل.
يوازې په په شلو مياشتو کې د مقاومت او استعمار تر منځ دوه سوه درې شپيته (۲۶۳) ځله نښتې وسوې چې هر ځلې دښمن ته د عمر مختار دوی له اړخه درانه ځاني او مالي زيانونه واوښتل دا ځکه چې د سيمې د صحرا سره پوره بلد و او د دښمن د را ګيرولو ښه تاکتيکونه يې جوړولی شول.
جګړه وغځيده عمر مختار پوره شل کاله له ايټالوي استعمار سره مبارزه وکړه ، په وروستي ځل جګړه کې چې د دښمن د قواو او د عمر مختار د ډلې تر منځ ونښته د ۱۹۳۱ زيږديز کال د سپتمبر په يوولسمه نيټه د پنځوسو په شاوخوا کې مجاهدينو په دښمن بريد وکړ له سختې جګړې وروسته ډير مجاهدين په شهادت ورسيدل تر څو دښمن د عمر مختار د سورلۍ آس ټپي کړ او عمر مختار يې په سخت زخمي حالت کې ونيوو او دا په داسې حال کې وه چې دښمن هيڅ نه پوهيده چې دا عمر خوړلی سپين ږيری چې دوی نيولی دا به د مجاهدينو زړور مشر عمر مختار وي.
سره له دومره ډير عمر ، کمزوري او زخمي بشر دښمن د صحرا دغه ميړنی زمری په لويو لويو ځنځيرونو وتاړهٔ ځکه هره ګړی يې د ځان کاږلو او خلاصولو شونتيا وه ، د ډيرو ربړونو ، پوښتنو او ګرويږنو وروسته يې په صحرايي محکمه کې د اعدام پريکړه ورباندې وايسته ، کله چې يې د وروستۍ غوښتنې پوښتنه ترې وکړه هغه دغه ايت شريف تلاوت کړ: (انا لله و انا اليه راجعون - ژ: موږ د الله تعالی يو او هغه ته ور ګرځو)
د ۱۹۳۱ د سپتمبر په ۱۶ مه او د ۱۳۵۰ هجري سپوږميز کال د جمادي الاول په لمړۍ نيټه په عام محضر کې د ماسپښين په پنځو بجو په دار وځړول سو..

## د عمر مختار د ځینو یادښتونو پښتو ژباړه ستاسو په چوپړ کې ده :

«که ټوپک زما توره ماته کړه ، سهي ده خو باطل مې حق نه سي را ماتولی ...»

«هغه وارونه چې ستا ملا در ماته نه کړي ، پوه سه چې تر هغه یې هم پیاوړې کوي..»

«له ما وروسته به نور نسلونه هم ستاسو ورمیږونه قاتوي خو یاد ساتئ چې زما ژوند به زما د جلادانو تر ژوند ډیر اوږد وي...»

«ظلم له مظلومه اتل جوړوی ، اما جنایت که څه هم سرته رسونکی یې ځان ډیر پیاوړی ښکاره کړي خو په حقیقت کې یې زړه له بې غیرتی ریږدي»

د اندلس د فتحې پر مهال د طارق ابن زیاد خوب !

د طارق ابن زیاد دا لوی لښکر د اوه زره سربښدونکیو مسلمانانو څخه جوړ وو، هغوی له طجنه څخه اندلس ته د فوځیانو د رسولو لپاره له څلورو سترو کښتیو څخه کار واخیست، چې د فوځیانو په وړولو یې څو ورځې تیرې کړې، تر دې، چې ټول فوځ یې له دغه ساحل څخه چې نن ورځ په جبل الطارق باندې مشهور دی پورې کړ او اندلس ته یې ورساوه.

په روایاتو کې راځي، چې کله طارق ابن زیاد په کښتی کې سپور شو؛ نو خواب ورباندې غلبه وکړه او ویده شو، په خوب کې ګوري، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم، راشیدین خلفا او د هغه مبارک اصحاب له تورو او نیزو سره مسلح د بحر پر سر باندې را روان دي، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د طارق ابن زیاد تر څنګ تیریده؛ نو ورته یې وویل: طارقه! ولاړ شه! او په بیړه وړاندې را ځه! طارق ابن زیاد وایي، چې ومې کتل؛ نو هغه صلی الله علیه وسلم او ورسره ملګري له موږ څخه وړاندې روان دي، چې اندلس ته داخل شول. طارق ابن زیاد چې سترګې وغړولې؛ نو سخت خوشال شو او فوځ ته یې د اندلس د فتحې زیری ور کړ، وروسته یې دغه خوب خپلو ملګرو ته بیان کړ، چې په دې زیري سره د هغوی حوصلې خورا لوړې شوې.
د هغه دا خبره زیاته مشهوره ده، چې کله یې خپل ټول لښکر له ساحل څخه پورې کړ؛ نو کښتیو ته یې اور ورته کړ؛ ځکه چې له لښکر سره تر فتحې او یا شهادت باید بله درېیمه لار نه وي...

دنیا مرے آگے/ علامه تقي عثماني
ژباړن
عبدالصمد شاکر

اسلام او امت پر داسي فوځيانو نازيږي:

دا عکس د عثماني خلافت د فوځي "سيد علي" دئ، او دا پيښه د ۲۵-مارچ-۱۹۱۵م ده چي کله د فرانسې، برطانيې، روسيې، آستريا او نيوزيلېنډ فوځونو د خلافت پر مرکز بريد وکړ، دوهم عکس د برطانوي بحري بېړۍ "اليزابيت" دئ چي همدې فوځي په خپل قوت او همت سره تباه کړه.

سيد علي د "کېلي پولي" په جزيره "روملي" کي د توپخاني مسئول وو، د دې توپخاني لفټر(چي د توپ مرمۍ به ئي نقل کولي) د دښمن په بمونو له منځه تللی وو، نو ځکه هم سيد علي د ۲۱۵-کلو په اندازه وزني مرمۍ خپله پر شا پورته کولي او د توپ خولي ته به ئي اچولي، دا دی وو چي "اليزابيت" په نوم ستره بېړۍ ئي په نښه وه او بلاخر ئي ډېره سورۍ کړه او ياده بېړۍ له جنګي ساحې پر شا شوه.
يادونه: د دې بحرۍ بېړۍ پر مخ به تل نږدې ۶۰-طيارې موجودي وې.

په دې جګړه کي د اسلامي فوځ ۵۶۰۰۰-شپږ پنځوس زره ځوانان په شهادت ورسېدل، ۲۰۱۰۰۰۰-دوه لکه لس زره ځوانان په شفاخانو کي د شديدو زخمونو له امله وفات شول، ۱۱۰۰۰-يوولس زره فوځيانو لادرکه شول او ۹۷۰۰۰-اوه نوي زره کسان ټپيان شول، خو الحمد لله اسلامي مېړني فوځ تر پايه استانبول په جرأت سره وساته او صليبي فوځ ئي تېښتي ته اړ کړ.

عثماني فوځ په دې جګړه کي د صليبي فوځ ۲۵۲۰۰۰-دوه لکه دوه پنځوس زره عسکر د جهنم په لور ولېږل، د ترک پرېس د مجلې په وينا په دغه کال د خلافت د فوځي پوهنځيو نه هيڅ مصل فارغ نشو، ځکه ټول په شهادت ورسېدلي وو.

د امت بچيانو ته د دې ستري جګړي په اړه په تعليمي نصاب کي څه نه ويل کيږي؛ چي څنګه د امت مېړنيو تنکي ګلانو دا ستره صليبي حمله په شا وتمبوله، دوی د استانبول د بيا ځل قبضې خوب د ځان سره راوړی وو. له بده مرغه چي زموږ نصابونه د نيپولين او اروپايي جګړو تاريخ په زير او زور سره بيانوي.

د معلوماتو مصادر: ترک پرېس
کتاب(د آخري جګړي شهداء) ليکوال: ترک مؤرخ "اُنس دمير"

د عثماني خلافت څلور ديرشم خليفه

سلطان عبد الحميد الثاني په وخت کې د فرانسا يو مشهور ليکوال د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په شان کې د سپکاوي په آړ د يو کاټوني ډرامې وړاندې کولو لپاره تياری ونيو، تر څو يې د فرانسا او اروپا په ډرامه ځايونو کې د خلکو پر مخ وړاندې کړي، کله چې د مسلمانانو حاکم "دوهم عبد الحميد" خبر شو سمدلاسه يې خپل فوځ، واليانو، قاضيانو او سياسي مشرانو ته د جنګ په جامه کې د تياريدو امر ورکړ، خپله يې هم د جنګ لباس په تن کړ او پخپل وطن کې د فرانسې سفارت مخې ته ورغلل، کله چې د فرانسا سفير يا قونصل د مسلمانانو دغه رعبدار حالت وکوت له ورايه پوه شو چې اوس به يې بندي کوي او بيا به ورڅخه ددغې ډرامې په اړه سخت تحقيق کوي، وار له مخه يې د مسلمانانو حاکم ته خبر ورکړ چې ستاسو خبر ماته راورسيد، بيا يې فوراً فرانسې ته خبر ورکړ تر څو دغه ډرامه په همدې ځای پای ته ورسوي کنه نو مسلمانان همدا اوس په فرانسا باندې سختې حملې کولو ته تيار دي. هماغه وو چې فرانسويانو ډرامه بنده کړه او بيا يې د داسې حماقت جرأت ونکړ.
سلطان عبد الحميد الثاني له ۱۸۷۶م څخه تر ۱۹۰۹م پورې په عثماني خلافت کې د مسلمانانو خليفه وو، چې په ۱۹۱۸م کال کې وفات شوی.

د حضرت عمر رضی الله عنه د يوه والي حالت :

يوه ورځ د وخت عادل خليفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د حمص اوسېدونکو څخه غوښتنه وکړه ، چې د بېوزلو او مسکينانو نوموونه ورته وليکي ، تر څو د مسلمانانو له بيت المال څخه ورته خپله برخه ورکړي ، کله چې د بېوزلو نو مونه وړورسېدل په هغوی کې د حمص د والي (سعيد بن عامر ) نوم هم وو ، د دې نوم په کتو سره حضرت عمر رضی الله عنه حيرانه شو ، چې د حمص والي د حمص له فقيرانو څخه دی !
د حمص له خلکو يې د هغه د فقر په اړه پوښتنه وکړه .
هغوی وويل : هغه خپل ټول مال په فقيرانو ووېشه ، او ويل يې ( زه څه وکړم زما څخه خو د الله تعالی پر وړاندې د بېوزلو په اړه پوښتنه کيږي ) .
بيا حضرت عمر رضی الله عنه د خلکو څخه پوښتنه وکړه ايا تاسو کومه نيوکه هم پرې لرئ ؟
هغوی وويل : هو درې عيبونه لري (1) زمونږ سره يوازې سهار ليده کاته کوي (2) د شپې يې مونږ نه وينو (3) او په اونۍ کې يوه ورځ نه وي .
کله چې عمر رضی الله عنه له سعيد څخه د دې عيبونه په اړه پوښتنه وکړه ، هغه وويل : اې اميرالمومنينه !
لاملونه يې دا دي ، دا چې زه يوازې له دوی سره سهار ليده کاته کوم وجه يې دا ده ، چې د خپلې کورنۍ په خدمت کې مصروف يم ، زه کوم خادم نه لرم او ميرمن مې ناروغه ده .
او د شپې ځکه نه ښکارم چې ورځ مې د دوی د خدمت او اړتياوو پورا کولو لپاره ځانګړې کړې ده او شپه مې د خپل پروردګار د عبادت لپاره .
او دا چې په اونۍ کې يوه ورځ نه يم ، په دې ورځ کې خپلې جامې مينځم بيا يې د وچېدو انتظار کووم ، ځکه همدا يوه جوړه لرم ، حضرت عمر رضی الله عنه چې کله د والي خبرې واورېدې په ژړا شو .
دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مدرسې تربيه شوي شاګردان ول له الله تعالی څخه ويرېدل او په خپل هر کار کې يې هغه حاضر ګاڼه .

داسلامي تاريخ زړور سپاهيان او اتلان

د صحرا د زمري 88 تلین !

له نن 88 کاله مخکې 16/سیپټمبر /1931م، سهار نه بجې د "بن غازي" جنوب ته "سلوق" نومي ځای کې ایټالوي استخرابګرو (استعمارګرو) د "صحراء زمری" او "د شنه غره" اتل مجاهد عمر المختار رحمه الله اعدام کړ. رحمه الله تعالی.

نوي نسل ته د مسلمان امت د جهاد او مقاومت د تاریخ سرخېلان وروپېژنئ، چې په هغو کې د ځان ساتنې او له یرغلګرو سره د مقاومت ځواک غښتلی پاتې شي، که څه هم سیکولر فکره مخلوق له دې نومونو سره حساسیت لري خو تاسو دې خبر يئ چې غربیان اوس هم د صلیبي جګړو د قومندانانو مجسمې جوړوي او د لویو ښارونو په چوکونو کې يې نصبوي.

داراز د غرب له وحشتونو نوی نسل خبر وساتئ، ځکه زموږ کور کور ته د هغوی رسنی د غرب د عادلانه (!) نظام د ثنا او ستاینو سندري رارسوي او د هغوی وحشتونه پټوي.

استاد حامد افغان

عمر مختار . هو، هماغه د صحرا زمری عمر مختار.
په ۱۸۵۸م کال د بطنان په برقه نومي کلي کې زیږېدلی. ایټالویانو چې برقه او طرابلس لاندې کړل، نو د عمر مختار ولس يې پر وړاندې پاڅون وکړ او د خپلې ازادۍ لپاره يې مبارزه پيل کړه. غازي عمر مختار هم د همدې لښکر ملګری شو. د یوې ډلګۍ له مشرۍ تر بشپړ لښکر مشرۍ ورسېد. د کلیوالو مجاهدینو پیاوړې لښکرې يې جوړې کړې. عمر مختار د ایټالوي اشغالګرو لپاره پر یوه خونړي سرټي واووښت. اشغالګرو هڅې پيل کړې ترڅو په کوم چل عمر مختار له مقاومته لاس پر سر کړي. د پیسو، منصب او مشرۍ بېلا بېل وړاندیزونه يې ورته وکړل، خو عمر مختار ازادي او خپرواکي غوښته.
عمر مختار د ایټالوي پوځیانو پر خلاف توندې جګړې وکړې. د ایټذلوي پوځ يو جنرال، چې خپله يې د عمر مختار پر خلاف په جګړو کې برخه اخیستې، وايي: موږ ډېر ځله د عمر مختار په خلاف داسې عملیات پلان کړل چې موږ به بشپړ باوري و، چې نوموړی به دا ځل حتماً وژنو او یا به يې ژوندی نیسو. خو د دې خلاف به هر ځل په پوره بریالیتوب زموږ له دام څخه ووت.
عمر مختار د صعب المسالک نومي د یوې دښتې په یوه ګڼ ځنګله کې له څلوېښتو نورو مجاهدینو سره د دښمن په محاصره کې را ګیر شو. دلته هم له دښمن سره د یوې سختې جګړې وروسته د محاصرې له کړۍ روغ ووت، خو له دې سیمې په وتلو لړ. وړاندې د ایټالوي پوځ له یوې بلې ډلې سره په جګړه وا ووښت. دلته يې هم تر دې مقاومت وکړ چې له ملګرو سره يې وسلې ختم او ټول شهیدان شول. عمر مختار په یوازې ځان مقاومت ته دوام ورکړ، اس يې زخمي شو او پر ده له پاسه را وغورځېد او لاس يې زخمي شو، د دښمن شمېر پرې را زیات شو او بلاخره يې ژوندی ونیو.
څو ورځې وروسته يې د یوې تمثیلي محکمې لپاره په داسې حال کې میدان ته را ووست، چې لاسونه يې ولچک او ګڼ پیره داران يې په دواړو خواوو کې روان و. د ۱۹۳۱م کال د سپتمبر پر ۱۶مه د چهار شنبې په سهار يې دغه د مېړانې او قهرمانۍ غر، د ازادۍ مبارز او پیاوړی مجاهد سید عمر مختار اعدام کړ. هغه ته يې له وېرې ژور په سیمنټو پوخ قبر جوړ کړ او تر اوږدې مودې يې پیره داران پرې درولي و.
هو، نه خو د دښمن زور او زر له مبارزې را وګرځاوه، نه خپلې کمزورۍ او ناچارۍ په شا کړای شو، نه خو د دښمن ډول ډول وړاندیزونو ته تسلیم شو او نه هم له داره ووېرېد. په یوه نړۍ مېړانه يې د کفر او اشغال پر ضد مبارزه وکړه او په هسکه غاړه تر داره ولاړ.

سيف الدين قطز او د مغولو د نه ماتېدونکي فلسفې پای .

ليکوال : طارق محيايي
ژباړن : عبدالسميع درانی

ښايي د ځمکې له پيدايښت نه بيا تر اوسه، داسې ستر ناورين نه وي پېښ شوی لکه په فارس او مسلمان امت د مغولو تېری!
په اسلامي نړۍ د مغولو يرغل داسې وحشيانه يرغل وو چې په پايله کې يې ميليونونه کسان مړه، زرګونه ښارونه او ابادۍ ورانې او قيامت يې په دا دنيا خلکو ته ور وښود.
د مغولو ځينې جنايتونو ته کتنه:
د ابن اثير له نظره د مرو ښار د وژل شويو شمېر (۷ سوه زره) او د جوزجاني په خبر (۲,۴) ميليونه . د جوزجاني په وينا د هرات ښار د وژل شويو شمېر په کال ۶۱۹ ه. ق کې (۱,۴) ميليونه او د سيفي په وينا (۱,۶) ميليونه . چې په ځينو حالاتو کې آن پر حيواناتو هم رحم نه کيده او له يوې مخې قتل عام روان ؤ. لکه نيشاپور کې چې د چنګېز د زوم د وژل کېدو له امله د مړو شمېر (۱,۸) ميليونو ته ورسېد. همدا شان د باميان ښار هم له قتل عام سره مخ شو، آن تر دې چې جنين د مور په بطن کې او ګيدړې او ليوان په غره کې ژوند ته پرېښنودل شول؛ ځکه چې هلته د چنګېز لمسی وژل شوی وو. په دې ويرجن حالت کې يوازې د خوارزم اوسېدونکې وو چې دوی وکړای شول د څلورو مياشتو لپاره د چنګېزي لښکر پر وړاندې ودرېږي او له ځينو سيمو هغوی پر شا وتمبوي.
د خوارزمي چارواکو له ډلې يو هم سلطان جلال الدين محمد خوارزمشاه دی چې په ډېره مېړانې او فداکارۍ يې وکولای شول چې په ځينو سيمو کې په مغولي لښکرو حملې وکړي او هغوی ته ماتې ورکړي.
خو د افرادو تر منځ اختلاف او د هغوی بيلوالی، د صليبي يرغلګرو يرغل او د اسماعيلي ملحدينو خيانت؛ فضاء داسې برابره کړه چې سلطان جلال الدين ونه توانيږي ترڅو خپلو کاميابيو ته دوام ورکړي.
پورته ذکر شوي جنايتونه يوازې په فارس کې واقع شول، دوی چې له اسلام او مسلمانانو سره بې اندازې کرکه او دښمني درلوده؛ په هماغه اندازه يې په اسلامي نړۍ کې ظلمونه هم وکړل او د فارس څو چنده يې وکړل.
د سيف الدين قطز زوکړه او اسارت:
د جنګ په دې بل اور کې د سلطان جلال الدين د خور په کور کې د محمود په نوم ماشوم نړۍ ته سترګې وغړولې. په همدې وخت کې مغولو په خوارزم حمله وکړه چې په ترڅ کې يې اکثريت خوارزميان ووژل شول او څو د ګوتو په شمير کسان ژوندي پاتې شول، چې محمود له څو نورو ماشومانو سره د مغوليانو لخوا يرغمل شو. اسارت او کوچنيوالي د محمود قطز په

همت کې کمی را نه وست او دا نوم يې چې د داړونکي سپي په معنی دی؛ هم د مغولو لخوا پرې کېښودل شو. مغولي ځواکونو چې د سلطان جلال الدين او دده تر منځ په نسبت او دده د شخصيت په اړه نا خبره وو؛ دی يې هم د نورو برمته شويو کسانو په څېر د خرڅلاو لپاره ښار ته يوړ، او په دمشق کې د ابن الزعيم په نوم کس واخيست. قطز سره له دې چې کوچنی هم وو؛ ويې کولای شول چې عربي ژبه، قرانکريم او لومړني اسلامي علوم زده کړي. تاريخ روايت کوي چې يوه ورځ د قطز ښوونکي قطز وواهه؛ ده يې هم په عکس العمل کې پوره ورځ خواړه نه خوړل، ښوونکی يې ناچاره شو او ده ته يې حاج علي فراش د تسلی لپاره ولېږه، فراش وايي چې ما قطز ته وويل چې آيا ته د ښوونکي د وهلو له امله دومره ژاړې؟
قطز وويل: هېڅکله نه، بلکې ددې له امله ژاړم چې هغه زما پلارګنی ته سپکې سپورې وويل، حالانکه چې هغوی تر ده نيک او بهتر دي.
فراش وايي ما قطز ته وويل چې ستا پلار څوک دی؟ آيا هغه يو کافر نه ؤ؟ راته کړه يې: په الله تعالی لوړه کوم چې زه مسلمان د مسلمان زوی يم. مودود مې پلار، خوارزمشاه مې ماما او د شاهانو شهزاده يم.
قطز په کوچنيوالي کې تقريبا ټول جنګي فنون زده او په توره وهلو او د آس په سپرلۍ کې خاص مهارت درلود.
قطز او واک ته رسېدل:
د ملک نجم الدين د واک په دوران کې چې دی د سلاح الدين ايوبي د کورنۍ څخه ؤ؛ ډيری برمته شوي ترکان مصر ته راوړل شول چې له همدې ډلي څخه عزالدين ايبک ترکماني قطز وپېرود او مصر ته يې راوړ. د ايوبيانو د سلطنت په پای کې د درباريانو او قومندانانو ترمنځ اختلافاتو دې ته لاره هواره کړه ترڅو غلامان (مماليک) واک ترلاسه کړي.

د مماليکو واک ته د رسېدو داستان له دې ځايه پيلېږي چې کله نجم الدين ايوب ومړ؛ د هغه زوی تورانشاه واک ته له رسېدو سره جوخت، له خپلې ميرې( د پلار مېرمن) سره يې ناړه چلندپيل او هغه مماليک چې پلار يې مصر ته راوړي وو؛ په هغوی ظلم او زياتی پيل او زيات شمېر يې ووژل. دا کار ددې سبب شو چې شجرۀ الدر( د نجم الدين ميرمن) مماليک د هغه په ضد راپورته او هغوی تورانشاه وواژه. د تورانشاه د وژلو په پايله کې د لومړي او وروستي ځل لپاره تر دا مهال، په مصر کې يوه ښځه چې د نجم الدين ميرمن وه؛ واک ته ورسېده. که څه هم د دربار لويان او فوځونه د شجرۀ الدر په حاکميت په يوه خوله وو؛ خو دې ونه کولای شول تر دريو مياشتو زيات حکومت وکړي. ځکه چې دې ته دا ښه وبرېښېده چې له واکه لاس پر سر او واک عزالدين ايبک ترکماني ته وسپاري او له هغه سره واده وکړي، چې له دې سره د ايوبيانو حکومت پای ته ورسېد او د مماليکو حکومت پيل شو.

ايبک چې د قطز له کلکې ارادې او ټينګ ايمان څخه خبر ؤ؛ هغه يې د فوځونو قومندان او لومړی معاون وګماره.

عزالدين ايبک تر يوې مودې واک درلود، خو کله چې دده مېرمن(شجرۀ الدر) متوجه شوه چې دی پرې بن( دوهمه ښځه) راولي؛ د مماليکو د يوې ډلې په واسطه يې دی هم وواژه. د ايبک تر وژلو وروسته د ده پنځلس کلن زوی نورالدين علي واک ورسېد.

د دې پنځلس کلن ځوان واک ته رسيدل، د بغداد وراني او د عباسي خليفه وژل کېدل د هلاکوخان د فوځونو پر مټ هم مهاله ؤ، آن تردې چې مغولي لښکر د مصر دروازې ټکولې. په دې وخت کې درباريانو او مخورو و انګېرل چې نورالدين علي نشي کولای چې اداره او دولت په سمه توګه پرمخ بوځي؛ هغه يې له واک لرې او پر ځای يې قطز ته واک تسليم کړ. قطز هم په بېړه، خو په تدبير د دولت او هېواد چارې منظمې کړې، په شام او مصر کې خپل سيالان پر ځان راټول او خپل لښکر سره يې يوځای کړل. ورسته يې د خلکو او سرتېرو د مورال لوړولو باندې کار پيل او د لومړي ځل لپاره يې هغوی د مغولو پر ضد ودرېدلو ته چمتو کړل.

قطز ته د مغولو استازي راتلل:
مغول چې د مصر تر دروازو پورې را رسېدلي وو؛ خپل استازي يې له داسي يو ليک سره چې ټول بد،رد او قطز ته ګوتڅنډنې پکې ليکلې وې، قطز ته واستول.
د ليک متن په لاندې الفاظو مشتمل وو:
واک او ځواک مونږ ته وسپارئ! مخکې له دې چې زمونږ له زوره خبر شئ. حتما به زمونږ له لورې د قتل عامونو او ښارونو ورانولو له پېښو خبر ياستئ، نو چېرته او څرنګه به تښتئ؟ په داسې حال کې چې مونږ درپسې يو، زمونږ د تورو له ګذارونو نشئ بچېدلای. زمونږ شمېر لکه د شګو دومره دی، څوک چې له مونږ سره تقابل کوي؛ پښيمانه کيږي. نو دا واورئ چې خپله ځانونه له خپله لاسه د هلاکت کندې ته مه ټېل وهئ.
سره له داسو ګوتڅنډنو او اخطارنو قطز يوه دمه هم ونه لړزېد او نه يې په همت کې کمی راغی، ځکه هغه داسې مسلمان وو چې د الله تعالی په لار کې يې شهادت د دين او انسانيت دښمنانو ته تر تسلمېدو غوره ګانه، هغه دا پټيله چې په هر حال کې يوه نه، يوه نېکي(إحديالحسنيين) ترلاسه کوي. يا به کامياب او غالب شي؛ يا به د شهادت لوړې درجې ته ورسيږي.
له بل لورې؛ قطز د خوارزمي پاچاهانو له کورنۍ او سلطان جلال الدين يې ماما وو؛ سلطان جلال الدين هغه څوک وو چې د زمري غوندې زړه يې درلود او د مغولو په مقابل کې يې تر ډېره پورې په ميرانه ودريده، آن له هغوی څخه يې ځينې ښارونه بېرته ونيول. قطز له وړاندې پوهېده چې د مغولو نه ماتېدل هسې يوه کيسه او افسانه ده. او د مغولو ماتې يې په کوچنيوالي ليدلې وه. قطز هم د مغولو استازي بنديان او د هغوی ليک يې څيرې کړ، او د خپلو سرتېرو د مورال د لوړاوي په پار يې استازي له تېغه تېر او د ښار په دروازو را ځوړند کړل.

د مغولو پر وړاندې د لښکر او تجهيزاتو تياري:

قطز ددې پر ځای چې په مصر کې پاتې او د مغولو پر وړاندې دفاعي حالت اختيار کړي؛ ښه يې دا وبلله چې مخکې له مخکې تياري ونيسي او د مغولو پر وړاندې د شام پر لور تعرض وکړي.
هغه داخلي جبهه له هغو کسانو پاکه کړه چې ده يې په همت او شجاعت کې شک درلود، او د هغوی تشه يې په خپلو اعتمادي کسانو ډکه کړه؛ وروسته يې په قاهره او خپل نورو تر واک

لاندې ښارونو کې د جهاد اعلان وکړ او خلک يې جهاد ته رابلل.
د لښکر د تجهيز لپاره يې زياتې منډې ترړې وکړې او په خلکو يې نوي ماليات وضع کړل، ولې ډېرى علماوو چې د وخت زبردست عالم، علامه عز بن عبدالسلام هم پکې موجود وو؛ د قطز له دې کار سره مخالفت وښود او له ده يې غوښتنه وکړه چې جنګي مصارف دې د مماليکي قومندانانو له شتمنې څخه تعين کړي، ترڅو له قومندانانو سره بې له آس او وسلې نور څه پاتې نشي؛ او که بيا هم مصارف کافي نه وو، بيا دې په خلکو ماليات وضع شي.
قطز چې کله متوجه شو چې نوموړى فرمان په ځينو قومندانانو درونډ پرېوځي؛ هغوى ته يې داسې خطاب وکړ:
اې د امت سرلارو! يو وخت داسې وو چې تاسو د بيت المال له مال څخه ګټه اخيسته، خو اوس له جهاد څخه پر شا کېږئ؟ زه جهاد ته تيار او روان يم، څوک چې راسره ځي؛ بسم الله کړئ او هغوى چې له جهاد تللو څخه مخ اړوي، الله تعالى پرې خبر دى او د مظلومو مؤمنانو آه يې پر خپله غاړه!
د قطز دې خبرو پر قومندانانو ژور تاثير وکړ او هغوى هم ټول پر يوه خوله شول او جهاد ته تيار شول.
قطز له لښکر سره له مصره ووتلو چې په لاره کې د شام لښکر ورسره يو ځاى او غزې ته ورسېدل.
قطز د لشکر د مخکې برخې لپاره ( بېبرس) وټاکه، چې ډېر باهمته کس او د مورال لوړولو چل او ول يې زده ؤ. مخکې تر دې چې جنګ شروع شي؛ بېبرس د څو تنو سرتېرو په ملتيا د مغولو په لومړۍ کرښه بريد وکړ او هغوى ته يې درنه مرګ ژوبله واړوله. د بېبرس دې کامياب جنګي تکتيک اوضاع داسې برابره کړه چې هغه صليبي يرغلګر چې په ځينو ځايو کې يې حضور درلود؛ دې ته مجبور کړل چې له مسلمان لښکر سره داسې عهد وکړي چې د مسلمانانو پر وړاندې به د مغولو هېڅ راز مرسته نه کوي. قطز هم هغوى ته ګوتڅنډنه وکړه چې د مغولو سره د مرستې په صورت کې به مسلمانان اول په هغوى حمله کوي.

## د عين جالوت جګړه:

د ۶۵۸ه.ق کال د روژې مياشتې په ۲۶مه د جمعې ورځې په سهار د قطز او مغول لښکر د عين جالوت په سيمه کې سره مخامخ شول، او سخته نښته رامنځته شوه؛ د جګړې تر پيلېدو لږ شيبه وروسته د مغولو فوځونو لوړ ځايونه په خپله ولکه کې راوستل او له دې سره دوى وتوانېدل له چپ اړخه د مسلمانانو په ښي اړخ حمله وکړي؛ او مسلمانانو ته درنه مرګ ژوبله واړوي؛ دا کار ددې لامل شو چې مسلمان فوځ له ګډوډۍ سره مخ او نژدې وه چې د مسلمانانو د بريا وروستۍ هيله له خاورو سره خاورې او په ترڅ کې يې نړۍ له نورو وحشتونو سره مخ شي. چې نابېره سيف الدين قطز له خپل آس څخه ځمکې ته راکوز شو؛ خپله خولۍ يې پر ځمکه کېښوده او دا نعره يې وويله: واه اسلاماه، واه اسلاماه!
دده د نعرې په اورېدلو سره دده فوځ پر ده را چاپېر شو او په ټول توان يې په مغولو حمله وکړه، هغوى يې پر شا وتمبول. قطز تکراراً ځان سره دا دعا لوستله: (يا الله انصر عبدک قطز على التتار) يعنې اې الله د مغولو پر وړاندې د قطز ياري وکړه.
د مسلمانانو په دې کاري بريد کې د مغولو سرلښکر (کتبغا) ووژل شو او مغول د شمال پر لور پر شا شول. مغولو بيا خپلې لښکرې منظمې کړې؛ خو سيف الدين قطز هغوى پسې تعقيب

کړل، له ساعتونو جګړې وروسته مسلمانانو خپل برى يقيني کړ او په نتيجه کې مغولو خپل تر ټولو لوی شکست په سترګو وليد؛ او دا ستره ماته دوی ته د نورو ماتو پيلامه شوه.
هر کله چې سيف الدين قطز دوی ته ماتې ورکړه؛ له خپل آس څخه را ښکته او د الله تعالى د مننې په پار يې هغه ته پر ځمکه سجده ولګوله.
د جالوت له کاميابه سوبې وروسته د مماليکو لښکر چې قومانده يې بيبرس او سيف الدين قطز پر غاړه لرله؛ د مغولو په تعقيب پسې شول، دمشق او حلب يې له هغوی بېرته ونيول، او د هغوی بې موراله لښکر له شام څخه تېښتې ته اړ شو.
که څه هم د جالوت سوبه د مغولي لښکر د ختمولو نه وه، خو د مغولي لښکر لپاره د نورو ماتو زيرى ورکونکې وه؛ چې دې کار ته له قطز ورسته بيا بيبرس دوام ورکړ. د جالوت سوبې اهميت په دې کې دی؛ چې دا سوبه د مغولو د حملو وروستۍ هڅه وه. مانا دا چې وروسته له دې کاميابې سوبې مسلمانانو تعرضي او مغولو دفاعي حالت اختيار کړ.
دې جګړې کې د مسلمانانو برى ظاهراً لکه د مسلمانانو د نورو فتوحاتو په شان مالومېږي؛ اما د سيف الدين قطز رهبري او په دې جګړه کې د هغه برى په اسلامي تاريخ کې خاص ځای او ارزښت لري، ځکه چې سيف الدين قطز په داسې يو وخت کې د مسلمانانو رهبري وکړه چې له دريو نه دوې برخې مسلمانان په اور سوزېدلي او بې اندازې کړېدلي وو. ده مسلمانانو ته نجات ورکړ او د مغولو په لاس د نورو مسلمانانو له وژلو يې مخنيوی وکړ.
سيف الدين قطز د مغولو نه ماتېدونکې ستراتيژي چې له کلونو يې راج چلېده؛ ماته او په مسلمانانو کې يې دا باور رامنځ ته کړ چې د ايمان په زور او د الله تعالى په نصرت پر هر دښمن برى ممکن دی. سيف الدين قطز د مغولو تعرضي ستراتيژي په دفاعي هغې بدله او د هغوی شان او شوکت يې له خاورو سره برابر کړ.
د تأمل او پند خبره دا ده چې څرنګه يو کس چې له درباري کورنۍ څخه ؤ؛ لاندې ولويد، بندي او غلام شو؛ خو اسارت او غلامي يې په همت او اراده کې کمی را نه وست.هغه هيله چې د مغولو ماتې وه؛ ده د هغې ورځې لپاره له ماشومتوبه تياری ونيو، ديني علوم او جنګي فنون يې زده او بلاخره هماغه ارمان او سپېڅلی هدف ته يې لاس ورسېد.

د سيف الدين قطز شهادت:

که څه هم د عين جالوت اتل؛ خپل ملت او ټول مسلمان امت ته خوشحالي او برى په برخه کړ، خو تقدير خپل کار ته دوام ورکوي، تقدير دې ته پرېنښود چې همدا تاريخي خوشحالي او برى له مسلمانانو سره يو ځای ولمانځي.
سيف الدين قطز هم لکه خپل ماما سلطان جلال الدين د خپلو لښکريانو د خيانت ښکار شو؛ کله چې قطز د شام ځمکه د مغولو له شتون څخه پاکه او شام ته امنيت او راحت ورپه برخه کړ، مصر ته پر لاره د يوې ډلې له خوا په ناڅاپي توګه د شهادت لوړ مقام ته ورسېد.
د هغه د سلطنت موده تر يوولسو مياشتو زياته نه وه؛ خو په همدغه موده کې يې چې کوم خدمتونه وکړل، او مسلمان امت ته يې چې کومې برياوې لاسته راوړې، دده نوم يې په تاريخ کې په نيکو ثبت کړ. آن چې د مسلمانانو افتخار وګرځېد او دی د خپلو بچو لپاره د اسوې (

نمونې) په توګه ټاکي.

په اندلس کی د مسلمانانو اته سوه کلن خلافت روستی سلګی:

اندلس تاريخي فتحه، هلته مادي او معنوي انقلاب، اته سوه کلن تاريخ، او بيا د اندلس سقوط يا له لاسه وتل ، د اسلامي امت بلخصوص د ځوان نسل لپاره د درسونو او عبرتونو يوه لويه پانګه ده ، چې د تاريخ د پنډو کتابونو په غيږ کې يې ځاى نيولى دى ، د اندلس پر لمن د طارق ورکيوتل ، د لرزيق ماتې ، د قرطبې ، اشبيليې ، اندلسې ، بلنسيې او غرناطې فتحه ، د يو لوى انقلاب اغاز ، د ابن حيان القرطبي ، ابن خلدون ، ابن حزم ظاهري ، ابو القاسم المجريطي ، او ابوالقاسم الزهراوي په شان ستر ، ستر علماء ، د الزهراء ، الحمراء ، الکامل ، المعشوق او المبارک پشان دنګې دنګې او برجورې ښکلي ماڼۍ ، او جنت نظيره ځمکه .... بيا خپلمنځي شخړې ، يو بل سرکوبول ، د خپل ورور خلاف له کفارو د مرستې طلب ، د قرطبې سقوط ، د اشبيليې سقوط ، ورپسې نور ښارونه ، بلاخره د غرناطې او ټول اندلس سقوط د تاريخ هغه باب دی ، چې يو ويده قوم د غفلت له درانه خوبه را بيدارولی شي ، کله چې اندلس د طارق ابن زياد رحمه الله په مبارکو لاسونو فتحه شو ، نو پيړۍ پيړۍ اندلس د مسلمانانو يوه محکمه کلا وه ، د علم ، روحانيت ، تمدن او اخلاقياتو مرکز وو ، د اسلامي خلافت يوه بې سارې او ريښتيني نمونه وو .

د اندلس له غېږې د اورپا پر ګوټ ګوټ باندې د علم ، تجربو او اخلاقو وړانګې پريوتې ، د اورپا لوى ، لوى پوهان په خورا ادب سره د قرطبې او غرناطې په درسګاوو کې د مسلمانو علماوو پر مخکې د شاګردې ګونډې ووهلې ، اندلس په خپله نامې غيږ کې داسې نوميالي علماءوروزل چې ، لا تر اوسه ترې د علومو تږې خپلې تندې خړوبوي ، او اندلس د ځمکې پر مخ د مسلمانانو جنت وو ، اندلس تر هغو د مسلمانانو اندلس وو ، چې تر کومه مسلمانان په خپل دين قايم ول ، د الله تعالى په دين يې منګولې ښخې وې ، او د اسلام پنځه ګونو بناو تر ځنګ د جهاد رکن ته پابند پاتې ول ، الهي سنت داسې دي چې الله تعالى د يو قوم حالت تر هغو نه بدلوي تر څو هغه قوم په خپله خپل حالت تبديل نکړي ، چې په اندلس کې هم کټ مټ همداسې وشول ، کله چې اندلسيانو د الله تعالى له مبارک دين څخه مخ وګر ځاوو ، جهاد ، قرباني ، ننګ او غيرت يې تر پښو لاندې کړل ، له يو لوى مصيبت سره لاس او ګريوان شول .

د اندلس په محکم جوړښت باندې زلزله ګډه شوه ، د بغاوتونو ، ځانپالنو او تعصبونو چټل دريابونه په مستۍ شول ، اسلامي خلافت خپل شان او شوکت له لاسه ورکړ ، اندلس د زړبودۍ

خزان راحصار کړ ، د بدن نازک غړي يې يو يو لکه خزان وهلي پاڼې ژير مخ پر ځمکه پريوتل ، قرطبه ، اشبيليه ، طليطله ، او نور ټول ښارونه د کفارو پر لاس سقوط شول ، او يواځې غرناطه د وروستي سنګـر په حيث مسلمان قوم ته ورپاتي وه ، په کال 895 هق کې فردينند د غرناطې په لور لښکر کشي وکړه ، چې کله د غرناطې تر څنګ راورسيد ، ټول ښار يې محاصره کړ ، شاوخوا باغونه، فصلونه او اباد کلي يې تالا والا کړل ، مسلمانان له څلورو خواوو څخه محاصره شول ، محاصره ورځ تر بلې تنګېده ، او اته مياشتي يې دوام وموند ، د ښار خلکو ابو عبدالله ته وويل ـ تر هغو چې زموږ په بدن کې روح پاتې وي تر هغو به موږ له دښمن سره مقابله کوو ، موږ د لوړې د مړيني په ځای دا غوره ګڼو چې د جګړې په ميدان کې د دښمن په غشيو او نيزو ولګـيږو او شهيدان شو ـ ـ ـ

سلطان ابوعبدالله د الحمراء په ماڼۍ کې عاجله غونډه راوبلله تر څو له دښمن سره د جګړې او سولې اړوند مشوره وکړي ، په غونډه کې ټولو ګډون والو په يو غږ د جګړې خبره کوله خو سلطان د جګړې پر ځای په سوله خوښ وو ، غوښتل يې داسې سوله وشي چې مسلمانان د کفارو له ضرر څخه خلاص شي او د غرناطې ښار بې له کوم مقاومت څخه عيسويانو ته تسليم کړي ، ابوالقاسم يې په پټه فردينند ته ورولېږه ، تر څو د سولې خبرې ورسره وکړي ، فردينند چې کله د ابوالقاسم له خولې د سولې خبر واوريده ، ډير خوښ شو ، ځکه چې د جګړې له لارې د غرناطې نيول خورا ستونزمن کار وو ، د سولې خبرې پيل شوې ، پنځلس مادييز تړون چمتو شو ، دواړو مشرانو ورباندې لاسليکونه وکړل ، د تړون په دېارلسمه ماده کې راغلي وو چې مسلمانان به د شپيتو ورځو په دننه کې دالحمراء ماڼۍاو نور ټول سامان او اسلحې عيسويانو ته سپاري او سلطان به له خپلو ملګـرو سره له ښاره وځي ، خو لا شپيته ورځې نه وې پوره چې عيسويانو خپل عهد مات کړ او د غرناطې په ښار لکه وږي ليوان ورکېوتل ، په ښار کې غلغوله جوړه وو ، کفارو له خوښۍ نڅيدل ، خو د مسلمانانو له زړونو يو الله تعالی خبر وو ، عيسايان ټول د الحمراء ماڼۍ خو اته راجمع شول ، د ټولو سترګـې د الحمراء د ښکلې ماڼۍ په لور کږې وې ، څو تنه سپاهيان د الحمراء ماڼۍ تر ټولو لوړ برج ته پوره شول او د اسلام عقابي بيرغ يې ښکته وغورځاوه ، او پر ځای يې د سپينو زرو صليب پورته کړ او د لمر په شغلو کې يې ځلکا پيل کړه ، له همدې ورځې نه د اندلس له جنت نظيره خاورې نه اسلامي نظام خپله کډه بار کړه ، انا لله وانا اليه راجعون

مامون رشيد!

دهارون الرشيد زوی مامون الرشيد چي کله ماشوم ؤ ، يوه ورځ بغير له کوم سبب او دليل نه ښوونکي په لکړه وواهه !
مامون وويل : ولې دي ووهلم؟ ښوونکی هيڅ ونه ويل.
کله چي مامون څو ځلي پوښتنه وکړه ښوونکي ورته ويل : غلی سه !
وروسته له شلو کلونو څخه چي کله مامون دخلافت واک ته ورسېدی لمړی امر يې دا وکړ چي هغه ښوونکی را حاضر کړئ !
مامون له ښوونکي وپوښتل : زه چي کله ماشوم وم تا ولې ووهلم؟
ښوونکی مسکی سو او وې ويل : هغه دي نه دي هېر کړي؟
مامون ويل : نه ! په الله قسم هيڅ کله به يې هېر نه کړم!
ښوونکي ورته وويل : ددې لپاره مي ووهلې تر څو پوه سې(ته د خلافت له کورنۍ څخه وې کېدلای سوای چي واک ته ورسېږې ) چي مظلوم هيڅکله هم ظلم نه هېروي !
نو پام کوه ! چي د واک په وخت کي ظلم ونه کړې ځکه ظلم داسي اور دی چي همېش دمظلوم په زړه کښې بل وي نه مري که څه هم کلونه کلونه پرې تېر سي.

## هرمن او سلطان ايوبي !

د عکا تر فتحې وروسته سلطان صلاح الدين ايوبي ته خبر ورکړل شو چې يو ډېر مهم صليبي نيول شوی دی، هغه وويل څوک دی!؟ ځواب ورکړل شو چې هرمن جرمنی د علي بن سفيان په څېر د کمال خاوند او د استخباراتو ادارې مشر دی.
هرمن جرمني په فلسطين کې د مسلمانانو خلاف دومره ورانکارې کړې وه چې زياتو مسلمانانو پېژانده، کله چې عکا/عکره ونيول شوه هغه د خپلو ورانکارو نجونو سره يو ځای د تېښتې په حال کې و چې د يو مسلمان جاسوس پرې سترګې ولګېدې، هغه د اطرافي او قبايلي خلکو جامې اغوستې وې او نجونو ته يې هم هماغه ډول جامې کړې وې؛ جاسوس يو قومندان ته وويل چې دا هرمن دی او دا نجونې هم شکمنې ښکارې.
هرمن نېغ سلطان صلاح الدين ايوبي ته وروستل شو، خو سلطان ايوبي ورسره د دښمن په شان نه بلکې د يو مېلمه په حيث چلند وکړ، هغه ته يې سمدستي شربت ورکړ معنا دا چې د هغه سر په امن کې دی.
هرمن وويل: که تاسې زما د خبرو اترو پرته زما د وژلو حکم صادر کړی وای نو دا به ښه و.
سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: زه ستاسې په څېر پوه او مېړني انسان ته د قدر په سترګه ګورم.
هرمن وويل: آيا تاسې له مانه د دې پوښتنه کول غواړئ چې په کومو-کومو سيمو کې زموږ څومره پوځ پروت دی!؟
سلطان ايوبي وويل: هيڅکله نه! دا زما څخه پوښتنه وکړه چې زه تاسې ته ووايم، ځکه ستاسې په زړه کې زموږ مجاهدين ناست دي.
په حطين کې ستاسې پوځ بې شمېره و خو برياليتوب مو په برخه نشو.
صلاح الدين ايوبي وويل: تاسې ولې د مسلمانانو په منځ کې بد اخلاقي، بې اتفاقي او د چوکۍ مينه او محبت خپرولو او پدې توګه تا زموږ ملت او خلک څو کاله پرله پسې وجنګول؟!
هرمن وويل: دا زموږ مسئوليت دی، موږ په صليب باندې قسم خوړلی چې په هر ترتيب کېږي موږ به مسلمانانو ته زيان رسوو، د هغوی ابرو، عزت، ناموس، حيا او ايمان به اخلو او په مقابل کې به عياشي، فحاشي او وطن خرڅول ور زده کوو.
که نن تاسې دا خلک منع کړئ نو سبا زموږ کسان په دې باندې کامیابېږي، موږ او تاسې به نه وو خو تاريخ به دا په ياد ولري چې په راتلونکي کې به د مسلمانانو واکمنان، مشران او سرداران زموږ روزل شوي او ګمارل شوي کسان وي، د حکومت ټول کارونه به هغوی ته سپارل کېږي، هغوی به ښکاره د نورو په شان مسلمانان وي خو په باطن کې به زموږ ملګري او مرسته کوونکي وي.
سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: مېلمه! دا راته ووايه چې د پوځ کره وړه نور څرنګه ښه کولای او د هغوی وقار پورته کولای شو؟!
هرمن وويل: محترم سلطان! زه ستاسې د فراست او هوښيارۍ ستاينه کوم، ستاسې د استخباراتو نظام ډېر ښه دی؛ د علي بن سفيان، حسن بن عبدالله او بلبيس په څېر خلکو په شتون کې تاسې هيڅکله نه ناکامېږئ.

خو زه تاسي ته وايم چې دا ستاسي تر ژوند پورې دی؛ موږ چې کوم تخم شیندلی هغه نه ضایع کيږي، دا چې تاسي د کلکي عقیدې څښتن یاست نو د لا دينه عناصرو مخه مو نیولې ده خو ستاسي مشاورينو، قوماندانانو او.....په زړونو کې د حکومت، دولت او آرام ژوند نشه پیدا کړې.

سلطان محترم! دا جنګ چې اوس يې موږ او تاسي کوو دا زما او ستا نه بلکې د کلیسا او جومات جنګ دی چې تر موږ وروسته به هم روان وي، موږ له دې وروسته په میدان کې ستاسې په مقابل کې توره نه پورته کوو بلکې د مسلمانانو په دماغونو به کار کوو.

سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: هو ! دا يو حقيقت دی، د قوم هر فرد ته په کار دي چې خپل دين او وطن سره وفاداري وکړي، هغه قوم ژوندی وي کوم چې د خپل دين او ټولنې د ارزښتونو ساتنه کوي.

زه تاسي د يو دروند بندي په توګه دمشق ته لیږم.

هرمن وویل: کومې نجونې چې ماسره ملګرې وې د هغوی په باب راته څه ویلی شې!؟

صلاح الدين ايوبي وويل: زه نجونې په بند کې نه ساتم او د هغو د وژلو اراده هم نلرم.

هرمن وویل: دا ډیرې ښکلې نجونې دي يو نظر يې وګورئ تاسي ته خو خپل دين اجازه درکوي چې وينځې يې کړئ او بيا ورسره نکاح وکړئ.

سلطان صلاح الدين ايوبي وويل: دا صحيح ده خو زه په خپل کور کې د مار بچی نه پالم.

هرمن وویل: د دوی خو هيڅ ګناه نشته، موږ دوی ته له کوچنيوالي څخه داسې تربيت ورکړی دی.

سلطان وویل: نو له همدې امله د دوی د وژلو حکم هم نشم ورکولای.

داسلامي تاريخ زړور سپاهيان او اتلان

امیرالمؤمنین !

په ماشومتوب کي مو لوستي وه چي د مقدونيې سکندر(اليگزاندر) په شل کلنۍ کي پاچا شو، په درویشت کلنۍ کي د مقدونيې نه راووتئ، تر هر څه مخکي يې مکمل يونان فتح کړ، بيا ترکيې ته ورداخل شو، د هغه وروسته يې د ايران سلطنت ړنګ کړ، سوريې ته ولاړ، د هغه وروسته يروشلم او بابل ته ورسيده، مصر او ورپسې هندوستان ته، په هندوستان کي يې د پورس سره جګړه وکړه، د خپل ګران آس په ياد کې يې د پاليه ښار آباد کړ، د مکران نه يې د واپسۍ سفر پيل کړ، په لار کي ټايفايډ(زيړی/زردي) په مرض اخته شو او ۳۲۳ق از مسيح کي په ۳۳کلنۍ کي د بخت نصر په عاليشانه ماڼۍ کي ومړ.

نړۍ ته تر ننه پوري دا ښودل کيږي چي هغه د انساني تاريخ يو عظيم جنرال، فاتح او پاچا وو، او تاريخ د هغه کارنامو له کبله ده ته د الگزاندر د ګريټ(ستر سکندر) نوم ورکړ، موږ(مسلمانانو) هم د هغه نه ستر سکندر يعني د پاچايانو پاچا جوړ کړ، خو نن د يوويشتمي پيړۍ د ټولو مؤرخينو مخي ته يو سوال ږدم چي آيا د حضرت عمر فاروق رض په موجوديت کي سکندر ددې حق لري چي د سکندراعظم په نوم ياد شي؟؟؟

زه د ټولي نړۍ مؤرخينو ته د سکندر او فاروق اعظم رض د فتوحاتو او کارنامو د موازنه کولو او پرتله کولو دعوت ورکوم، تاسی هم فکر وکړئ ...

سکندر د پاچا زوی وو، د نړۍ بهترينو استادانو د آس مهارول او چلول ورښودلي وه، د ارسطو غوندي استادانو د ناستي او مجلس کولو فرصت ورته برابر شوی وو، او چي کله شل کلن شو، په تخت او تاج ونازول شو، د سيمي ټولواک شو، خو دده په مقابل کي د حضرت عمر رض په اوو۷ نسلونو کي کوم پاچا نه وو تير شوی، د وزو، پسونو او اوښانو په څرولو کي راستر شو، نه يې هم د تورو، نيزو او غشو ويشتلو زده کړه د کومي اکاډمي نه کړې وه.

سکندر د يوه منظم او آرګنائزډ فوځ په مټ د لسو کلونو په موده کي اوولس لکه مربع ميله علاقه فتح کړه، خو حال دا چي حضرت عمر فاروق رض د کوم منظم فوځ د نه شتون باوجود د دولسو کلونو په کمه موده کي دوه ويشت لکه مربع ميله علاقه فتح کړه، چي د روم او ايران د دوو سترو امپراطوريو زوال هم پکي شامل دی.

د نن عصر د سټيلايټ، ميزايل او اوبتلونو د شتون او موجوديت سربيره بيا هم د کوم حاکم سره دومره ستر سلطنت نشته چي حضرت عمر رض د آسونو پر زين فتح کړی وو، حال دا چي په پوره معنی امن او ثبات هم حاکم وو، سکندر د فتوحاتو پر وخت خپل په لسګونه جنرالان ووژل، بې حسابه جنرالانو او ځوانانو يې ملګرتيا پريښوده، دده په خلاف بغاوتونه

وشول، حتی په هندوستان کې خو يې اردو او فوځ د لا پرمختګ نه انکار وکړ، خو د حضرت عمر رض کوم ملګري دده د امر د نه منلو جسارت ونکړ.

هغه داسې يو ستر امير وو چې د جګړې په ميدان کې يې د اسلامي نړۍ تر ټولو ستر جنرال، اتل سپه سالار حضرت خالد بن وليد رض عزل کړ، خو بيا هم چا دده د حکم نه د سرغړاوي جرأت ونه کړ، ده حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د کوفې د ولايت نه عزل کړ، د حضرت حارث بن کعب رض نه يې ولايت واخيسته، د حضرت عمرو بن العاص رض مال او جائيداد يې ضبط کړ، د حمص والي يې را وغوښته او د اوښانو د څرولو وظيفه يې ورکړه، خو چا يې د امر او حکم مخالفت ونشو کړای.

سکندر اوولس لکه مربع ميله علاقه فتح کړه، خو نړۍ ته يې کوم نظام، کوم د باور وړ سسټم ورنه کړ، حالانکه حضرت عمر رض نړۍ ته داسې منظم سيسټم او نظام ورکړ چې تر ننه په ټولې نړۍ کې کارول کيږي.

•محکمې يې فعاله کړې.

•معذورو، کونډو، يتيمانو او بې سرپرستانو ته يې معاشونه وټاکل چې نن يې هر جوړ حکومت خپلو خلکو ته ورکوي.

•د دولتي مأمورينو او واليانو د سرمايه شميرل او حساب کولو تصور يې رامنځ ته کړ.

•د چارواکو د أثاثو او جائيدادونو اکاؤنټبلټي او حسابداري پيل شوه.

پر مهر باندې يې ليکل شوی وه:
•"عمره! د نصيحت لپاره مرګ کفايت کوي".

•د محبسونو او زندانو جوړول، په لارو کې کاروان سرايونه او څاهانو جوړول، د لرې پرتو سيمو امن ساتل دده په عصر کې پيل شول، مخکې دا تصور هم موجود نه وو.

حضرت عمر رض به فرمايل کوم حاکمان چې عدل و انصاف کوي، هغوی د شپې د کومې ويرې پرته ويديږي.
د قوم سردار د قوم ريښتنی خادم وي

د درختې لاندې به ويده کيدو، د شپې پيره کول، د غرباوو مرستې ته مؤقت وخت نه ټاکل بلکې تل د هغوی د مرستې هڅه کول، او دومره ساده ژوند کول چې په جامو کې به يې څوارلس پيوندونه ول، چې په هغو پيوندونو کې د سرې کيږې پيوند هم لګيدلی وو، د نرمو او نازکو کپړو نه يې نفرت کاوه.

تل به يې خپلو واليانو او چارواکو ته نصيحت کاوه چې:

پر ترکي آسونو مه سپريږی، نازک کالي مه کوئ، ډير ميده غنم مه خوری، چوکيدار مه لګوی تر څو کوم فريادي درنه منع نشي.

په وړوکي مضمون کي دده ټول اوصاف بيانول به يې په حق کي سراسر نا انصافي وي، لنډه دا چي د هر مذهب يو نه يو خاصيت وي، د اسلام تر ټولو ستر خصوصيت عدل دی، او حضرت عمر رض هغه شخص دی چي په دغه خاصيت يې پوره عمل وکړ، دده د عدل او انصاف له امله د عدل نوم په عدلِ فاروقي بدل شو.

د شهادت په وخت کي د يو چا پوروړی وو، چي د وصيت مطابق يې دده يوازينی کور خرڅ کړ او دده پور ورباندي اداء شو، دی د نړی هغه يوازينی حاکم وو چي فرمايل به يې: زما د واک په موده کي که د فرات د سيند تر غاړه کوم سپی د لوږي مړ شي، نو سزا به يې عمر رض زغمي.

دده د عدل دا حالت وو، کوم وخت چي يې رحلت وکړ دده د سلطنت د يوې لري پرتې سيمي يو شپون په ځغاسته د خپلو ملګرو خواته ورغی او ويې ويل: "خلکو! حضرت عمر فاروق رض انتقال شوی دی".
خلکو په حيرت وپوښتل: "ته د مديني نه په زرګونو ميله لري په دغه ځنګل کی يې څرنګه او د چا له لوري خبر شوې؟".
شپون وويل: "کوم وخت چي حضرت عمر رض ژوندی وو، زما مالونه به په ځنګله کي آزاد ګرځيدل، هيڅ ځناور به هغوی نه څيرل، خو نن اول وار يوه شرموښ زما د وزې بچی د ځان سره يووړ، د هغه د جرأت نه دا پته راته ولګيده چی اميرالمؤمنين وفات شوی".

زه د ټولي نړۍ مؤرخينو ته دعوت ورکوم، چي سکندر دي د حضرت عمر رض مخي ته کښيږدي نو وبه ګوري چي يوه وړوکي ډبره د غره په مخکي پرته ده، دا ځکه د سکندر سلطنت دده د وفات وروسته ۵ کلونه دوام وکړ، خو حضرت عمر رض چي په خپل ژوند کي کوم لوري ته د اسلام بيرغ ليږلی د هغه ځايه تر ننه پوري د الله اکبر، الله اکبر چيغي راځي، نن هم هلته خلک د الله ج په وړاندي سجده کوی.

په دنيا کي د سکندر نوم په کتابونو کي په وياړ اخيستل کيږي، حال دا چي د حضرت عمر رض په لاس جوړ شوی نظام نن د نړی په 245هيوادونو کي په يوه نه يو شکل کي موجود دی.

نن هم د يوې ډاک خاني نه خط راوځي، د پوليسو يو کس مشخصه جامه په تن کوي، کوم فوځي ۶مياشتي وروسته په رخصتيو کور ته ځي، يا هم حکومت کوم ماشوم، معذور، کونډي يا معلول کس ته وظيفه ورکوي، نو هغه ټولنه، معاشره او سيمه بې اختياره حضرت عمر رض ومني، هغوی د نړۍ د تر ټولو ستر سکندر په سترګه ورته ګوري، پرته د هغو مسلمانانو چي نن د نا اميدی او ډار له کبله حتی خپله کلمه هم په جرأت نشي ويلای،

د لاهور مسلمانانو يو ځل د انګريزي استعمار په وخت کي هغوی ته اخطار ورکړی وو، "که

موږ د کورونو نه رابهر شو، چنګیز به دي هیر شي".
د هند صدراعظم جواهر لال نهرو په خندا ویلي وو: "افسوس! چي مسلمانان نن د چنګیز په نوم اخطار ورکوي، هغوی دا هیر کړي چي ددوی په تاریخ کی 'حضرت عمر فاروق رض' هم وو".

د حضرت عمر رض په اړه مستشرقین اعتراف کوي چي "که په اسلام کي یو بل عمر رض وای نن به په نړی کی یوازینی دین اسلام وای".

موږ نن دا هیره کړې چي په موږ کي یو عمر رض هم وو، چي په اړه یې د الله ج نازولي رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي وو:
"زما وروسته که کوم نبی وای هغه به عمر وو".

محمد هاشم شاهین

داسلامي تاریخ زړور سپاهیان او اتلان

د اسلام لومړنی سمندري جګړه !

د أمير المومنين عثمان بن عفان رضي الله عنه په خلافت په ۳۵-هجري کي د محرم په مياشت کي اسلامي فوځ لومړنی سمندري جګړه ترسره کړه، د دې تاريخي جګړي نوم "ذات الصواري" ده، په دې جګړه کي د اسلامي فوځ د کښتيو شمېر ۲۰۰ وو او مشري ئې حضرت عبدالله بن سعد بن أبي سرح رضي الله عنه کوله، په دې جګړه کي اسلامي فوځ بازنطيني لښکرو ته په زړه پوري ماته ورکړه.

ياده جګړه بازنطيني پاچا پيل کړې وه او د خپل فوځ قومانده هم د ده په لاس کي وه، دوی ځکه جګړه پيل کړه تر څو په سيند کيد اسلامي فوځ حرکات متوقف کړی شي، دا عمليات د شام والي حضرت معاويه رضي الله عنه او عبدالله بن ابي سرح رضي الله عنه پر مخ بېول.

محمد هاشم شاهين

داسلامي تاريخ زړور سپاهيان او اتلان

سلطان ايوبي او ارناط بادشاه !

صلاح الدين ايوبي رحمه الله ته خبر و رسېده، چې أرناط باچا په فلسطين کې د کرک والي د مسلمانو حاجيانو مخه نيولې، ښځې او ماشومان يې خورا په بې رحمۍ سره وژني. او دا وايي: چې محمد (صلی الله عليه وسلم) ته مو ور غږ کړئ، چې تاسو را څخه وژغوري!
د دې خبر په اورېدو سره، صلاح الدين ايوبي په لړزه شو، سګلۍ يې شروع سوې او دوې پرله پسې ورځې يې وژړل.
او بيا يې وويل: اې مهربان څښتنه! ما ته اجازه راکړه، چې د محمد رسول الله(صلی عليه وسلم) په نمائنده ګۍ، د ده د امت دفاع وکړم.
دا يې تکرارول په همدې غمجن حالت کې و.
بيا وروسته خپل لښکر ته راغی او هغو ته يې دا لنډه وينا وکړل:
اې د محمد(صلی الله عليه وسلم) لښکره..!
أرناط باچا د بيت الله حاجيان وژني او ظلم ور باندي کوي او د هغوی د ښځو او ماشومانو ويني بهوي او هغو ته وايي: چې محمد(صلی الله عليه وسلم) ته موږ ور ږغ کړئ، چې تاسو را څخه وژغوري..!
نو ما خپل نفس او روح د رسول الله(صلی الله عليه وسلم) د امت په دفاع او ساتنه کښي وقف کړی دی، نو په تاسو کي چي څوک غواړي چي له ما سره ولاړ سي، نو هغه دي له ما سره يو ځای سي... .
ټول لښکر يي په يوه خوله جواب ور کړ: موږ ټول تر رسول الله(صلی الله عليه وسلم) قربان يو..
نو کله چي د حطين جګړه ونښتل، سيمه د صلاح الدين ايوبي رحمه الله تر لاس لاندي سوه، أرناط باچا د ده له لوري ونيول سو.
صلاح الدين رحمه الله ورته وويل: هغه ته وې، چي ويل دي: چي محمد(صلی الله عليه وسلم) ته مو ور ږغ کړئ، چي تاسو را څخه وژغوري..!؟
هغه ځواب ورکړ: هو!
صلاح الدين ايوبي رحمه الله ورته وويل: زه فقير مريی د رسول الله(صلی الله عليه وسلم) نمائنده يم، هغه رالېږلی يم، ستا ومخ ته ولاړ يم، تر څو د رسول الله(صلی عليه وسلم) د امت ساتنه ستا د سر په پرې کولو وکړم..
او بيا يې په خپله توره، د هغه سر له تن څخه جلا کړ..!

چنګيزيت:

چنګيزيت د ملوکيت او سرداری د سياسی فکر يو شکل دی، لکه چی يوه ليوه دوينی څکلو پرته ژوندی نه پاته کيږی.
نوپه همدی توګه چنګيز خان هم د بشر دوينو دڅکلو پرته ژوندی نه پاته کيده.
تاتاريان د منګوليا يا مغولستان د ګونی د دښتو يو وهم پالونکی قوم وو، دهمدی دښتی په شمالی برخه کی دچنګيز خان د پلرونو او نيکونو د سرداری ځای او ټاټوبی هم وو.
تر اوسه لا چنګيز د ځوانی شپی ورځی سبا کولی چی پلار يی مړ شو، نو تاتاری قوم ددی نوی ځوان سرداری ته غاړه کښی نه ښوده، خو چنګيز خان د سختړ مشکلاتو او ستونزو دګاللو نه وروسته نو تاتاری سرداران وټکول او خپله سرداری يی ټينګه ګړه او په څو کلونو کی يی د خپلی سرداری د رياست لمنه د ګوبی د دښتو څخه تر ترکستان لو چين پوری پراخه کړه.
حافظ ابن کثير(رح) چه په (۷۷۴ ه) کی وفات شوی ليکی:ددی تاتاريانو دظلم او فساد لمن د چين څخه تر عراقه پوری وغځول شوه او تر (۶۱۷ ه)پوری چنګيز خان د عراق الجزائر، سورئی او مصرنه پرته په ټولو ملکونو بری او غلبه پيدا کړه، دی خلکو به چه کوم کلی اوښار فتحه کاوه نو دهغه خلک به يی وژل، او هغوی کورونه، جماتونه او مدرسی به يی سيځلی .البداية والنهاية لابن کثير (رح)
ابن الاثير(رح) چه په (۶۳۰ ه) کی وفات شوی ددی چنګيز فتنی ۱۲ دوولسکاله په خپلو سترګو ليدلی.خو د بغداد د مغلوبيدو په وخت کی، چه دچنګيز خان دلمسی هلاکو په لاسو وران او کنډل شو، نوموړی ژوندی نه وو.
خو دچنګيزی بربريت او وحشت په هکله ابن الاثير(رح) ليکی چی: که چيری څوک ووايی چی دادم (ع) څخه تر اوسه پوری دنيا په داسی مثبت اوغم نوه ککړه شوی، نو بلکل ريښتيا ده.ځکه تاتاريانو چه په کومو ښارونو کی عامی وژنی کړی دی. په هغه کی يوازی ده يوه ښار د وژل شوو اوسيدونکو شمير ده هغه بنی اسرايلو د شمير څخه زيات دی چه د بخت نصر په واسطه وژل شوی وو.
دی ځيرونکو وحشيانو، سړی، ښځی او ماشومان په ډيره بی رحمانه توګه ووژل، دښځو ګيډی يی وڅيرلی او شيدی خوړونکی کوچنيان يی دمينڼو دغيړو څخه داخيستلو وروسته ټوټی ټوټی کړل. الکامل اب الاثير (رح)
د (۶۱۷ ه)د ذی الحجی په څلورم تاريخ(۱۲۲۰ ع)کی کله چی تاتاريانو بخارا فتحه کړه. نو دهغوی ښځی يی په خپلو مينځو کی وويشلی او ټول ښار ته يی اور ولګولو (و صبحت البخاری کان لم تمس بالامس)، دبخارا دښار چتونه راوغورځيدل او داسی تباشو چه تابه ويل چی دلته پرون هيچ شی نه وو. الکامل لابن الاثير(رح)
(۶۱۷ ه) دمحرم الحرام په مياشت کی يی همدغه ډول عمل د سمر قند دښار سره هم وکړ په خوازم کی يی د لومړی يرغل په وخت کی سل زره کسان(۱۰۰۰۰۰) په قتل ورسول. او بيا يی دښار بند ونړاوو او ټول ښار يی د اوبو لاندی کړ. دبلخ، ترمذ او خراسان د ښارونو سره يی هم همدا عمل تر سره کړ.<br>

د(۶۵۶ ه)دمحرم (۱۲۵۸ع د جنوری) په میاشتی کی د چنګیز لمسی هلاکو خان د مسلمانانو د خلافت مرکزبغدادوران او ویجاړ کړ، دهغه ځای د خلیفه معتصم با الله په شمول یی، علمأ،فقهأاو نور حکمتی واکداران په قتل ورسول، د عباسی کتابخانی کتابونه یی د دجلی په دریاب کی وغورځول او دمدرسو او جوماتونو دالوی ښار چی د عروس البلاد (دښارونو ناوی په نوم یادیده) وران کړ،ابن الخلدون (رح) وایی چی دلته د وژل شوو وګړو شمیر(یو میلیون او شپږ سوه زره) یا (شپاړس سوه زرو) کسانو ته رسیږی.
دوشنبه ۲۲/۷/۱۳۹۸
لیکنه: رفيع الله"احسان مل"

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله !

علامه ابن كثير رح په خپل مشهور تاريخ کی ليکي
كله چی تاتار يانو د دمشق قلعه محاصره کړه
شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله دهغه قلعې نايب ته یی نامه واستوله او دایی ورته وويل كه چیری هيڅ څيز هم باقي نوي بغير له تيږي نو هغه هم د دوي په تسليم کی مه ورکوه له تيږي مطلب داوه چی د مرګ تر ساعته دی تسليمي قبوله نه کړي.
ابن تيميه اول شخص وه چی د تاتاريانو په مقابل کی دجهاد فتوا او عملي جهاد لپاره قيام وکړ او هغه طاغوتي ماده پرسته علمأ چی د تاتاريانو په حکومت کی شتون درلود دهغوي د وضعي قانون متابعت یی كاو هغه راپاڅيدل او په ابن تيميه د خارجي ټاپه ووهله بياهم حق پرسته او حق پاله ملت دهغو له هيڅ رنګه تبليغاتو متاثره نشول او جهاد ته یی ادامه ورکړه.

{البداية والنهاية جـ ١٧ صـ ٧٢٠}

داسلامي تاريخ زړور سپاهيان او اتلان

اسلامي مفكر محمد عماره وايي :

په مجلس کې يو روشنفكر په سخريه راته وويل :
ستا له خبرو داسي ښکاري چې شرعي احكام تطبيقول غواړې او غواړې چې موږ بيرته شاته وګرځو!

ما د پوښتونکي په ښه ځواب ورکړ :
له شاته تګ نه ستا مطلب 100 کاله مخکي وخت ده ? کله چې اسلامي سلطنت د ځمکي په نيمه كره 500 کاله حکومت کاوه ?
هغه وخت چې د اروپا پاچاهان د مسلمان سلطان تر سيوري لاندي اوسيده ?!

او كه مطلب دي له هغه نه هم شاته تګ دی? د مماليكو وخت, هغه مماليک چې نړۍ يې د تتار او مغولو له وحشت نه وژغورله?!

او كه له هغوی نه هم شاته ? کله چې عباسيانو نيمه كره اداره کوله?!

او كه له هغوی نه هم شاته د امويانو دوره, يا له هغوی نه هم شاته د عمر فاروق زمانه دي مطلب ده ?!

او كه ستا مطلب د هارون رشيد زمانه ده چې د روم واكمن ته يې داسي مكتوب وليږل :
" د امير المومنين هارون رشيد له خوا د روم سپي نقفور ته... "?!

او كه هدف دي د عبد الرحمن الداخل زمانه ده? کله چې لښكرو يې په ايټاليا او فرنسا کړۍ تاو کړې وه؟!

دا يې سياسي اړخ...

او كه ستا مطلب له شاته تګ نه علمي اړخ دی..

کله چې مسلمانو علماوو لکه ابن سينا, فارابي, ابن جبير, خوارزمي, ابن رشد, ابن خلدون او... عربي او عجمي نړۍ ته طب, انجنيري, رياضي, شعر او ... درسول..?!

يا ستا هدف وقار او عزت دی? کله چې يو يهودي د مسلماني ښځې شړۍ ونيوه او هغې ناره

کړلي " وا معتصمااااه" هغه و چې معتصم خپل لښکر راویست او یهودان یې له ټولې سیمې وشړل... په داسې حال کې چې نن مسلمانې مېرمنې بې عزته کېږي, عفت یې تر پښو لاندې کېږي خو واکمنان خوشحال دي لکه هیڅ چې نه وي شوي؟!

او که هدف دې هغه وخت دی ، کله چې مسلمانانو په هسپانیه کې اروپا ته په لومړي ځل پوهنتون ورپېژندل, له هغه وخته په هرځای کې فارغینو ته عربي لباس (چپنه) ورپه تن کېږي... ؟!

او که ستا مطلب له شاته تګ نه هغه دی کله چې قاهره د ټولې نړۍ په سطحه ښایسته ښار وو؟!
یا هغه چې یو عراقي دینار د 483 ډالرو برابر وو؟!
او که هغه وخت چې له اروپا نه فقیر خلک به سکندریې ته په قاچاق راتلل؟ او که هغه وخت چې کله امریکا له مصر نه د اروپا د لوږې په خاطر مرسته غوښته؟!

ستا د وضاحت په انتظار یم, ترڅو راته روښانه کړې چې مطلب دې څومره شاته تګ دی؟!!!

داسلامي تاریخ زړور سپاهیان او اتلان

خالد بن وليد د کسرا حاکم ته ليک !

خالد بن ولید -رضي الله عنه- و کسرئ ته ولیکل:
"اسلام ومنه په امن به شې، که نه د داسي خلګو سره به درشم، چي مرګ دومره خوښوي، لکه تاسو چي ژوند خوښوئ"..
چي کله کسری لیک ولوست، د چین له پاچا يې مرسته او کومک وغوښت..
د چین پاچا په څواب کي ورته وويل:
" اې کسری د داسي قوم پر وړاندي مي هيڅ زور نه رسي، که وغواړي، چي غرونه له بېخه وباسي، ويستلی يې شي".

تريخ حقيقت

کله چي فرانسوی جنرال "ګورو" په شام کي قدم کېښود د صلاح الدين ايوبي رح و قبر ته ورغي او قبر يې په لغته ووهي ورته ويې ويل:" پورته سه صلاح الدينه موږ بيا راغلو". کله چي فرانسوي جنرال" ليوتي" په مراکش کي خپل قدم کېښود نو د يوسف بن تاشفين رح وقبر ته ورغي او قبر يې په ووهي ورته يې وويل :"اې د تاشفين زويه پورته سه موږ بيا ستاسو سرته راغلو". کله چي صليبيانو دوهم واري بېرته اندلس قبضه کړ نو "الفونسو" د حاجب منصور پر قبر د سرو زرو چارپايي کېښودل او د ماينې سره يې شراب وڅیښل پرې ويده سو او وې ويل : " وګورئ موږ بيا د مسلمانانو سلطنت قبضه کړ". کله چي يوناني فوځيان ترکيې ته داخل

سول نو د يوناني فوځ مشر "سوفوكلس وينيزيلوس" د خلافت عثمانيه د مؤسس عثمان غازي د قبر خواته لاړي او وې ويل :" اې د لويې پګړۍ خاونده عظيم عثمانه پورته سه د خپلو لمسيانو حالت وګوره موږ د هغه عظيم سلطنت خاتمه وکړل د کوم چي تا بنياد (تهداب) ايښی و موږ ستاسو سره د جنګېدو لپاره راغلي يو".

وتلی اتل"يوسف بن تاشفين" د تاريخ په پاڼه کې!

هغه مسلمان اتل پېژنئ، چې اندلس يې له سقوط نه وژغوره؟ هغه نوميالی پېژنئ، چې د "زلاقة" د جګړې واګې يې په لاس کې وې او د اروپا پاچايان يې و لړزول؟!

هوکې؛ هغه اتل "يوسف بن تاشفين" (د مرابطين د دولت تر ټولو ستر پاچا) و.

د اندلس اسلامي واکمنانو چې کله د هوسياتو او ځان ځانی ښکار شول، هر يو يې د ځوکۍ، واک او ځواک په فکر کې شول؛ ستر ځښتن له سخت ذلت او سپکاوي سره لاس او ګرېوان کړل، تر دې چې اروپايي واکمنان پرې برلاسي شول، ډېری يې د اندلس له ښارونو نه وشړل، وړاندې يې له هغوی نه جزيه د ذلت په پار اخيسته؛ دا مهال مسلمانان اړ ويستل شول، تر څو اروپايانو ته جزيه ورکړي.

دا مهال د مرابطين د دولت امير (يوسف بن تاشفين) را پيدا شو، يو ښار په بل پسې يې فتحه کاوه او خپل واک يې پرې ټينګاوه، الهي نصرت يې مل و، د اتلولی غږ يې په نړۍ کې خپور شو، په تېره بيا اروپا خو يې له وېرې په لړزه وه .

د اندلس ګڼه شوي واکمنان له دې وروسته، چې د غربي صليبيانو د ذلت پېټي يې پر اوږو وو، سره جرګه شول، د غونډې په ترڅ کې پريکړه وشوه: راشئ د مرابطين ياد زمري (يوسف) ته ليک واستوو تر څو مو د دې ستر شرم، لوی ذلت، او خوارۍ پېټي له اوږو نه ښکته کړي، کوم چې د تل له پاره مو غيرت او اسلامي جذبه ګواښي او د ازادۍ له رنګينې ښکلا نه يې پر بله مهار کړي يو! همداسي يې وکړل.

کله چې نوموړي اتل ته د هغوی ليک ورسېد؛ سم دلاسه يې يو ځواکمن لښکر تيارسی کړ؛ تر څو بنديوان ورونه او بنديوانې خويندې – کومو چې تر وحشت، بدني او روحي شکنجو لاندې د مرګ په تمه و – د خونخوار ښامارانو له ولکې نه ژغوري.

د هغه دا حماسي خوځښت د اندلس د کړېدلي ولس له پراخ ښه راغلاست او هرکلي سره مخ شول.

ډېرش زريز لښکر يې د "زلاقة" پر لور وخوځاوه.

"فاتيکان" (د کاتوليکي کنيسې د پيروانو روحي مرکز) له يادې پېښې نه خبر شو؛ په ټوله اروپا کې يې د نفير عام (ټوليز خوځښت) سپارښتنه وکړه، له کاتوليکانو نه يې د ليکونو پر مټ وغوښتل، چې د دې جګړې جنګيالانو ته دې دعاګانو، ښننې، جنتونو او جنګي برياوو لاسونه لپه کړي!

لنډه دا چې د اروپا له ټولو هيوادونو يې لکه: فرنسا، ايټاليا، انجلترا (انګلينډ) او المانيا د شپږم "الفونسو" په مشرۍ آس سواره جنګيالي، چې په نويو پر مختللو وسلو سمبال وو، را غونډ کړل.

الفونسو په ډېر غرور او تکبر دا خبر تکراراوه:

"بهذا الجيش أقاتل الجن والأنس وأقاتل ملائكة السماء وأقاتل محمدًا وصحبه".

ژباړه: په دې لښکر به له پېريانو او انسانانو سره و جنګېږم، د اسمان له پرښتو سره به وجنګېږم، له محمّد ﷺ او د هغه له ملګرو سره به وجنګېږم.
د جګړې د شپې په نيمايي کې نوموتي عالم "بن رُميلة" يو عجب خوب وليد؛ په بېړه د خپل مشر (يوسف بن تاشفين) په لور وخوځېد؛ ورته يې کړه:
تر ټولو غوره پيغمبر محمد ﷺ مې په خوب وليد؛ راته يې ويل:
يا ابن رميلة إنكم منصورون وإنك مُلاقينا"
ژباړه: اې د رميله زويه! هرو مرو به تاسو برلاسي يئ او هرو مرو به ته له موږ سره يو ځای شې!
ياد اتل د تکبير په زمزمو، لښکر له خوب نه را وخوځاوه؛ هغوی ته يې کړه: د "انفال" مبارکه سوره وواياست، د شپې لمونځ (صلاة تهجد) ادا کړئ! هغوی هم بې له ځنډه هم داسې وکړل؛ يو و بل ته ور غاړېواته؛ د رڼو اوښکو په بدرګه يو له بله رخصتېده؛ ياد خوب يې زړونو ته سکون او ډاډ ور بانښه.
دا له يوې لسيزې را په دېخوا، لومړی ځل دی چې مسلمانان د دومره سترې سوبې او بريا ميدان له غربي صليبيانو نه ګټي، داسې سوبه، چې له امله يې د صليبي ۶۰ زريز فوځ له منځ نه يواځې سلو ۱۰۰ وګړو سرونه روغ و ويسته، چې له کتاره يې ياد سرمسته مشر (الفونسو) هم و؛ چې يواځې يو لينګی يې تر "قشتالة" ورساوه، د يوه کال په تېرېدو، له ډېر غم او درد نه د جهنم پر لور وکوچېد.
وروسته نومونړی اړ و يستل شو، تر څو اندلس له مرابطين دولت سره يو ځای شي، په دې توګه به د همده تر واکمنی لاندې شي. هغه په ناخوښی دې کار ته غاړه کېښوده.

م حمدالله دانشمند

شيخ السلام ابن تيميه رحمه الله وايي:

قران کريم بې له تورې او توره بې له قرآنکريمه نيمګړي دي، ځکه کله چې د قرانکريم دعوت په مخ کې خنډونونه منځ ته راځي بايد په تورې سره يې مخه ونيول شي او د قران کريم حاکميت بې له تورې نا ممکن ده.

داسلامي تاريخ زړور سپاهيان او اتلان

مسلمانه مېرمن!!!

په عين جالوت سيمه کې له مغولي لښکر سره د مصر د پاچا سيف الدين "قطز" تر مشرۍ لاندې د مسلمانانو خونړۍ جګړه روانه وه چې په همدې کې د قطز مېرمن "جلنار" په يوه غشي ولګېده او را پرېوته؛
قطز چې د هغې دا حالت وليد نو د جګړې له ميدانه خپلې خيمې ته راوګرزېد او چيغه يې کړه چې "واحبيبتاه" وای زما محبوبې!
خو د اسلامي امت هغې رېښتونې او مجاهدې مېرمن چې له کفر سره د جهاد پر مهال د قطز له خولې دا غږ واورېد نو چيغه يې کړه چې "وا اسلاماه" وای زما اسلامه!
او هماغه وو چې د دې الهام ښونکي غږ په اورېدو قطز له همدې نارې سره چې وا اسلاماه وا اسلاماه بېرته په مغولي لښکر مخ را واړاوو
او هغه وحشي تاتاريان يې په داسې ايماني روحيه وربېل چې بيا هيڅ ونه توانېدل چې د اسلامي نړۍ پر وړاندې دې مقاومت وکړي شي او له همدې ځايه يې د ماتې لړۍ پيل شوه.

امام شامل رحمه الله:

يو ځل امام شامل ترکيه ته د عثماني خلافت خليفه سلطان عبدالعزيز په بلنې ورغلی ؤ،د خبرو په منځ کې امام شامل سلطان ته مخ را واړوه او د مجاهدينو سره د مالي مرستو په ځنډ او تآخير اې سلطان ته شکايت وکړ,تر دې چې د درباري وګړو په وړاندې اې سخت وراټه!
سلطان هم د امام په ځواب کې غبرګون وښود،غصي ونيو نو غوښتل اې چې امام هم کم راولي،نو امام ته وايي: ته خو له ۲۵ کلونو جنګيږي،ټول ملګري او مريدان دې شهيدان شوه،خو ته تر دې دمه هم رک روغ اې،يا خو جګړو ته نه ځې او برخه پکې نه اخلې او يا خو دې په مريدانو جګړې مخته وړې..
امام د سلطان په خبره ځان غلی ونيو،خو تر دې چې خبره نوره له زغمه پورته شوه..
امام ته هم غصه ورغله،له ځايه پاڅيده او خپل کميس اې ليرې کړ، پرهر پرهر،ژور ټپونه او داغي بدن..
د امام پر مبارک بدن له ځلوينښتو ډير ژور ګذارونه شوي ؤ او د هغو ژورو ټپونو داغونه اې پر تن د زغم،مجاهدت،اتلوليو او ميراني نموني له ورايه بريښيدي...
سلطان چې د امام ټپونه وليدل،له تخته کوز شو،په چغو چغو اې وژړل او له سترګو اې اوښکي رواني شوې،سلګيو ونيو ان چې د خبرو توان له لاسه ورکړی ؤ،خپل تخت ته اې اشاره کړله واى امام د دې تخت ريښتينی وړ او مستحق امام دی!! رحمه الله..

امام شامل د ګونيب په غرونو کې د روسي ښکيلاک سره په چريکي جګړو کې کلونه کلونه بوخت او د مبارزې يو عظيم نه هيرودونکي فکرې،نظامي او تربيوي سنګر ؤ!
امام له روسانو سره په جهادونو کې کلونه کلونه بوخت ؤ،پدې دورۀ کې يې په زرګونو دهريان لمنځه وړي.
يواځې د هولګو پۀ جګړۀ کې يې ۳۳ زره روسان مردار کړي پداسې حال کې چې د شامل ۳ سوه مريدان شهيدان شوي ؤ،د دغې جګړې په په يوه ورځ ۵ زره روسان وژل شوي ؤ،دا داسې تاريخي جګړه وۀ چې کله کله به پوره لښکر پدې جګړه کې ورک ترمی شو،داسې چې روسي جنرالان به په بيرته راتګ کې له يو دوۀ عسکرو سره را روان ؤ!
ترکي تاريخ پوه البي ياشر د امام شامل په رابطه داسې وايي:
امام د تاريخ يو زړه ورو قومندان دی،روسانو د ناپليون لښکر مات کړ خو د امام شامل په وړاندې بې وسه ؤ!
که دنيا ناپليون ته د جګړې سکروټه وايي خو امام شامل د جګړې سور اور ؤ!!!
روسي جنرالانو امام د جګړې نابغه بللو هغوي د امام نظامي استعداد تکتيک او وړتيا نه ګوته په غاښ ؤ چې څرنګه په دومره لږو وسلو، امکاناتو، افرادو او تجهيزاتو جګړه ادارۀ کوي؟!
رحمه الله.

د قفقاز شاهين، امام شامل لنډه پيژندنه:
په کال ۱۷۹۷ کې د شمالي قفقاز د جيمرې کلي داغستان کې زيږيدلی،کورنی نوم اې علي ؤ،بيا په شامل مشهور شو،عراق کې اې ابتدايي زده کړې ترسره کړې۱۸۲۹ کې اې د مجاهدينو په لښکر کې شامل شو له ۱۸۳۴ تر ۱۸۵۹ د مجاهدينو مشر ؤ په ۱۸۷۰ کې د فروری په ۴ مدينه منوره کې وفات شو. اناالله وانااليه راجعون .

د ستر أتل، ستر فکر

د مازيګر تر لمانځه وروسته سلطان محمود غزنوي هغې پراخې کوټې ته ور ننوت، چې د سومنات لوی بوت پکې درېدلی ؤ، د دې بت شاوخوا ته بې شمېره وړوکي بوتان هم وو، د سلطان په أمر يې هغه ټول بتان مات کړل، خو کله چې د لوی بت وار راغی، نو هندي راجه ګان او پالونکي د سلطان محمود په پښو ور پرېوتل، هغوی په ژړغوني غږ زاری وکړې، چې که دغه بت پرېږدې، نو موږ به يې د وزن په أندازه سره زر درکړي.

د سلطان څېره له غصې تکه سره وخوټېده او ځواب يې ورکړ: زه غواړم، چې بُت پلور نه، بُت ماتونکی ياد شم.

بيا يې په دواړو لاسونو يو درund ګوزار اوچت کړ، په فضا کې د سومنات د پالونکيو کړيکې پورته شوې، له دې سره د ډبرې يو ځو ټوټې يوې او بلې خواته تيت شوې، په څو پرلپسې ګوزارونو د بت بڼه ويجاړه شوه، بيا يې د بوت ټوټو ته او واچاوو.
د ځينو رواياتو له مخې د بت مېنځ تش ؤ، چې کله يې مات کړ ډېر قوي جواهر ترې را ووتل، دغه مال تر هغه څو چنده زيات وو، چې بوت پالونکو سلطان محمود ته د بت په بدل کې ورکاوه.

حضرت خنساء رضی الله عنها !

خنساء رضي الله عنها د څلورو زامنو سره يوزای د قادسيه په معرکې کې برخه واخسته، خپلو بچيو ته يې وويل:
ای بچيانو! تاسو په خپله خوښه اسلام قبول کړی، او په خپل اختيار مو هجرت کړی، زما دې په هغه الله قسم وي چې له هغې پرته بل حقدار د بندگی، عبادت نشته، تاسو د يو سړي، پلار بچي وسی لکه څنگه چې د يوې مور، ښځې بچي وسی، ما ستاسو د پلار سره خيانت نه دې کړی او نه مې ستاسو ماماگان شرمولي، تاسو په دې پوهيږئ چې الله د مسلمانانو لپاره څومره لوی اجرونه او بدلې تياري کړي، او په دې هم پوه شئ چې د اخرت تل پاتی کور د دنيا د ختمېدونکي کور څخه غوره دی.

د الجزائر ملاله

لالة فاطمة نسومر (پيدا: 1246 هـ/1830م) رحمها الله تعالى د الجزائر هيواد داسي مېړمن ده، لکه زموږ خدای ببښلي ملاله ميوندی، البته د فاطمي د ژوند تفصيلي حالات او جګړو کي فعاله او قائدانه برخه شتون لري. فاطمه د فرنسوي يرغل خلاف د الجزائري ولس د مقاومت سمبول ګڼل کېږي.

نوموړې د فرنسويانو پرخلاف يوه جګړه کي د مجاهدينو د (7000) کسيز لښکر قومنده په لاس کي لرله، چي د فرنسويانو له (45000) کسيز لښکر سره يې مقابله کوله. دا مهال د فاطمي عمر ايله (23) کاله وه. پايله کې يې فرنسويانو ته سخته ماتې ورکړه، ويل کېږي دې جګړه کي د فرنسوي پوځ (10) جنرالان وژل شوي وو!

فرنسوي مؤرخ (لوی مسينيون) فاطمي نسومر ته د "د جرجرة جان دارك" لقب ورکړی و. جان دارک ( Jeanne d'Arc)وتلي پخوانی فرنسوی اتله ده. او جرجرة د الجزائر شمال کي د غرونو لړی ده. خو فاطمي دا لقب نه خوښوه، هغي ځان ته (د جرجرة خولة) لقب خوښوه. چي مطلب يي خوله بنت الأزور د مشهور مسلمان مجاهد (ضرار بن الأزور) خور وه. فاطمه په کال: 1863م کي په (33) کلنی کي وفات سوه. رحمهم الله جميعاً.
حامد افغان

د پيغمبر له زېرو څه بايد واخلو؟

پيغمبر زېرى وركړ چي د فارس امپراطوري به د مسلمانانو لخوا په ګونډو كېږي. د سعد ابن ابى وقاص لښكر د اسلامي تكليف په ادا كولو او هڅو دغه زېرى رشتيا كړ. پيغمبر زېرى وركړ چي فسطنطنيه د مسلمان امير او لښكر پواسطه فتح كېږي، محمد فاتح له وړوكوالي د دغه زېري د تحقق له پاره هڅه وكړه او د مسلمانانو د لښكر په تيارولو سره ئې دغه وعده رشتيا كړه. پيغمبر همدارنګه زېرى وركړى چي اسلام د دوهم وار له پاره د نړۍ حاكميت په لاس كي اخلي، روم فتح كېږي او د يهودو سره جنګ صورت نيسي، هغه زېري چي تر اوسه متحقق سوي نه دي.
اوس يو وار بيا د اسلامي امت له پاره يو طلايي فرصت برابر سوى، تر څو د بشري نظامونو په نفي او له منځه وړلو سره په خپلو خاورو كي د مسلمانانو تر مينځ د فكري او سياسي يو والي له پاره لاس په كار سي او د اسلام د پيغمبر پاته زېري هم متحقق كړي؛ د دغو زېرو او بشارتونو پيغام بدلون او اوښتون دئ، د جهد او مبارزې پيغام دئ، د اسلامي مكلفيت په ادا كولو كي د سبقت او مختوالي پيغام دئ او په نهايت كي د الله متعال د رضا د كسب او په جنت كي د لوړلو درجو د ترلاسه كولو پيغام دئ.

اتريشی الاصله عمر پاشا!

لومړنی نوم ئې ميخائيل او په اتريشی پوځ کې افسر وو، د مسلمانېدو په خاطر ئې بوسني ته هجرت وکړ، هلته ئې خپل اسلام اعلان کړ او پر ځان ئې د عمر نوم کېښود، وروسته بيا د عثماني خلافت په پوځ کې شامل او لوړو پوړو ته ورسېدو.
د قرم په مشهوره جګړه کې چې د عثماني خلافت او روسانو ترمنځ پېښه شوه، د مسلمانانو قومنده ئې په لاس کې وه چې د دې جګړې په ډګر کې روسانو سخته ماته وخوړه او ٤٠٠٠٠٠ روسي سرتېري ووژل شول او نور وتښتېدل.

د سلطان محمد فاتح د خطبو يوه برخه!
اې ميندو! کېک جوړول او د کور ښکلا جوړونه مو کمه کړئ، سړي جوړونه زياته کړئ؛ ځکه زموږ راتلونکې امت سرکوزو پسونو ته اړتيا نه لري، زړورو زمريانو او مومنو زړونو ته اړتيا لري.
تنګ پتلونونه او غربي موډلونه علي ابن ابي طالب نه جوړوي، چې د خيبر فاتح شي.
هغوی چې په غربي کيسو کې ورک دي، په همغو توهماتو کې پاتېږي.
هغه ته صلاح الدين غږ وکړئ، له وقاصه يې خبر کړئ او د قعقاع محبت ورزده کړئ.
هغو ته ووايئ عمر بن خطاب څنګه په پيوند جامو د شرق او غرب امپراتورئ په ګونډو کړې او د قدس فاتح شو.

عندما کنا عظماء

د عراق د فتحو په دوران کې خالد بن ولید رضي الله عنه فارسیانو ته ولیکل:
" د خالد بن ولید له طرفه د فارس مجوسي دولت مشرانو ته:
الحمد لله، ټول ثنا او صفتونه د ألوهیت هغه ذات لپاره دي چې ستاسو خدمت یې ختم کړ، یو والی یې ستاسو ټوټې ټوټې کړ، قوت، زرو او جنګ یې ستاسو کمزوری کړ، مالونه یې ستاسو سلب کړل، عزت یې ستاسو په ذلت بدل کړ
کله چې زما خط در ورسېدو نو اسلام ومنئ، تسلیم شئ، او یا ذمي توب ومنئ، یا جزیه قبوله کړئ، که داسې ونه کړئ نو زما دې پر هغه ذات قسم وي چې له هغې پرته بل إله، معبود او حقدار د بندګۍ نشته، داسې قوم به در ولېږم چې مرګ داسې خوښوي لکه تاسو چې څنګه ژوند خوښوئ او مینه ورسره لرئ چې ژوندي ووسئ"

سلطان صلاح الدین ایوبي !

یو اروپایي تاریخ پوه لین پول لیکي: چې د غنیمت دومره زیات مال به د صلاح الدین ایوبي لاس ته ورته، چې حساب به یې نه ؤ، جنګي بندیان هم له شمېره وتلي ؤ، صلاح الدین ایوبي به د غنیمت ټوله شتمني په درې برخو وویشله، یوه برخه یې په جنګي بندیانو وېشله او هغوی یې آزادول، دوهمه برخه یې په خپلو پوځیانو او غریبانو وېشله او درېیمه برخه یې د نظام الملک مدرسې ته ورکوله.

هغه پخپله هم په همدې مدرسه کې زده کړې کړې وې، نه یې پخپله ځانته څه وساتل او نه یې خپل کوم جرنیل ته څه ورکړل، ددې وېش پایلې دا شوې، چې د جنګي بندیانو زیاته برخه که مسلمانان ول او که غیر مسلمان، ټول د صلاح الدین ایوبي په پندغالي کې را ټول شول او د هغه د اطاعت په منلو سره یې د هغه په پوځ کې خپل خدمات پیل کړل. د ایوبي لویوالی او سترتوب تر لرې لرې ځایو پورې مشهور شو.

اروپا څو پيړۍ وړاندې !
* څو پيړۍ وړاندې په اروپا کې ځان وينځل يا لمبل کفر ګڼل کېده
* په اندلس کې د ميلينونو مسلمانانو قاتله ملکه ازابيلا په خپل ټول عمر کې فقط دوه کرته لامبلي و بلکې د اندلس په ډيرو ښارونو کې يې د مسلمانانو ټول حمامونه ويجاړ کړل .
* د اندلس يو بادشاه دويم فليپ د خپل واک پر مهال په خپل هيواد کې په لامبلو مکمل بنديز لګولی و .
* د هغه لور دويمی ازابيلي قسم خوړلی و چې تر څو مي د ښارونو محاصره ختمه کړي نه وي نو جامي يا لباس به نه بدلوم خو د محاصرې ختميدلو درې کاله وخت ونيوه .
* د روس بادشاه خپل يو استازی د فرانسی بادشاه څلورم لوئس ته واستولو هغه خپلو يادښتونو کې ليکلي دي چې : د فرانسی د بادشاه څخه داسي يو ډول بد بوی راتلله چې ځناورو هم وربانديې شرف درلوده .
* د همدی څلورم لويس يوه خادمه وه چې مونټي سپام نوميده هغی به د بادشاه د بد بوی څخه د ځان ساتلو لپاره خوشبو لګوله چې څو کرته بادشاه وربانديې خفګان هم ښکاره کړی وې .
* روسيانو هم د خپل نظافت خيال نه ساتلو
مشهور هم سياح ابن فضلان ليکلي : د روس بادشاه دومره بی تهذيبه و چې د ميلمنو د وړاندی به پاڅيده او په ولاړه به يې په شاهي ديوال متيازی کولی بلکې د غټ او کوچني اودس ماتي څخه وروسته يې استنجاء هم نه کوله چې داسی مردار خور او پليت انسان مور نه و ليدلی .
* دا د عوامو نه بلکې د هغوی د بادشاهانو حالت او واقعات دي کوم چې تاريخ په خپله سينه کې ساتلي دي د عوامو به يې څه حال و ؟
* کله چې ريډ انډينز ( سره هندوان ) د اروپايانو سره جنګيدل نو د پوزی سره به يې د ګلاب ګل نيولي و او جنګيدل به ځکه چې د اروپايانو د تورو څخه د هغوی بد بوئ ډير تيزه او خطرناکه وه .
کله چې مونږ کتابونه ليکل ، کله چې مونږ پوهنتونونه او علمي درسګاوې ابادی کړی وې ، کله چې موږ په شمسي نظام څيړنی کولی هغه مهال د دوی بادشاهانو په لامبلو انسان وژلو .
* کله چې د لندن او پارس ابادۍ د 30 يا 40 زره خلکو څخه زياتی نه وی هغه مهال د اسلامي هيوادونو د ښارونو ابادي د مليونونو څخه پورته وه .
د فرانسی خوشبو ډيره مشهوره ده د هغی وجه دا ده چې بغير د خوشبو لګولو څخه د پيرس په ښار کې ګرځيدل ناممکن و .
* يو فرانسوي مؤرخ ليکلي : موږ اروپايان د مسلمانانو په هر څه کې پور وړي او احسانمند يو ځکه چې همدوی موږ ته د ژوند تيرولو اصول وښودل ، همدوی مونږ ته د پاکوالي طريقی او اهميت وښوده ، همدوی مونږ ته د لباس اغوستل ، بدلول او لمبل راوښودل ، هغه مهال چې مونږ به لغړ ګرځيدلو دوی به د خپلو کاليو تنی يا بټنی د ياقوتو او زمرودو څخه ښايسته کولی ، مونږ په جونګړو او کيږديو کې ژوند کولو خو دوی محلونه جوړول او ...

* هغه مهال چې دوی لامبل کفر ګنل هغه وخت په قرطبه کې 300 حمامونه و خو هغوی زموږ څخه علم ، ساینس او د پرمختګ راز خپل کړ او موږ خپله تګلاره پریښوده ، هغوی سپوږمۍ ته ورسیدل او په مریخ باندی ځیږنی کوي خو زموږ مسلمانان په امین بالجهر او رفع الیدین نه کولو باندی یو بل د اسلامه وباسو او امت مو په دی فرعي مسایلو کې ښکیل کړی بلکی یو د بل دښمن کړی مو دی لمثل هذا یذوب القلب فی کبد .

خالد ولی خلدون سو؟

شاید چې علم پوهان به د تاریخ ابن خلدون څخه خبر وي او شاید ځینو لږ یا ډیر مطالعه کړی هم وي، د دغه کتاب د مؤرخ اصلي نوم عبدالرحمن دی، خو دی د نیکه په نسبت سره په ابن خلدون ( خالد ) سره شهرت موندلی دی.

دا چې د ده نیکه خالد نومیدی، دغه خالد ولی په خلدون بدل سو؟ مولانا محمد حنیف ندوي رح په خپل تصنیف سوی کتاب ( افکار ابن خلدون ) - کوم چې په ۱۹۵۴ کي چاپ سوی - دوې وجه ویلی دي.

۱ - څرنګه چې د ده د نیکه اصلي تعلق تر عربي خاوري پوري ؤ، په اوله هجري سنه کي یې د عربي خاوري څخه هجرت وکړی او په هسپانیه کي یې سکونت اختیار کړی، په هسپانیه کي د ابادو سوو عربانو دا قانون ؤ چې په خپله سلسله نسب کي به یې نسبتا غیر معروف شخص و ټاکی او د هغه د نامه په آخر کي به یې واو او نون د دې لپاره اضافه کړی چې د دغه ځآی د اصلي اوسیدونکو سره امتیاز وسي.

۲ - وجه یې داسي بیان کړی چې واو او نون په هسپانوي ژبه کي د یو نامه سره د اضافه توب په وخت کي تکبیر فایده کوی، لکه د خلدون څخه خالد اکبر، د حفصون څخه حفص اکبر او د بدرون څخه بدر اعظم.

زموږ د عظمتونو ډکه ماضي رایاده شوه !

په ( 1580 م ) کال کې د برطانيي ملکې الزبت د عثماني خلافت خليفه سلطان مراد سويم څخه د هسپانيي د حکومت په خلاف مرسته غوښتی وه ، ملکې په خپل خط کې داسی ليکلي و :
موږ د دين له لحاظه پروتستان عيسويان يو ، موږ هم د مسلمانانو په څير د بتانو عبادت نه کوو بلکی نفرت ورڅخه لرو خو هسپانوي عيسويان د کيتهولک مسلک خاوندان دي او بت پرستي کوي ځکه خو تاسی د هغوې په خلاف زموږ سره مرسته وکړئ !
د ملکې د ليک په ځواب کې ورته خليفه يو ليک واستولو چې داسې يې ورته ليکلي و : موږ به تاسی د هسپانويانو د حملو څخه وساتو خو د دی په بدل کې به تاسې د خلافت د دربار درشل ته سرونه ښکته کوئ !
د خليفه د ليک په ځواب کې د برطانيي ملکې د خلافت د دربار د اطاعت اعلان وکړ چې په دی سره عثماني خلافت برطانيه د هسپانويانو د حملو څخه وژغورله ، له دی څخه وروسته ملکې او برطانوي حکومت خليفه او د خلافت د دربار وزيرانو ته قيمتي ډالی د مننې په ډول راوړلی تر دی پوری چې يوه ورځ د برطانيې يو سفير د عثماني خلافت يوې کښتی ته ټيټ سر راپورته شو او د أيډمرال قليج پاشا لاسونه يې ښکل کړل .
دا د هغه مهال واقعات دي چې خلافت د اول په شان زورور هم نه و خو بيا هم د نړی کفار ورڅخه ويريدل او د مسلمانانو په سر باندی يو د امن او عزت چت و .
تاريخ خلافت عثمانيه
ژباړه ( 22 /01 /2020 )

اندلس يا اوسنۍ هسپانيه د ځمکې پر سر د مسلمانانو جنت وو...

په (۱۹۷۴) زېږديز کال کې د هسپانيې له هېواد څخه د صدام حسين د ليدنې په ترڅ کې چې کله هغه او د هسپانيې ولسمشر (فرانکو) يو ځای ډوډۍ وخوړه نو ښاغلي (فرانکو) له صدام حسين څخه د دې هېواد د مادريد ښار ته د چکر وهلو غوښتنه وکړه. اما صدام حسين ترېنه ښښنه وغوښته او ويې ويل : زه غواړم د قرطبې له هغه لوی جومات څخه ليدنه وکړم چې له شپږ سوه کلونو څخه راپديخوا تر دې دمه پکې کوم چا لمونځ ندی اداء کړی.
نو کله چې اروا ښاد صدام حسين دې پخواني جومات ته ورسېد نو د ماسپښين د لمانځه وخت هم وو . صدام حسين ورسره مل عراقي لوړ پوړي پلاوي ته را مخ کړو او ورته يې وويل : په تاسو کې څوک داسې ښه غښتلي غږ لري تر څو هغه لوړ آذانځای ته هسک شي او داسې ښه په لوړ آواز سره آذان وکړي. په پلاوي کې يو ګډونوال وويل. ريئس صيب!! زه به اذان وکړم. صدام حسين هغه کس ته وويل!! هغه لوړ آذانځای ته هسک شه او ښه په لوړ غږ آذان وکړه. کله چې هسپانويانو د آذان ملکوتي بلال دودې نعره واورېده نو په زړونو او جسمونو يې خاموشي حاکمه شوه او ټول هک پک شول. بيا صدام حسين په همدې پخواني جومات کې له خپل پلاوي سره يو ځای د ماسپښين لمونځ اداء کړ .
د لمانځه تر اداء کولو وروسته د کوربه هېواد هسپانيا ولسمشر فرانک اروا ښاد صدام حسين ته په ډېره حيرانتيا سره وويل : ښاغلی ولسمشر صدام حسين!! د اندلوسي عربي دولت تر را پرځېدلو وروسته چې شپږ پېړۍ پرې تېرې شوېدي دا لومړی ځل دی چې له دغه لوړ آذانځای څخه په خورا جګ غږ آذان ترسره کېږي. صدام حسين وخندل بيا يې د کوربه هېواد د ولسمشر پر مټ لاس کېښود او په غرورمله انداز سره يې وويل!! موږ هېڅکله هم دا ځايونه نشو هېرولای .زموږ لومړۍ يونلاره بيت المقدس او دويمه يونلاره مو قرطبه ده. تاسو ښېغمه اوسئ.
د اروا ښاد صدام حسين د دې خبرې په ځواب کې د هسپانيې ولسمشر فرانک هېڅ هم ونه ويل او همداسې چوپ پاتې شو.
خو اوس ......
د مشرق د غيرت چيغه په مرګوني لاس خپه ده .

ستر مختار مرګي اخيستى صدامي جذبه مړه ده.

ځيني مسلمان ساينس پوهان

اول: خوارزمي (۸۵۰-۷۹۰ بغداد) د رياضياتو، هندسې او فلکياتو عالم و د الجبر بنسټګر دی، کتابونه يي ډېر پخوا نورو کلتورونو ته ژباړل شوي دي، بلکې د ده له امله د عربې ځيني کلمات لکه الجبر Algebraصفر Zeroنورو لاتيني ژبو ته ننوتی دي.

دويم: ابن هيثم (۱۰۴۰-۹۶۵ قاهره) د فزيک او هندسې عالم و، د جامع از هر سره تړاو درلوده، بصری علومو( Opticsپر مختګ کې ډېره ونډه درلوده، دکمرې د اختراع اصول ده ته منسوب دی، او ډېرو څېړونکو ثابته کړي چې د (کمرې) کلمه چې ډېرو ژبو کې شته، په اصل کې عربې (قمرة) کلمه ده، او دا دهغې رڼا خوني نوم و کومه چې ابن هيثم اختراع کړې وه.

دريم: بيروني (۱۰۴۸-۹۷۳ خوارزم) د فلکياتو لوی عالم و، او لومړی هغه څوک و چې وويل: ځمکه پر خپل محور څرخېږي، او د ځمکې جاذبې قوې ته اشاره وکړه.

څلورم: زهراوي (۱۰۱۳-۹۳۶ اندلس، هسپانيا) هغه مسلمان ډاکټر او جراح و، چې په لاسونو يي د جراحت علم پرمختګ کړي دي، او په خپلو کتابونو کې د سلګونو جراحي سامان آلاتو بيان کړي دي، وروسته بيا د هغه کتابونه په طب او جراحي کې د ډېرو پېړيو لپاره په مختلفو ژبو کې اساسې سرچينې وې.

پنځم: ابن سينا (۱۰۳۷-۹۸۰ بخارا) په علمي چاپېريال کې د سينا ( (Avicennaپه نوم پېژندل کېږي، ډاکټر او مشهور فيلسوف دي، چې د خپل وخت نه مخکې ګڼ شمېر طبي پديدي (ظاهرې) څرګندی کړی دی او علاج ورته وړاندې کړي دي، همدا رنګه په خپلو طبی څېړنو کې علمي تجربې ته ډېر اهميت ور کړي دې چې دقيقې پايلې درلودي، او تر ننه پاتې دي، چې د هغه د (قانون) نومې کتاب کې ښکاره کوی، کوم چې د طب په زدکړو کې د اوه پيړو لپاره اساسی مرجع وه، او د اروپا په پوهنتونو نو کې د اوولسمه پيړې تر نيمايي تدريس ده.
کله چې په طب کې مشهور شو، بيا د بشری همدردی او په خپل علم او پوهي دالله نه د مننې په توګه د ناروغانو وړيا درملنه کوله.
شپږم:، ابن نفيس (۱۲۱۳- ۱۲۸۸ دمشق) د فقهي او شريعت عالم و، خو په ورته وخت کې د طب غټ ډاکټر و، او په تاريخ کې د فيزيولوژی ستر پوهه و، هغه لومړي کس دې چې په بدن کې د وينې جريان کشف او بيا دقيق تشريح کړ، او څو د طب نظريات لري چې تر اوسه يي په ډېرو عمل کېږي.

يادونه: زياتره ساېنس پوهانو او طبيبانو د ژوند ابتدا د قرآن د زده کړو نه پيل کړی چې بيا وروسته يې ډيرو علومو ته د لارې خلاصی شوی.

صلاح الدين ايوبي په کال د 532 هجری " 1138 ميلادي " د عراق د تکريت په ښار کې وزږيد .

د هغه کورنۍ د ده د پيدا کيدو په شپه عراق ترک او د موصل ښار ته وکوچيدل ، يو کال وروسته له هغه ښار څخه بعلبک چې په اوسني لبنان کې موقيعت لري ميشت شول او پلار يې هلته حاکم مقرر شو .
د صلاح الدين ماشومتوب په همدې ښار کې تير شو ، لومړی زده کړې په همدې ښار کې تر سره کړې ، قرآنکريم يې حفظ کړ ، حديث ، فقه ، لغت او تاريخ يې ولوستل ، د سورلی او مبارزې فن يې زده کړ .
د ځواني په پيل کې حلب ( چې په اوسنی سوريه کې موقيعت لري ) لاړ او هلته د خپل کاکا سره چې د "نورالدين محمود " له قوماندانو څخه وو يو ځای شو "نورالدين محمود " هغه وخت د حلب او دمشق حاکم وو , کله چې نورالدين محمود په کال د 569 هـ "1174 ميلادی " وفات شو، صلاح الدين ايوبي د ايوبيانو حکومت تشکيل کړ او قاهره يې د خپل سلطنت پلازمينه وټاکله او د ايوبيانو د حکومت مؤسس سو د مصر ، شام ، عراق ، يمن ، حجاز مناطق يې د حکومت تر تسلط لاندې کړل او
وروسته يې د دمشق ، حمص ، حماة بعلبک سيمې هم و نيولې او د نورالدين له خاندان څخه يې خپله خپلواکي اعلان کړه او خپل ځان يې مستقيماً د عباسي خلافت تابع و بللو او د هغوی څخه يې د سلطان لقب تر لاسه کړ .
د سلطان صلاح الدين ټول کوښښتونه د اسلامي امت د وحدت او يوالي د پاره وو ، هغه تقريباً لس کاله د اسلام د سياسي قوت او اسلامي فوځ د يوالي او خپل منځي اختلافاتو د له مينځه وړلو په لاره کې مبارزه وکړه بلاخره هغه د يو ستر اقدام د پاره چې د صليبي يرغلګرو څخه د بيت المقدس آزادول وو ځان چمتو کړ . او وروسته و توانيد چې د بيت المقدس په شمول زيات ښارونو د صليبيانو څخه آزاد کړي .

## سلطان صلاح الدين ايوبي (رحمة الله عليه)

صلاح الدين يوسف بن ايوب چې د ايوبيانو د حکومت مؤسس وو د مصر ، شام ، عراق ، يمن ، حجاز مناطق يې د حکومت تر تسلط لاندې وو ، قدرت تر رسيدو مخکې په دمشق کې د صلاح الدين لقب ورکړ شو او په مصر د «الملک الناصر» لقب ورکړ شو هغه و توانيد چې د بيت المقدس په شمول زيات ښارونه د صليبيانو څخه آزاد کړي همدا وجه وه چې د صلاح الدين ايوبي اسلامي فتوحاتو اروپا ولړزوله د صليبيانو د دريم جنګ عامل شو چې فرانسې ، انګليستان او جرمني د ده د مقابلې د پاره ستر لښکر چمتو کړ .

د صلاح الدين ايوبي نسب :

د ايوبيانو نسب د ايوب چې د شادي ځوی او هغه د مروان ځوی چې د «دوين» ښار چې اوس ارمنستان بلل کيږي رسيږي چې په غالب ګمان د کرديانو له نسل څخه دی .

د صلاح الدين ايوبي زږيدنه ، تعليم او تربيه :

صلاح الدين ايوبي په کال د (۵۳۲) هجری (۱۱۳۸ ميلادي) د عراق د تکريت په ښار کې وزږيد .

د هغه کورنی د ده د پيدا کيدو په شپه عراق ترک او د موصل ښار ته وکوچيدل ، يو کال وروسته له هغه ښار څخه بعلبک چې په اوسني لبنان کې موقيعت لري ميشت شول او پلار يې هلته حاکم مقرر شو .

د صلاح الدين ماشومتوب په همدې ښار کې تير شو ،

لومړی زده کړې په همدې ښار کې تر سره کړې ، قرآنکريم يې حفظ کړ ، حديث ، فقه ، لغت او تاريخ يې ولوستل ، د سورلی او مبارزې فن يې زده کړ .

د ځواني په پيل کې حلب ( چې په اوسنی سوريه کې موقيعت لري ) لاړ او هلته د خپل کاکا سره چې د «نورالدين محمود» له قوماندانو څخه وو يو ځای شو «نورالدين محمود» هغه وخت د حلب او دمشق حاکم وو .

د صلاح الدين ايوبي د فعاليت او کار پيل :

په هغه وخت کې مصر د «عاضد» چې فاطمي خاندان له خلفاؤ څخه وو تر سلطنت لاندې وو چې مصر له سختو شرايطو سره مخ وو ځکه ددې سلطنت دوو خليفه ګانو «شاور» او «ضرغام» د مصر د وزارت پر سر پخپل مينځ کې په جګړه بوخت وو چې مصر يې له سختو مشکلاتو سره مخ کړی وو .

بلاخره ضرغام مصر تر خپلې ولکې لاندې راوست او شاور يې له مصر څخه ويستلو ، شاور په کال (۵۵۸) هجري د نورالدين د کومک غوښتلو په موخه دمشق ته لاړ .

نورالدين د دوو اهدافو د پاره اسدالدين شير کوه له شاور سره يو ځای مصر ته وليږلو ، لومړې دا چې د شاور مرسته وکړې ، دوهم دا چې د مصر له اوضاع څخه خبر شي ، ځکه ده اوريدلي وو چې د مصر اوضاع کاملاً خرابه ده او په مصر کې فاطمي حکومت له ضعف سره مخ دی ، صلاح الدين که هم مصر ته تګ يې نه خوښولو خو کاکا يې

هغوی په کال د (۵۵۹) جمادي الاول کې مصر ته داخل شول او د همدې کال د رجب په

مياشت كې يې مصر لاندې كړ . د ضرغام له وژلو او د شاور د دوهم ځل قدرت ته رسيدو وروسته شاور له اسدالدين سره خيانت وكړ له اروپايانو څخه يې مرسته وغوښته . فرنګيانو نورالدين په بلبيس كې محاصره كړ او هغه د لښكر د كمبود له امله له مصر څخه په شا تګ ته مجبور شو .

نورالدين او اسدالدين چې د فرنګيانو سره د شاور په پټو ارتباطاتو خبر شول نو دوى ووېريدل چې هسې نه مصر او نور اسلامي مناطق د فرنګيانو لاس ته ولوېږي نو ځكه يې د اسدالدين په مشرى لوى فوځ چمتو او صلاح الدين سره يو ځاى يې پر مصر حمله وكړه ، فرنګيان ، شاور او نور مصريان د نورالدين پر وړاندې يو لاس شول او ستره جګړه را مينځته شوه .

څه وخت وروسته يې له اسدالدين سره صلح وكړه ، اسدالدين بيرته دمشق ته لاړ لكن د اسدالدين په غيابت كې فرنګيانو يو ځل بيا پر مصر حمله وكړه ، نورالدين او اسدالدين بيا خپل لښكري چمتو كړې ، شاور چې كله پوه شو چې اروپايان وځي نو له اسدالدين څخه يې كومك وغوښتلو ، او اروپايان چې كله پوه شول چې شاميان او مصريان سره يو لاس شول نو له حملي كولو يې صرف نظر وكړ او بيرته په شا شول .

اسدالدين په مصر كې ميشت شو او دى پوهيده چې شاور هر لحظه په دې فكر كې دى چې څنګه خيانت وكړي نو ځكه يې شاور له صحنې لرې او خپله د ربيع الاول په (۱۷) په كال (۵۶۴) يې د مصر وزارت په خپل واک كې راوستلو ، وروسته په همغه كال د جمادى الثانى په (۲۲) تاريخ وفات شو .

د مصر وزارت :

د اسدالدين د وفات وروسته ، صلاح الدين د مصر د وزارت مقام تر لاسه كړ ، په پيل كې څه نارامى موجودي وې چې د فاطمي خلفاؤ صلاح الدين ته مكمل واک نه وو سپارلى مګر صلاح الدين څه وخت وروسته په پوره تدبر سره د مصر مكمل واک لاس ته راوړ .

په مصر باندې حكومت :

د عاضد د مرګ وروسته چې د فاطمي خلفاؤ وروستى خليفه وو ، په مصر كې د عبيديان خلافت پاى ته ورسيد او صلاح الدين ايوبي د نورالدين د نماينده په توګه د مصر حاكم شو .

صلاح الدين ايوبي د مصر اقتصاد ورغولو او د پخواني نظام عناصر يې لرې كړل او فوځ يې دوباره تشكيل كړ ، هغه د خپل پلار وصيت عملي كړ چې له نورالدين سره به هيڅ اختلاف نه كوې د نورالدين تر وفات پورې د هغه تر بيرغ لاندې وو .

د ايوبيانو حكومت :

كله چې نورالدين محمود په كال د (۵۶۹) هـ (۱۱۷۴ ميلادى) وفات شو، صلاح الدين ايوبي د ايوبيانو حكومت تشكيل كړ او قاهره يې د خپل سلطنت پلازمينه وټاكله او د سلطان لقب يې و ګټلو .

وروسته صلاح الدين د دمشق ، حمص ، حماة او بعلبک سيمي هم و نيولي او د نورالدين له خاندان څخه يې خپله خپلواكي اعلان كړه او خپل ځان يې مستقيماً د عباسي خلافت تابع و بللو او د هغوى څخه يې د سلطان لقب تر لاسه كړ .

د سطان صلاح الدين ټول كوښښتونه د اسلامي امت د وحدت او يوالي د پاره وو ، هغه تقريباً لس كاله د اسلام د سياسي قوت او اسلامي فوځ د يووالي او خپل منځي اختلافاتو د له مينځه وړلو په لاره كې مبارزه وكړه بلاخره هغه د يو ستر اقدام د پاره چې د صليبي يرغلګرو څخه د بيت المقدس آزادول وو ځان چمتو كړ .

د مېرمنو هڅونه :

په ۵۰۱ هجري قمري كال كې علي ابن يوسف ابن تاشفين په اندلس كې له صليبيانو سره جهاد ته روانېده مخكې له دې چې جهاد ته روان شي وړمه شپه يې خپله كورنۍ را وبلله تر څو دى هغوی او هغوی ده ته وصيتونه وكړي ، كله يې چې له كوره د وتلو هوډ وكړ چې شپه له خپل لښكر سره تېره كړي خپلې لومړۍ مېرمنې ته يې وويل: كه الله تعالى د شهادت پېرزونه راباندې ونه كړه نو ايا څه غواړې ؟
ــ هو
وايه !
ــ د دښمن د هغه لومړي عسكر توره چې ته يې ووژنې او د هغه وروستني عسكر ډال چې ته يې ووژنې او د دښمن د قومندان اس كه يا مړ او يا وتښتېده ، غواړم !
ابن تاشفين د لومړۍ مېرمنې جهاد ته د ډېرې هڅونې په خبرو ډېر خوش شو او ورغبرګه يې كړه كه وتوانېدم همداسې به كوم .
بيا يې دوهمې مېرمنې ته وويل : ته څه غوښتنه لرې ؟
ــ هو .
ــ وايه!
ــ كه د مسلمانانو لښكر ماتې وخوړه نو ته دې خپل سر په اوږو بار مه راته راستنوه !
د دوهمې مېرمنې په جهادي هڅونه ابن تاشفين لا ډېر اغېزمن شو او پر خپلو نېكو مېرمنو يې د الله تعالى شكر وكيښ.

د قادسيې د جنګ تاريخي واقعه!

ابومحجن ثقفي يو مشهور شاعر او غيرتي سړي وو، سعد بن وقاص (رضي الله عنه) د شراب
څکلو په جرم زنداني کړی وو، ابو محجن د زندان له کړکی څخه د جنګ صحنه کتله او د
ډېرې جزبې او شجاعت له وجهې ډېر بې تابه وو، د سعد (رضي الله عنه) مېرمن د هغه ځای
څخه تېرېدله ، ابومحجن ورته وويل چي د خدای لپاره ما پرېږدئ، زه هم غواړم چي د دښمنانو
سره جنګ وکړم او خپل براس وباسم، که چېرته ژوندی پاتې شوم نو خپله به راشم او زولنې
به په پښتو کړم، زبراء چي کله انکار وکړ نو ابو محجن له ډېره درده دا اشعار وويل:
كفى حزنا ان تردى الخيل بالقنا
و اترک مشدودا على وثاقيا
اذا قمت عنا في الحديد و اغلقت
مصاريع من دوني تصم المناديا
زما لپاره همدا غم کافي ده چي زه دې په زولنو کې تړله يم او دوئ په اسپ سوار نيزې چلوي،
کله چي زه غواړم چي پورته شم نو زولنې مې نه پرېږدي، او دروازې وتړل شي چي
غوښتونکی په غوښتلو غوښتلو ستړی شي،
زبراء ورته خوا بدې شوه او زولنې يې ترې خلاصې کړې، ابومحجن چي څنګه آزاد شو نو د
برق په څېر يې د جنګ مېدان ته ځان ورساوو او په داسې شان يې حمله وکړه چي په کوم
صف به ننووت نو هغه صف به يې درهم برهم کړ، سعد بن وقاص (رض) هم ډېر حېران وو
چي دا غيرتي سړی څوک ده؟ ځان سره يې چورت وواهه چي د دې حملې انداز خو د
ابومحجن په څېر ده خو هغه خو په بندي خانه کې ده.
کله چي د شپې جنګ ختم شو نو ابومحجن بيرته زندان ته راغی او خپلې زولنې يې په پښو
کړې نو سلمی دا ټوله واقعه سعد (رض) ته وکړه، سعد (رض) په همدغه وخت ابومحجن
پرېښود او وې ويل.
په رب العالمين مي دې قسم وي کوم شخص چي په داسې طريقې سره په مسلمانانو باندې
جانثار وي زه هغه نشم زنداني کولای. ابومحجن وويل :
خو په خدای دې زما هم قسم وي چي د نن څخه وروسته به هېڅ کله شرابو ته لاس ورنه وړم .

قاضي بهاوالدين ابن شداد ليکي

د بيت المقدس شريف فتحه يوه ستره فتحه وه چې د علماو او پوهانو ستر جماعت پکې برخه درلوده، کله چې مسلمانان د سلطان صلاح الدين ايوبي رحمه الله د شام له فتوحاتو څخه خبر شول او پر دې پوه شول چې د قدس شريف د فتحې لپاره را روان ده، نو د مصر او شام ټول پېژندل شوي علماء له هغه سره يو ځای شول، د دعا او تکبير آوازونه يې پورته کړل، خطبه وويل شوه او د جمعې ورځ بيت المقدس شريف ته ورسېدل، هغه صليب(†) چې پر مسجدالصخرة باندې لګېدلی وو را ټيټ يې کړ، الله تعالی د مسلمانانو نصرت وکړ کامياب يې کړل.
د قدس شريف فتحه وروسته له ۹۰ کاله څخه په ۵۸۳ هجري کال د رجب د مياشتې پر ۲۷ تاريخ وشوه او د مسلمانانو لاس ته د اسلام لمړۍ قبله ورغله.

لومړۍ صليبي جګړې:

هغه جګړې دي چې مسيحي کشيشانو او راهبانو اروپايي ملتونو د صليب او د هغه د بيرغ لاندې د اسلام او مسلمانانو سره برابرول او جګړه يې کوله.
تاريخ يې لومړي ځل باندې دويم سلفستر وو چې په ۱۰۰۲ زيږديز کال يې اروپايي ملتونه د اسلام پر ضد جګړې ته راوبلل خو د ده بلنه چا ونه منله د هغه ورسته بيا پاپ ( خورفوريوس) په ۱۰۷۵ زيږديز کال بيا دا بلنه ورکړه او د خلکو احساسات يې راوپارول، خو د ده بلنه هم شل کاله وځنډيده چې په پای کې په ۱۰۹۷ کال کې اروپايي هيوادونو پر اسلامي هيوادونو حمله وکړه، هغو د مسلمانانو پر ښارونو کليو کې د هغه جنايتونو مرتکب شول چې پرته له استثنا به يې هر څوک وژلو مالونه به يې لوټول کورنو يې ورانول کورنۍ يې وژلي او يا به يې تيښتې ته اړ کول.

صليبي جګړې څنګه پای ته ورسيدې:
صليبي جګړي په خپل زور او قوت سره تر دوه پيړيو (۴۸۹) څخه تر (۶۹۰) هجری کال پوري رواني وي صليبيانو په دي دوه پيړيو کي بی شميره جينايتونه ، وحشيانه عام قتلونه ، لوټني ،ډليزي وژنی وکړي خو د مسلمانانو په خاوره کي هيڅ ريښي پيدا نه کړي عامل يی د امت مسلمه اتفاق اتحاد وو کله به چي يو اسلامي مشر شهيد شو بل به د اسلام لښکري د کفر په مقابل کی رهبري کولي او د خپلي عقيدي څخه يی په سر او مال دفاع کوله په دي وخت کي د دوه لويو قهرمانانو نومونو اخيستلي شو چي يو يی شهيد نورالدين محمود زنګي رحمه الله او بل صلاح الدين ايوبی رحمه الله دي همدوي ؤ چی اسلامي لښکر يی رهبری کړي او په خپل ټول صبر، استقامت ، توان ، سره د الله جل جلاله په لار کي مبارزه وکړه او صليبی لښکرو ماتی وخوړه او سر ټيټي خپلو هيوادونو ته ستانه شول خو دي ماتی د نورو ماتو سره توپير درلودو دا ځل يی د مسلمانانو د بري راز کشف کړي وه او د يو لوی جنګ او درس په ډول يی د ځان سره وساته هغوی پو شول چی اسلامي امت څه هم په ظاهر کمزوري ښکاری خو تر څو چی د اسلامي امت ايمان ، اعتقاد ، او اتحاد پوره او د اسلامی قوانينو او ديني شعائرو او د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر سنتو منګولی ټينګی وي نو دوی به هميشه کامياب او بريالی وي د صليبيانو جنايتونه
د جولای په (۱۵.۱۰۹۹ زيږديز کال چی د رمضان د مياشتی ۳/۴۹۳ هجری قمری کال سره سمون خوري صليبيانو د بيت المقدس ښار ونيو او تر اويازرو څخه زيات شمير بی ګناه او بی دفاع مسلمانان يی شهيدان کړه مشهور رابټ صليبی کشيش واي چي زمونږ کسان به د کورونو په چتو ګرځيده چی هر څوک به يی وليدو هغه يی واژه او کله ناکله به يی د وخت د کموالی له امله څو تنه په يو پړي اعدامول
د صليبي جګړو موخي

(۱) په اسلامی هیوادونو کي مسيحيت خپرول
(۲) د هغه مسلمانانو نه غچ اخیستل چي هغوي په خپلو هیوادونو کي ورسره و جنګيدل چی د مديترانی بحيره يی اسلامي بحيره وګرځوله او په اروپايی هيوادونو يی برید وکړه او د فرانسی ترجنوبه پر مخ لاړه
(۳) او له هغه مسلمانانو غچ اخيستل چی د ختيځ سیمی يي د روم د کلیسا له واک څخه خپواکي او اسلامي حکومتونه یی پکي رامنځ ته کړه
(۴) د اندلس ، هسپانيه ، بيرته اخیستنه چي مسلمانانو په ۹۲ هجری کال کي فتحه کړي او اسلامي حکومت يی په کی رامنځ ته کړ
(۵) په اسلامی هیوادونو برید کول تر څو د هغوی واک په لاس کی ولري او مادي منابع يي خپلي کړي
(۶) د يهودو پټ سازش او موخی ترسره کولو لپاره چي مسيحيت د اسلام سره په جنګ کړي تر څو دواړه کمزوري او د نړۍ واک يهودو ته په لاس ور شي.

د اتومي قوت د کشف کولو موجد مسلمان سائنس پوه "جابر بن حيان"

دئ چي د "حران" پوهنتون مشر هم وو. نوموړی په ۱۰۱-هجري کي زيږيدلی، د ده په کتاب کي داسي معلومات تحرير شوي چي معاصر سائنس پوهان ورته حيران دي، ليکي:

"د پخواني يوناني سائنس پوهانو دا خبره صحت نلري چي وايي د مادي وړه زره(اتوم) مزيد نشي وېشل کيدلی بلکي دا نور هم تقسيم کيدلی شي، د همدې زرې د تقسيم نه يو داسي قوت په وجود کي راتلی شي چي کولی شي د بغداد ښار نسکور کړي، او دا د الله د قدرت د علاماتو نه يوه نښه ده."

په دې ترتيب ويلی شو چي مسلمان سائنسپـوه جابر بن حيان هغه شخصيت دئ چي په انساني تاريخ کي ئې د لومړي ځل لپاره پر اتومي قوت خبـره کړېده.

مصدر: د اسلام قصه/ مؤرخ: راغب السرجانی
The Story of Islam

سلطان العالم ....

داسې يو بادشاه چې په ټوله نړۍ کې د سلطان العالم ( د نړۍ په بادشاه ) سره مشهور و کوم چې د عثماني خلافت يو ډېر نيک او مجاهد بادشاه و خپل نوم يې سلطان سليمان القانوني و ، نوموړي په خپل ( 48 ) کلن خلافت کې عثماني خلافت د نړۍ يو سپر پاور هيواد جوړ کړ ، هغه د خلافت داخلي او خارجي دښمنان وځپل او نبوی سنت يې راژوندي کړل .
ټول مسلمان او غير مسلمان مؤرخين په دی خبره سره اتفاق لري چې د عثماني خلافت زرين او شاندار دور هغه مهال و چې کله يې سلطان سليمان القانوني خليفه و ، همده جهاد ته پرمختګ ورکړ ، د نوموړي د ژوند تر ټولو مهم او خطرناک جهادي غورځنګ د موهاکس په نوم يادېږي د کومې له امله چې په ټوله اروپا کې د ماتم اعلان وشو .
د اسلامي امت د دی ستر خليفه پوځ دومره رعب او خوف درلوده چې په حرکت سره به يې په ټوله اروپا باندی ويره او لړزه خپره شوه ځکه خو په ټوله نړۍ کې ورته د احترام په سترګو کتل کيده ، د همدی خليفه د خلافت پر مهال اسلامي پوځونه د اروپا زړه ته رسيدلي و ، دوه کرته د خلافت پوځونه د فيناء تر ديوالونو ورسيدل او ويې لړزول بلکې د همدی خليفه پر مهال عثماني خلافت په دريو بر اعظمونو کې خپور شوی و .
د سلطان سليمان القانوني د خلافت پر مهال بغير د مبالغې څخه د هغه پوځونه د نړۍ لومړی درجه او د هغوی وسله د نړۍ تر ټولو خطرناکه او جديده وه تر دی چې په سمندرونو ، بندر ګاو ، ساحلونو او وچو باندی د همدی پوځ واک چليده .
جرمني تاريخ ليکونکی ( هالمر ) ليکلي : دا سلطان مونږ ته تر سلطان صلاح الدين ايوبي هم ډېر خطرناک دی .
يو بل انګريز مؤرخ ( هارورډ ) ليکلي : د سلطان سليمان قانونی د مرګ ورځ بايد په صليبي نړۍ کې د اختر په ورځ ونمول شي .
د افسوس خبره دا ده چې زموږ ډيرو لوستو ځوانانو ته د دی ستر غازي د سيرت او ژوند په هکله هيڅ معلومات نه شته دی خو د هندی فلمونو ، کرکټيانو او نورو کوڅه ډبو او فاحشو ډمانو د هر څه څخه خبر دي ستوري ورته وايي او ړوند تقليد يې کوي .
سلمان قريشي

پخوا مسلمان چاروا کي داسی و ؟

يو کرت د ترکيي سلطان سليمان القانوني ته وويل شول چې د ونو او بوټو په بيخونو کې ډير زيات ميږيان راوتلي دي څه ورسره وکړو ؟
هغه سمدست ماهرين راوغوښتل او د مسئلی څخه يې خبر کړل ، هغوی ورته حل راوويست او ورته يې وويل : که تاسی امر وکړئ او فلانکي تيل د ونو په بيخونو سپری کړئ نو له دی سره به ټول ميږيان ختم شي خو د سلطان دا عادت و چې د هر کار د کولو وړاندی به يې د هغه کار د شرعي حکم په هکله له علماو څخه پوښتنه کوله ځکه خو د خپل وخت مشهور مفتي ته ولاړ کوم چې په شيخ الاسلام باندی مشهور و ، کله چې د هغه کور ته ورسيده نو ورته معلومه شوه چې نوموړی دا مهال په کور کې نه و نو يو پيغام يې ورته د شعر په ژبه پريښود :
اذا دب نمل علی الشجر ــــــــ فهل فی قتله ضرر ؟
ژباړه : کله چې د ونو په بيخونو کی ميږيان وشي نو د هفوی په وژلو کې ضرر شته ؟
کله چې شيخ الاسلام کور ته راغلو او د سلطان پيغام يې ولوست نو ځواب يې ورته وليکه او ور ويې ليږه :
اذا نصب ميزان العدل ــــــ اخذ النمل حقه بلا وجل
ژباړه : که چيرته د عدل تله قايمه وی نو ميږيانو به فقط خپل حق اخيسته ، چې په دی کې ورته شيخ اشارتاً وويل چې څه شی ډير مهم دی ؟
يو وخت سلطان د جهاد لپاره د استريا د پايه تخت ويانا د فتحه کولو په نيت روان شو خو په لاره کې وفات شو کله يې چې د هغه جسد واپس استنبول ته راوړ نو د تجهيز او تکفين پر مهال يې د هغه سره يوه وصيت نامه ومونده چې په هغی کې ليکل شوي و : زما صندوق هم زما سره ښخ کړئ ! وزيران او علماء حيران شول چې کيدی شي دا صندوق د غميو او ملغلرو ډک وي ځکه خو يې د هغه د خلاصولو پريکړه وکړه خو کله يې چې صندوق خلاص کړ او دننه يې وکتل ټول حيران شول ، په صندوق کې ټولی هغه فتوی پرتی وی کومې يې چې د هر کار د کولو وړاندی د علماو څخه اخيستی وې او د سلطان هدف هم د دی د ښخولو څخه دا و چې الله تعالی ته يې د ثبوت په ډول وړاندی کړم چې ما هيڅ يوه دولتي پريکړه د اسلام خلاف نه ده کړی بلکی هم ستا د دين د علماو څخه مې اخيستی ده کله چې شيخ الاسلام ابو سعود دا وليده نو په ژړا شو او ويې ويل : سلطانه ! تاسې خو خپل ځان بچ کړ خو موږ به څوک وساتي ؟
حواله ( تاريخ ترکيه )

د عثماني خلافت پای !

د هغې وروسته مو سهار نه دی ليدلې
28 د رجب د 1342 هق شپه هغه توره شپه وه چې له هغې وروسته اسلامي امت د سحر رڼا په سترګو نه ده ليدلې
مصطفی کمال اياتارک د استنبول والي ته امر وکړ چې د سهار د لمر د راختلو وړاندی بايد سلطان عبدالحميد ترکيه پريږدي وي ، د مصطفی کمال د امر سره سم فوځ او پوليس په حرکت کې راغلل او خليفه يې مجبوره کړ تر څو ترکيه پريږدي .
د ( 28 ) ( 1342 هق ) کوم چې د مارچ د دريمی نيټې ( 1924 ) سره سمون خوري په سحر کې دا اعلان وشو چې :
د ستر پارلمان د پريکړی له مخی له نن څخه وروسته خلافت لغوه کړ او هم يې د مذهب له نړۍ څخه د جدايي اعلان وکړ چې په دی سره د هغه وخت د برطانيې خارجه وزير لارډ کرزن په فخر سره وويل : ترکيه مو تباه کړه او له دی څخه وروسته به مسلمانان هيڅکله خپل تللی عزت دوباره تر لاسه نه کړي ځکه چې موږ د دوی روحاني قوت خلافت او اسلام دواړه له ترکيې څخه ختم کړل او پر ځای مو جمهوريت راوست .
د خلافت د ختميدو څخه وروسته د اسلامي امت حالت داسی شو لکه د شيدو د کوچني ماشوم له سر څخه چې د مور سيوری ولاړ شي او په دی خود غرضه نړۍ کې د خپلی بقا د جنګ لپاره يوازی پاتی شي ؛ د خلافت له ختميدو سره سم د نړۍ وږي او استعمارګر کفار لکه د وږي ليوانو په څير په اسلامي امت ور پری وتل تر دی چې د مسلمانانو د وينو څښلو کې يې يو له بله سره په جنګ کولو کی هم دريغ ونه کړ ، اسلامي شريعت ختم کړی شو ، خلافت په وړو وړو رياستونو وويشل شو او د هر رياست لپاره بيل قانون ، قوميت او بيرغ منتخب شو تر څو مسلمانان داسی تقسيم شي چې دوباره د يو ځې کيدلو ګنجايش يې هم پاتی نه شي د اسلام عادلانه معيشت يې په غربي سرمايه رانه نظام سره بدل کړ او د مسلمانانو د نګرانی چاری د اسلامي حکومت پر ځای د سيکولر نظامونو لاسونو ته پريوت .

داسلامي تاريخ زړور سپاهيان او اتلان

د انساني تاريخ لومړنۍ مسلمانه پيلوټه

د ( 1913 ) کال د ( 18 ) نومبر د دوشنبې په ورځ د بلقيس شوکت خانم په نوم يوې مسلمانې ميرمنې د بلقان د مظلومو مسلمانانو د مرستې لپاره خپل جهاز پورته کړ ، بلقيس يوه مجاهده وه ، کله چې اطالويانو د بلقان په مسلمانانو باندې بمباري وکړه نو بلقيس ډيره خفه شوه او د خپلو مسلمانانو د انتقام او مرستې لپاره جهاز ته وختله ، هغې ته دا جهاز د خلافت له دربار څخه د خليفه غازي محمد رشاد لخوا په ډالۍ کې ورکړل شوی و ، دې مجاهدې ميرمنې يو طرف د بلقان د مظلومو مسلمانانو سره خيريه کارونو کې مرسته کوله خو بل طرف يې عملي په نظامي ډګر کې د اطالوي اشغالګرو مقابله کوله اطالويانو د هغې جهاز وويشت او بلقيس د شهادت لوړ مقام تر لاسه کړ .
د يوې مسلمانې ميرمن لخوا هوای جهاز پورته کول د هغه مهال د نړۍ د اخبارونو ګرمه موضوع وه خو کاش ! چې د غرب د تاريخ پر ځای موږ ته په نصاب کې زموږ ځلانده تاريخ لوستل کيدی نو زموږ به د خپلې ماضي سره اړيکه نه شليده .

د سومنات دروازې !!!

د سومنات درمسال سلطان محمود غزنوي ( رحمه الله ) په ( 1024 ) کې ونړولو ، خو کله چې انګريزانو د افغانستان مشهور ښار غزني قبضه کړ نو هندوانو دعوه وکوله چې د محمود غزنوي په مقبره کې چې کومې دروازې لګيدلي دي دا د سومنات درمسال څخه راوړل شويدي ځکه خو د انګريز فوځ مشر امر وکړ چې دا دروازې دې واپس هندوستان ته د سومنات درمسال ته وسپارل شي ، کله يې چې هغه دروازې ګجرات ته يوړلې نو د ګجرات پنډتان ورته راغلل او د دروازې د نقش و نګار د ليدو وروسته يې وويل چې دا دروازه د سومنات نه بلکې د يو درمسال هم نه شي کيدلی ځکه خو يې هغه په درمسال کې ونه لګولې او د اګرې په قلعه کې يې کيښودې چې اوس هم هلته موجودې دي .
يادونه : زموږ يو استاد راته د تاريخ په برخه کې ويلې چې د ظاهر شاه د حکومت پر مهال هغه د هندوستان سره ښه تعلقات وغوښتل نو هغوی ورڅخه د سومنات د دروازې غوښتنه وکړه او ظاهر شاه ورته ورکړې ، کله يې چې هغه دروازې هندوستان ته يوړلې نو هندوانو چيغې او رمباړې پيل کړې او وروسته يې د کفارې په ډول د هغه دروازې لپاسه يو مسلمان چې عبدالرحمن نوميده حلال کړ او د هغه په وينه يې دروازې ته غسل ورکړ او دا نعره يې پورته

کړه : موږ ډیر ناوخته کړ ځکه خو مو د دی د کفاری د ادا کیدو لپاره د یو افغان مسلمان په وینه دروازی ته غسل ورکړ .
سلمان قريشي

د اسلامي تاريخ سخته معركه

د حضرت انس رضی الله عنه په وړاندې چې به د (تستر) د فتحې يادونه وشوه نو ژړل به يې:
ژباړه: حمدالله حلميار
حدودو د يوې سترې او مظبوطې كلا او د كلا به منځ كې ښار نوم وو، دا كلا يو نيم كال د اسلامي لښكرو تر كلكه محاصره او كلابندي لاندې وه، له ډيرو هڅو وروسته چې كله مسلمانان د وروستي اوپريكنده بريد لپاره پر كلا ورغلل، نو د فتحې څركونه وځليدل، غازيان په ډيره ميړانه وجنګيدل، د مجوسيانو له مړيو څخه ميدان ډک شو، توله ورځ او شپه شديد جنګ روان وو، سهار مهال د اسلامی لښكرو پله درنه شوه، لمرختو مهال يې د فارسي لښكرو سيلاب مات او پر كلا ورواوښتل او اسلامي لښكرو له يوه سخت او اوږده انتظار وروسته ستره سوبه ترلاسه كړه...
اوس كه د تستر د فتحې كيسه دومره په زړه پورې او ولوله پارونكې ده نو بيا ولې حضرت انس رضی الله عنه ددې سترې سوبې په يادولو ژاړي!؟
كيسه داسې وه چې كله مسلمانان فاتح تستر ښار ته ننوتل نو ويې ليدل چې لمر ښه لوړ راختلی او د سهار لمونځ ترې قضا شوی ده، انس رضی الله تعالی عنه او نور مسلمانان د سهار دلمانځه په قضا كيدلو سخت خپه شول... سره له دې چې دوی عذر درلود، مرګ يې پر سر ولاړ وو، د جګړې تاكونكې شيبې وې، د اعلاء كلمة الله لپاره د ييل شوې معركې وروستی شيبې وې ... انس رضی الله عنه فرمايي: دې پيښې مې د فتحې د خوشالی خوند رانه هير كړ...
هغه عظيم خلک وو چې د الله جل جلاله د اوامرو پوره پاپنده وو، فتحو او نصرتونو يې پښې ښكلولې!

نسیم حجازي، د امت روحیه کې سا پوه کړه!

دادمحمد ناوک

ادبیات یوازې تخلیق نه دی او نه هم ادیب له سپوږمۍ او ستوریو سره د خبرو په پلمه ټولنیز مسوولیتونه هېرولی شي، هغه هنري ځواک چې د ټولنیز بدلون لپاره ونه کارېږي د شنې زرغونې غوندې مانا لري، چې له ښایست پرته دې ان لاس هم لا نه ور رسېږي، مرحوم نسیم حجازي په ۱۹۱۴ میلادي کال د هند په پنجاب کې وزېږید په ژوند کې یې هند ووېشل شو او په ۱۹۹۶ میلادي کال له نړۍ وکوچید چې په اردو ادب کې یې د تاریخي ناول لیکنې له سرلارو یادولی شو.

پښتو لوستونکو ته نسیم حجازي ښاغلي زبیر شفیقي ور وپېژاند او داستانونو یې ګڼ مینه وال پیدا کړل چې خوندورې ژباړې یې زبیر شفیقي او نسیم حجازي د یو هنر دوه اړخونه معرفي کړل.

د امریکا له نظامي یرغل سره جوخت فکري یرغل دومره زورور و، چې نږدې دوه لسیزې کې یې ان ارزښتونه ونګول او پر کره منل شوېو ارزښتونو هم د بیا کتنې غږ پورته شو، د مرحوم نسیم حجازي د ناولونو همدا پښتو ژباړه خورا توده ستایله کېدله، خو کله چې کفر دلته پښې کېښودې نو ملګرو یې دا ډول ناولونه د هغوی پر ضد وبلل او پوی شول چې دا ناولونه د اسلامي امت د روحیې د پیاوړتیا لپاره لوی کار کوي، ځکه خو یې پرې ګوزارونه پیل کړل.

هغه فکرونه چې اساس یې پر نقل نه وي اېښودل شوی تل متزلزل وي، د همداسې متزلزل فکر لیکوال محمد یار د مینې مجلې په یوه لیکنه کې ښښه غوښتې وه، چې ده یو وخت خلک د نسیم حجازي ناولونو لوستو ته هڅول او دا کتابونه یې په فرهنګي حلقو کې وېشل، خو بیا یې له اسدالله غضنفر سره د هغه د داستانونو د جذابیت خبره شریکه کړې وه، هغه ورته غنګېدلی سر ښورولی و، مجمد یار وایي چې زه حیران شوم چې دا څنګه د داستانونو متخصص دی، چې د نسیم حجازي د داستان ستاینه نه کوي، خو دې لیکنه کې دی کارې چې غضفر په حقه و او دی ناحقه، ځکه نسیم حجازي خلک تشدد ته هڅوي، ده د خپل پخواني فکر له امله ښښنه غوښتې وه، زړه کې مې راتېر شول چې دا ډول خلک به تل د ښښنې غوښتلو په جریان کې وي، ځکه د دوی فکر نقلي اساس نه لري او هیڅ کله پخته ګی ته نشي رسېدلی.

زه د نسيم حجازي د داستانو لېونی مينه وال يم، تل يې چې لولم ځان مسلمان راته ښکاره شي او ايله پوی شم چې موږ هم يو وخت ژوند درلود، خو د حجازي صاحب په اړه همدې د پرديو فکري اغېزمنو له ډلې دومره هم جرئتمن شول چې يو دوه اوونۍ وړاندې پر همدې اثارو افغان ادبي بهير کې بحث شوی و، دا چې دې بهير کې تل د پرديو فکرونو محاصره ځو تنه د استاد - استاد په نوم کله پر حورو ملنډې وهي، کله جنت ورته يوازې خيال ښکاري او کله ورته د الله ذکر د يوې پېغلې د لوڅو سينو په پرتله هسې توکه ښکاري، دوی تل ځوان کهول د فکري يرغل تر چتر لاندې ان د خپلو ارزښتونو پر ضد درولی، دا تېره اوونۍ د بهير پر ستېج يوه استاد وويل چې که زه له کومې نجلۍ سره مينه ولرم، خو هغه ماته ووايي چې زما پلانی هلک خوښ دی، زه به په خوشالۍ ورته ووايم چې «ورسه يو وارله هغه سره ځان يخ کړه بيا ماته راسه»؛ نو د نسيم حجازي پر اثارو د تبصرې پر مهال هم يوازې يونس تنوير و، چې له دې فکره يې دفاع کړې وه، نورو ټولو نسيم حجازي د پاکستان پر دفاع ملامتاوه او د استاد په نوم يو تن تبصرې کولې چې د هغه د هغه وخت ليکنې د پاکستان لپاره يوه اړتيا وه او پاکستاني دولت ورته پيسې ورکولې.

خندا راغله، چې دې ځوان استاد تر اوسه لا نسيم حجازي مطالعه کړی نه دی او د فکري يرغملو يوه ځانګړنه همدا ده چې دوی د موضوع ټول اړخونه نهويني، ځکه د ټولو اړخونو کتل د ازاد فکر کار دی او د دوی فکر تړلی وي، نسيم حجازي درې دېرش کلن و، چې پاکستان رامنځته شو او تر هغه وخته يې ځو اثار چاپ شوي و، بله دا چې د حجازي صاحب له «ګمشده قافلے»، «خاک اور خون» ناولونو او «پاکستان سے ديار حرم تک» پرته په هيڅ ناول کې ان د پاکستان يادونه هم نه ده شوې، دی چې موږ ته د کوم وخت کيسې کوي هغه د اسلامي امت شريکې کيسې دي هلته د پاکستان تصور لا نه و، خو د نسيم حجازي ناولونو په اسلامي نړۍ کې د ځوان کهول لباره نوې سا پو کړه، ده ځوان کهول وپوهاوه، چې اندلس څنګه له ګوتو ووت، کفر څنګه پر اسلام غالب شو او اسلامي امپراتورۍ ځنګه د زوال تر څنډو ورسېده، پر دې سربېره يې را زده کړي چې موږ سره يو يوو، که موږ د يووالي روحيه ونه لرو، پر پراخه اسلامي جغرافيه به د کفر راج همداسې روان وي.

نسيم حجازي بايد ولوستل شي، ځکه اوس يې لوستل تر هر بل وخت لوی ضرورت دی

ښځه او خاوند د رومي سپه سالار په خیمه کې:

په ( 31 ) هجري کې د اسلام دریم خلیفه عثمان بن عفان ( رضی الله عنه ) حضرت حبیب بن مسلمه الفهری ( رضی الله عنه ) ته ( 8000 ) زره فوځ ورکړ او د ارمینیا د فتح کولو لپاره یې واستولو ،هغه روان شو او د فالقلیا په سیمه کې د روم د ( 80000 ) زره فوځ سره مخامخ شو , د جنګ د پیل کیدو څخه وړاندی حبیب خپل فوځ ته وینا وکوله او د جهاد فضایل یې ورته بیان کړل او جهاد ته یې وهڅول ، دا مهال د حضرت حبیب ( رضی الله عنه ) میرمن ام عبیدالله بنت یزید الکلبیه چې جنګي لباس یې پر تن و او د خپل خاوند سره د الله( جل جلا له ) په لاره کې د جهاد لپاره راوتلی وه خپل څښتن یې مخاطب کړ او ورته یې وویل : ای حبیبه ! که جنګ ډیر سخت او خطرناک حالت ته ورسیږي تر دی چې صفونه هم مات او ګډوډ شي او سره جدا شو نو زه بیا تاسي کوم ځای ولټوم ؟
حبیب ورته مسکی شو او ځواب یې ورکړ : زما ګرانی ! یا به د رومی سپه سالار موریان په خیمه کې سره ملاویږو او یا په جنت کې ؟
لږ وروسته ډیر خطرناک جنګ ونښت تر دی چې دواړه ښځه او خاونذ سره یو د بل څخه بیل او ورک شول ، اسلامي فوځ په ډیر سخت ازمیښت کې و او د ډیر سخت جنګ وروسته ورته الله ( جل جلا له ) بری او فتح ورکړه ، حبیب ( رضی الله عنه ) د فتح د اعلان لپاره د موریان خیمې ته ننوت نو هلته یې په یو نقاب پوش باندی سترګې ولګیدی نو حیران شو ، نقاب پوش د حبیب د حیرانتیا د لری کولو لپاره خپل نقاب اخوا کړ نو حبیب لا زیات حیران شو ځکه چې هغه نقاب پوښ بل څوک نه بلکې د حبیب خپله میرمن وه ، هغه د خپل څښتن څخه وړاندی د رومی سپه سالار خیمی ته رسیدلی وه او هغه یې جهنم ته لیږلی و .
ژباړه: سلمان قریشي

اروپا او جهالت !

په هغه وخت کې چې اروپا به د جزام مرض او نورې وبا ګاڼې د الله غضب او سزا ګڼله، تر دې چې د دوی د ډېر جهالت او وروسته والي له وجې ملک فيليپ د ټولو هغو ناروغانو چې د جزام په مرض اخته وو په اور سوزولو امر وکړ

په همدغه وخت کې مسلمانانو د جزام مرض او ناروغانو لپاره لومړنی روغتون په (۸۹هـ) کال په دمشق کې جوړ کړ
دا په اسلام کې لومړنی روغتون و چې د وليد بن عبد الملک د خلافت په دوران کې جوړ شو، چې د مختلفو اديانو خاوندانو علاج به پکې کېدلو
اروپا دغه وخت کې د جهل په تيارو کې ډوبه وه.
سلمان افغان

عمواس وبا کې ابو عبيده ته د عمر ليک

کله چې فلسطين کې د عمواس مرګوني وبا خوله خښنه کړه، د ګڼ شمېر مسلمانانو او صحابه کرامو د مرګ خبرونه مدينې ته ورسيدل، د اسلام زړه سوانده خليفه عمر بن الخطاب رضي الله عنه سخت خپه او غمژن سو، ځکه په کراره کراري يې د ايمان او عقيدې ورونه يوه په بل پسې وفات کيدل. او بل هلته د ابو عبيده بن الجراح رضي الله عنه په ځېر سړی هم و چې په عمر سخت زيات ګران و.

ابو عبيده په عمر دومره ګران و چې يوه ورځ عمر يوه کوټه کې له خپلو ملګرو سره ناست و، هغو ته يې وويل: تاسو چې څه ارزوګانې لرئ هغه ووايئ، هغوی چې خپلې ارزوګانې وويلې عمر وويل: زما ارزو دا ده چې کاش دا کوټه مې د ابو عبيده په ځېر سړيو نه ډکه لرلی... د عمر رضي الله له دې هيلې او ارزو معلومولی شو چې هغه له ابو عبيده سره څومره مينه لرله!!

نو د عمواس وبا کې عمر رضي الله عنه د نورو ترڅنګ په ابو عبيده رضي الله عنه وويريدی او مدينې ته د راغوښتلو او له وبا نه د ژغورلو په نيت يې دا ليک ورولېږه: پر تا دې سلام وي، بيا دا چې تا ته مې د څه کار لپاره ضرورت دی، غواړم مخامخ درسره ووينم، نو کله چې دا ليک ولولې؛ پر ځمکه يې مه ږده سمدستي راروان شه.

راوي زياتوي: ابو عبيده چې ليک ولوست پوه شو چې عمر غواړي دی د وبا له سيمې وباسي نو ويې ويل: الله دې امير المؤمنين ته ښښنه وکړي. بيا يې په ځواب کې ورته وليکل: زه پوه شوم چې ته ما ته څه اړتيا لرې، زه د مسلمانانو له لښکر سره يم، زه ځان له هغوی غوره نه ګڼم، زه نه غواړم له هغوی نه بېل شم. زما او هغوی په اړه چې الله تعالی څه پرېکړه کوي پر هغه راضي يم. نو اې امير المؤمنينه! ما له دوی سره پرېږده.

عمر ته چې د ابو عبيده ليک ورسيد او ويې لوست؛ په ژړا شو... خلکو ورته وويل: امير المؤمنين! ايا ابو عبيده وفات سوی؟! هغه وويل: نه، خو لکه وفات چې وي... عمر ابو عبيده ته په بل ليک کې وليکل: پر تا دې سلام وي، بيا دا چې خلک دې په ژوره زېم لرونکې او خوړينه ځمکه کې ساتلي دي، هسکې او هوادارې ځمکې ته يې وخېژوه. او بيا يې خلک لوړ ځای ته پورته کړل. تاريخ الطبري

په دې موده کې بيا ابو عبيده رضي الله عنه وفات شو، له ده وروسته معاذ بن جبل رضي الله عنه د لښکر مشر وټاکل شو او هغه هم په وبا وفات شو، دريم ځل عمرو بن العاص رضي الله عنه امير مقرر شو، هغه خلکو ته وويل چې غرونو کې خپاره شئ او په دې توګه بيا وبا ختمه

شوه.

دلته لوستوالو ته دا سوال پيدا کيږي چې د وبا ځای ته د نه ورتګ او د وبا له ځايه د نه وتلو حديث په رڼا کې عمر رضي الله عنه ولې ابو عبيده رضي الله عنه مديني ته وروغوښت؟ که څه هم دا ځواب زيات تفصيل ته اړتيا لري، خو زه کوښښ کوم چې په لنډه توګه يي ځواب کړم.

هغه داسي چې د دې حديث په اړه صحابه کرام دوه نظرونه لري، يو نظر دا دی چې دې حديث کې تاويل شوی او د وبا له ځايه خاصو حالاتو او د اړتيا په صورت کې وتل روا دي. يا دا چې روغ خلک د وبا له ځايه خوندي ځای ته وتلی شي او په وبا اخته خلک بايد ونه وځي. او دويم نظر يي د نه روا والي ده. او بله مهمه خبره دا ده چې ابو عبيده رضي الله عنه د مجاهدينو مشر و، هلته مجاهدين له روميانو سره پر بوله پراته وو او بل دا مهال فلسطين نوی فتحه شوی و، نو په داسي شرايطو کې ابوعبيده وضعه له نږدې څارله او وتل يي مناسب نه ګڼل.
استاد حامد افغان .

حجاج بن يوسف !

حجاج بن يوسف الثقفي پس له مرګه کوم يوه بزرګ په خوب کې وليد ، أو پوښتنه يي ورځخه وکړه چې ألله رب العزت ستا ددې بې ساري ظلمونو په مقابل کې څه معامله درسره وکړه ؟
حجاج الثقفي ورته وويل د ټولو هغه کسانو په بدل کې چې ما وژلي وه الله جل جلاله يوار يوار ووژلم أو د ځکندن د تريخ حالت څکه يي را باندې وکړه ، مګر د سعيد بن جبير په مقابل کې يي أوه سوه وارې ووژلم ځکه چې سعيد بن جبير په خپل عصر کې د مسلمانانو لپاره تر هر چا محتاج اليه شخص وو ، ځکه چې عالم وو .

حبيب العابد وايي:

د بصرې ښار ته داخل شوم دکانونه بند و او سرکونه يي خالي و
ما پوښتنه وکړه اې د بصرې خلکو ايا ستاسو داسې اختر ده چې موږ پرې نه يو خبر؟
وای نا حسن البصري په مسجد کې خلکو ته وعظ کوي له دې وجهې هرڅه بند دي
حبيب وايي زه لاړم مسجد ته ګورم چې خلک ټول ناست دي او حس بصرې ورته وعظ کوي

او خلکو ته وايي اې خلکو سورلی مو تیارې کړئ موږ نه پاتې کیږو دې دنیا کې مګر د کمې مودې لپاره نور تلونکي یو.

پښتانه او قیس عبدالرشید ؟

حضرت خالد رضی الله تعالی عنه بن ولید رسول الله ﷺ د بن اسرائیلو یوې قبلې ته د اسلام د دعوة او جهاد لپاره ولیږه ، چې د دې دعوة په نتیجه کې د دې قبلې ډیری غړو اسلام راوړ ، حضرت خالد ابن ولید ددې قبلې یو مشر چې قیس نومیده ، رسول الله ﷺ ته راوست ، پیغمبر ﷺ له لیدو او ملاقات وروسته نوی نوم پرې عبدالرشید کیښود ، او دا سړی یې دهمدې قبیلې مشر وټاکه .
څه موده وروسته حضرت خالد رضی الله عنه خپله لور همدې صحابي قیس ته چې نوی نوم یې عبدالرشید وو په نکاح ورکړه ، چې د قیس له دې میرمنې پیدا شوی اولاده د پښتنو د یوې قبیلې بنکش (بنګښ) چې اکثره یې په کوزه پښتونخوا کې اوسي نیکونه راځي .
یعنې دا پښتانه د حضرت خالد رضی الله عنه د لور لمسیان راځي .
او بل دا چې پښتانه بني اسرئیل دي او کنه .؟
علماء وايي چې پښتانه بني اسرائیل دي .
د بني اسرائیلو په یادیدو سره متبادر زمونږ ذهن ته نني یهودان چاچې اقصی قبضه کړې راځي .
اسرائیل د حضرت یعقوب علیه السلام نوم یا لقب وو ، د یعقوب علیه السلام دولس اولادونه وو ، دوئ او د دوی اولادې ته بني اسرائیل د کنیت په خاطر ویل کیږي ، ځکه دوئ د اسرائیل اولاده ده . لکه نن سبا چې د افغانستان د بعضو قومونو نسبت خپلو اجدادو ته کیږي ، لکه احمدزی احمد بابا ته ، ستانیکزی ستانه بابا ته .
د یعقوب علیه السلام د یو زوی نوم بنیامین وو ، چې د بنیامین یو زوی طالوت نومیده طالوت د الله ﷺ پیغمبر ، (چې په قرانکریم کې یې هم تذکره شوې ) ډیر غیرتي مجاهد او حلیم انسان وو .
چې د عمالقه د مشهور جهاد مشري یې په غاړه لره .
د طالوت قوم هم بني اسراییل وو ، د ملیونو یهودو نه یوازې ۸۰۰۰ کسان جهاد ته راووتل ، بیا د هغې ویالې په ازموینت کې یوازې ۳۱۳ سوچه مسلمانان ووتل چه په الله پاک یې توکل وه ، نو کله چه دواړه لښکر سره یو ځای شول نو د عمالقاوو د لښکر مشر جالوت چه له سر نه تر پښو پورې په زغره پوښل شوی وه د مبارزې لپاره میدان ته راووت او د طالوت د لښکر څخه یې د مقابلې غوښتنه وکړه خو چا یې مخه نه ولیده بلاخره طالوت اعلان وکړ چه څوک دده مقابلې ته وروړاندې شي زه خپله لور هغه ته په نکاح کوم او زما نه وروسته پاچاهي به هم دده وي ، نو د لښکر څخه یو تنکی ځوان چه ۱۵ کاله عمر یې لرلو د جالوت مقابلې ته ور ووتلو
جالوت : اې هلکه ته څوک یې ؟ ته کوچنی ماشوم یې زه نه غواړم چه تا ووژنم !
هلک : مګر زه غواړم چه تا ووژنم ،
پوهیږی چه دا هلک څوک وه ؟

دا هلک سید ونبینا حضرت داؤد علیه السلام وه ، داؤد علیه السلام د مچنوغي په ویشتلو کې سخت مهارت لرلو نو يې په مچنوغه یا مچلوغه کې ۳ کاڼي کیښودل او جالوت يې په سر وویشت او هملته په ځمکه را ولویدلو او مړشو ، پدې وخت کې د جالوت په لښکر کې ماته ګډه شوه او د نورو مجاهدینو هم پر لښکر هجوم وروړ او د جالوت لښکر چه په زرګونو کسان وو مات شو ، دا قیصه ډیره اوږده چې دلته يې تذکره خبر ډیره اوږدوي ، که څوک غواړي چې یاده قصه ولولي د سورة البقر 250 ایات تفسیر ته دې مراجعه وکړي .
د همدې طالوت علیه السلام له زامنو یو زوی افغانا نومیده چې د قوي عزم ، کلک او لوړې حوصلې خاوند وو ، چې نني افغانان د همدې افغانا اولاده ده .
نو پښتانه اصلاً بني اسرائیل یعنې د حضرت یعقوب ابن اسحاق ابن ابراهیم علیهم السلام اولاده ده ، چې په بني اسرائیلو کې پښتانه بیا بني طالوت دي .
نو پښتنو ته ښه دا ده چې د بنی اسرائیلو پر ځای بني طالوت وویل شي .
او که چا پښتنو ته بنو اسرائیل ویل هم بده مه پرې منئ ، بني اسرائیل معنې بني یعقوب .

عزیزالرحمن حسیني

د نن نه پنځه نوي کاله مخکې!

پـه کال 1924 ميلادي د مارچ پـه 4مه پـه ترکيه کې عثماني امپراتوري د اتاترک پـه لاس ونړېده او د اسلامي خلافت جنازه پورته شوه، پـه حقيقت کې دا د ټولې نړۍ د مسلمانانو د ازادۍ، خپلواکۍ او له خپلو حقوقو څخه دفاع ته د پای ټکی وو، ټوله عربي نړۍ چې د اسلامي خلافت يوه لويه برخه وه .د اروپايي ښکېلاک تر ولکې لاندې شوه، مصر ، فلسطين او عراق د انګلستان. سوريه، لبنان، الجزاير، تونس او صوماليه د فرانسې. لېبيا د ايټاليا. او المغرب د هسپانيې. د غلامۍ او اسارت پـه دام کې ولوېدل.
اسلامي خلافت د نړۍ د مسلمانانو د منجمد او عظمت اصلي ساتندويه وو .خو له بده مرغه چې د خلافت پـه ړنګېدو سره پـه ټوله اسلامي نړۍ د بې سرپرستۍ تريخ ژوند پيل شو، د اسلامي امت د وجود فلسفه ګډه وډه شوه، او هغه يواځينی رمز چې مسلمانان پرې راټولېدل د وخت مشرانو ناليدلی او واړه ګڼل خو نن سبا يې د ناسور حيثيت غوره کړی. چې ټول اسلامی امت ورسره رنځيږي.
لومړنی ناسور د منځني ختيځ پـه سينه کې د يهودانو د دولت اعلانول وو، يهودانو ډېر کوښښ وکړ او خپلو دسيسو او شومو پلانونو ته يې دوام ورکړ هماغه وو چې دانګلستان پـه مرسته چې پـه ټوله عربی نړۍ يې اقتصادي، سياسي او نظامي نفوذ او اغيز درلود هدف ته ورسېدل او پـه کال 1916 م کې پـه ډېره اسانۍ سره وتوانېدل چې يهودي (صهيونيستي) نظام رامنځته کړي، د عربی نړۍ مزدور واکمنان د بشپړې ازادۍ ورکولو پـه وعده وغولېدل .او د اسلامي خلافت پـه خلاف ودرېدل، انګليسان وتوانېد چې د استانبول او مدينې منورې يعني د اسلامی خلافت د مرکز او عربی نړۍ تر مينځ د دوستۍ او وروروليٌ غځيدلې تناب پرې کړي.
د 1338 م نه تر 1944 کاله پورې د اسرائيلو دولت منځته راغې او ترکيې پـه رسميت وپېژاند او د اسرائيلو سره يې هر اړخيزه مرسته پيل کړه، پـه 1923 م کال چې کمال اتاتورک د ترکيې واك پـه لاس کې واخيست نو د ترکانو حکومت يې اعلان کړ، له دې سره ډېرې اسلامي سيمې لکه بلقان، ققفاز، عربی نړۍ او کردي سيمې د ترکانو حکومت څخه د باندې پاتې شوې او دا پـه حقيقت کې د نورو شخړو او نا آراميو د زيږيدنې لامل وګرځېد، ځکه نوی حکومت يواځې د ترکانو انحصاري حکومت وو. نو له دې سره سم نورو پرګنو او ملتونو پـه ځانګړې توګه کردانود خپلې آزادۍ او خپلواکۍ غږ پورته کړ .ځکه هغوی دعوه لرله، چې د ترکانو پـه حکومت کې هيڅ ځای نه لري، او دا دی ترننه د ترکيې او کردانو ترمنځ ستونزې دوام لری.
د اسلامي خلافت له ړنګېدو سره د عربي نړۍ پـه وجود کې يو بله ستونزه د اسکندرون لانجه ده، چې تر ننه پورې پرې سوريه او ترکيه پـه خپل مينځ کې لاس او ګرېوان دي.
د خلافت پـه ړنګېدو سره پـه منځنۍ آسيا کې د مارکس او لينن کمونستي فلسفې د وحشت او بربريت توپان راوست، د امام بخاري، امام ترمذي، ابن سينا، خوارزمي، فارابي، قزويني او بلاذري پـه څير علماؤ سيمې يې شنډې کړې او نور يې داسې بچيان ونه زيږول، اسلامی تمدن ونړېد، عربي ژبه پـه لاتينی بدله شوه، پـه هندي نيمه وچه کې د مسلمانو ملتونو جدا والی، د

پاکستان او بنګله ديش جلا کېدل او د کشمير لانجه چې لا تر اوسه تازه ده د بل ناسور حيثيت لري چې له بده مرغه اسلامي نړۍ يې له حلولو عاجزه ده. د انګليس له لوری د افغان خاوری يوه برخه د هند په نيمه وچه پوری تړل چې وروسته د پاکستان له رامنځته کيدو څخه د ددو اسلامی مملکوتونو ترمنځ د اخو ډب يوه نه هيريدونکی او نه منل کيدونکی دسيسه.
د فلپين په خاوره د بودايانو او عيسايانو په لاس د مسلمانانو تباهي او هلاکت چې له لسګونو کلونو راهيسي دوام لري د اسلامي خلافت د ړنګېدو نه وروسته
را پيدا شوي زخم دی .چې لا تر اوسه د مسلمانانو وينې پکې روانې دي.
په سوډان کې کورني جنګونه, د مرکزي حکومت پرخلاف ددغه هيواد په جنوب کې د پرتو مسيحيانو راپارېدل. او د دارفور سيمې جنجال چې دا ټول د سوډان د ترقۍ او پرمختګ د مخنيوي په موخه يوه بله ستونزه ده، د صومال په ځمکه د مسلمانانو وژنه په عراق او افغانستان باندې د امريکا وحشيانه بريدونه او داسي نور دا ټول د اسلامي خلافت د نشتوالي زيږنده ده.
دا چې يو وړوکی کفري دولت د امنيت په شورا کې د غړيتوب حق لري مګر څه باندې پنځوس اسلامی دولتونه يې نه لري هغه تاوان دی چې مسلمانانو ته د اسلامي خلافت د نشتوالي په پايله کې رسيدلی دی.
نن او سبا خو په هر ځای کې د مسلمانانو په خاوره او ميشت سيمه د مرګونو ننداره دي، د وينو ويالې بهېږي او د ځپل شوو کړيکي ترآسمانه رسېږي، بيت المقدس د مسلمانانو لومړنی قبله، د اسارت شپې تېروي، ټوله اسلامي نړۍ د امريکايي او انګليسي لېوانو په لومه کې نښتي خو بيا هم د دې وخت نه دی را رسېدلی چې مسلمانان دغه واړه واړه کورونه په يوه لوی، په خپلو پښو ولاړ او د قوي مټو څښتن خلافت چې څوک ورته په کږو سترګو هم نشي کتلای بدل کړي.

دخلاصون لار يی کومه ده؟

آيا د دې وخت نه دی را رسېدلی چې اسلامي نړۍ د څو بې ماهيته، وطن پلورو او مزدورو واکمنانو له ولکې نه وويستل شي او هغو اتلانو ته چې په تندي يې د آزادۍ او مېړانې نښې نښانې ځليږي او په کړنو کې يې د شهکارۍ او اتلولۍ رمز ښکاري ته وسپارل شي ترڅو مسلمانان د لومړنيو پېړيو په څېر آزاد ژوند ولري او لاس په لاس د خپل روڼ سهار او روښانه مستقبل په لور د يوه قوي اسلامي خلافت تر سيوري لاندې يون پيل کړي؟ ولی نه. خو دا په هغه وخت کی امکان لری چی يو مسلمان بل مسلمان ته لاس ورکړی. ټوله اسلامی نړی په دی ځان وپوهوی چی کفر د اسلام هر اړخيز پرمختګ ته د يو لوی خنډ په څير اسلامی نړی ته راغلی دی. مسلمانان فکری او نظامی خپلواکی ولری اړينه خبر چی بايد موږ د الله ج خواته مخ واړوو. او دالله ج نه بخشنه وغواړو. په خپلو تيرو بدو کړنو پښيمانتيا څرګنده کړو او په نيکو کړنو هميشه والی وکړو. ترڅو الله ج راضی کړو د الله ج په رضايت سره موږ هم له دی کرغيړن تور تم نه نجات ومومو. انشاالله.

پښتانه اصلاً څوک دي
تحقيق او څېړنه : (نثار احمد صمد)

" نوي څېړنې پښتانه د اصل او نسب په لحاظ آريايان او د هندو اروپايې کورنۍ د هغې ستری څانګې غړي بولي چې د هندو آريايي په نوم يادېږي "

بسم الله الرحمن الرحيم ـ د پښتنو د اصل او نسب په باره کی د ډېر پخوا څخه ډول ډول روايات او نظريات څرګند سوي دي څو چې د نولسمې پيړۍ معروف مستشرق او پښتو پېژندونکي ( هنري راورټي ) داسې ووېل : « د هيڅ قوم د اصل او نسب په باره کی د نظريو اختلاف دومره زيات نه دی ، لکه د پښتنو د اصل او نسب په باره کی چی دی . »

چا پښتانه د هغوی د خپل عنعنوی روايت په اساس بنی اسراييل بللي او چا بيا قبطيان ( فرعوني لړۍ ) ګڼلي دي . چا په مغولو ور ګډ کړي او چا د آرمنيانو ، تاتاريانو ، هپتاليانو او ساکانو په قطار کی درولی دي . چا بيا په عين وخت کی له راجپوتانو ، برهمنانو ، يونانيانو ، ترکانو ، عربانو او نورو سره ګډ کړي دي .

خو د پښتنو د اصل او نسب په باره کی تر ټولو عام او بيخی زوړ روايت هغه دی چی وايی پښتانه بنی اسراييل دي . په دې هکله تر ټولو پخوانی تحريری سند چی دغه روايت پکښی راغلی دی ، هماغه د ابوالفضل « آيينِ اکبری » دی چی په ۱۵۹۷ ـ ۹۸ کی ليکل سوی دی . هغه په دې کتاب کی ليکی چی : « پښتانه ځانونه د بنی اسراييلو اولاده بولی » او پسی زياتوی : « پښتانه په دې عقيده دي چی ډېر ليری نيکه يې چی افغان نومېدئ ، درې زامن لرل چی هغه سړبن ، غرغښت او بټن وو . » بل اثر د اخوند درويزه ( تذکرة الابرار والاشرار ) دی چی په ۱۶۰۳ ـ ۱۶۱۳ کی ليکل سوی دی او داسی وايی : « پښتانه د مهتر يعقوب اولاده ده چی د اسراييل په نوم يادېږی . د اسراييلو يو ډېر لوی مشر طالوت و . د طالوت څخه دوه زامن پاته سول چی يو يې آصف نومېدئ او بل يې افغان . د افغانانو طايفه د همدې افغان اولاده ده . » درېيم اثر د نعمت الله هروی ( تاريخ خان جهان و مخزن افغانی ) دی چی په ۱۶۱۲ ـ ۱۳ کی ليکل سوی دی . په دې هکله د مخزن افغانی لنډيز داسی دی :

« ملک طالوت د اسراييلو پاچا و ، خو دمخه له خپل مرګ نه يې د سلطنت امور مهتر داؤد ته ور وسپارل . دئ خپله وروسته له اووه څلويښت کاله سلطنت نه په يوه جګړه کی ووژل سو .

ملک طالوت دوې ښځی لرلې او د مرګ په وخت کی يې دواړه اميدواری وې . وروسته له څه مودې نه د دواړو کره زامن وسول . مهتر داؤد چی د دغو ميرمنو سرپرستي ور په غاړه وه ، د يوې د زوی نوم برخيا کښېښود او د بلی د زوی نوم ارميا . کله چی د برخيا کره زوی وسو د هغه نوم يې آصف کښېښود او کله چی د ارميا کره زوی وسو د هغه نوم يې افغنه کښېښود .

وروسته له مهتر داؤد نه مهتر سليمان د اسراييلو پاچا سو . ده د ملک د چارو د نظم او ادارې کار آصف او افغنه ته ور وسپارئ . د دغو دوو ورونو په تيره بيا افغنه اولاده چی په شام کی اوسېده دومره زياته سوه چی له حسابه ووته . وروسته د مهتر سليمان له مرګ نه د اسراييلو ورځ بده سوه . بخت نصر شام ونيو ، بيت المقدس يې وران کړ او د آصف او افغنه د اولادې دوه د سر سړي عزيز او دانيال يې له خپلو پيروانو سره بنديان کړل . بخت نصر وروسته د اسراييلو دوولس زره مهم خلک ووژل او پاته يې د آصف او افغنه سره غور ، غزنی ، کابل فيروز کوه او د کندهار شاوخوا سيمو ته فرار کړل . د افغنه اولاده په دغو سيمو کی ميشته سوه .

کله چی خالد بن وليد مسلمان سو نو دغو خلکو ته يې مکتوب ور وليږئ ، د اسلام د پيغمبر د بعثت زيری يې ور وکړ او د اسلام منلو ته يې ور وبلل . کله چی د افغنه اولادې ته د خالد مکتوب ورسېد ، يو شمير مشران يې مدينې ته روان سول . په دغو مشرانو کی د بن افغان د ټولو نه ستر مشر قيص نومېدئ چی د نسب سلسله يې ملک طالوت او ابراهيم خليل الله ته رسېده . خالد دغه خلک د پيغمبر حضور ته وروستل .

آنحضرت له هر يوه نه د نوم پوښتنه وکړه . د بنی افغان مشر ورته وويل چی د ده نوم قيص دی . حضرت پيغمبر ورته وويل : قيص عبرانی نوم دی . څرنګه چی موږ عرب يو نو ستا نوم به وروسته له دې عربی او عبدالرشيد وی .

عبدالرشيد د خالد سره يو ځای په يو شمير جګړو کی په ميرانه وجنګېد او خالد حضرت پيغمبر ته د هغه د ميرانی په باره کی معلومات ورکړل . حضرت پيغمبر عبدالرشيد ته د بتان لقب ورکړ . بتان چی وروسته پټان سو ، هغه تير ته وايی چی بيړی پرې تکيه وی . حضرت پيغمبر وروسته عبدالرشيد خپل حضور ته ور وباله ؛ د خير دعا يې ورته وکړه او د خپل يو صحابی او يو شمير انصارو سره يې بيرته غور ته وليږئ چی په خلکو کی د اسلام تبليغ وکړی . د قيص عبدالرشيد نه چی په کال ۴۰ هجری کی په اووه اتيا کلنی مړ سو ، درې زامن پاته سول . يو سړبن ، بل بيټنی او بل غرغشت . »

خو که موږ او تاسی د احاديثو ټول مشهور کتابونه ( لکه صحيح بخاری ، صحيح مسلم ، جامع ترمذي ، سنن ابواؤد ، سنن نسايی ، ابن ماجه.... ) ولولو ، هيڅ دغه ډول ادعا يا اشاره نه ده پکښی ذکر سوې . او که د اسلامی تاريخ ټول معتبر آثار وپلټو ، هم به هيڅ دغسی ادعا او بيلګه پيدا نکړو . نو ځکه دا هسی يو روايت ، حدس ، ګومان او قياس دی چی هيڅ علمی او تطبيقی اساس نه لری . د رسول الله (ص) ټول حديثونه ، فرمودې او قصې د احاديثو په شپږو معتبرو کتابونو کی راغلي دي چی د قيص پورتنۍ قصه په هيڅ دغو آثارارو کی نسته . نو ځکه دا صرف يوه تخيلی ادعا ده .

په هر صورت ، د نعمت الله هِروي څخه راوروسته هم ډیرو نورو واقعه نګارانو او هم پخپله پښتنو مؤرخینو لکه افضل خان خټک ، حافظ رحمت خان ، زردار خان ، او حتی قاضی عطأ الله خان ، پښتانه بنی اسراییل بللي دي . خو علمی سند او تاریخی ثبوت نلری .

په غربی مؤلفینو او څیړونکو کی د بنګال د شاهی آسیایی ټولنی ریًس ، سر ویلیم جونز ( ۱۷۴۶ ـ ۱۷۹۴ ) ، لومړنی شخص و چی د پښتنو د اصل او نسب دغه عنعنوي روایت ته یي د غربیانو جدی توجه ور واړوله او په یوه یادونه کی یې وویل چی کېدای سی پښتانه د یهودو له نسله وی .

په ۱۷۸۴ کی یو انګریز لیکوال ، هنری ونسیتارت ، سر ویلیم جونز ته یو لیک ولیږئ او په هغه کی یي هغه څه ورته ولیکل چی نعمت الله هروی لیکلي دي چی مخکی اشاره ورته وسوه . سر ویلیم جونز هغه عنعنوي روایت نور هم تقویه کړ چی د پښتنو اصل او نسب یې بنی اسراییلو ته ور کش کړی و . د همدغه جونز د تبصرې څخه وروسته ډیرو غربیانو کوښښ وکړ چی دا ثابته کړی چی افغانان له اصله یهود دي . ورپسې غربی څیړونکی او مؤلف هماغه الګزنډر برنز دی چی افغانان یې « برنس » بولی او په ۱۸۴۱ کی د کابل په پاڅون کی د خپل ورور او یو بل همکار سره یو ځای ووژل سو . برنز په خپل یو کتاب ( بخارا ته سفر ) کی ولیکل چی پښتانه بنی اسراییل دي . بل لویدیځ مؤلف ، ویلیم مور کرافټ دی چی په ۱۸۱۹ ـ ۱۸۲۵ کی د هغه وخت په افغانستان او شا وخوا ملکونو کی ګرځېدلی دی ، پښتانه یهودانو ته ورته بولی . چارلس مېسن ( ۱۷۲۸ ـ ۱۷۸۶ ) یو بل پخوانی انګریز سیاح دی چی پښتانه یې په خپله سفر نامه ( د مختلفو سفرونو خاطرات ) کی اسراییل بللی دي . یو بل انګریز چی پښتنی سیمی ته تللی او داسی برداشت یې کړی چی افغانان بیخی د یهودانو غوندی ښکاری ، یو پوځي افسر دی چی جورج روز نومیږی او کتاب یې ( افغانان ، لس قبیلي ، او د شرق سلطانان ـ ۱۸۵۲ ) عنوان لری . هغه د افغانانو څیړې د یهودانو بللي دي . او په ټینګار سره وایی چی پښتانه د لسو ورک سوو قبایلو څخه دي او ادعا کوی چی که هغوی په ربښتیا هم له اصله یهود نه وای ، نو هیڅکله به یې ځانونه بنی اسراییل نه بلل . بل انګریز څیړونکی ډاکټر والټر بیلیو ( ۱۸۳۴ ـ ۱۸۹۲ ) دی چی په درو مختلفو آثارو کی یې پښتانه بنی اسراییل بللی دي . مابعده انګریز هنری راورټی دی چی پښتانه د یهودو له نسله بولی ، ۱۸۵۴ . بل انګریز مؤرخ جان ملکم ( ۱۷۶۹ ـ ۱۸۳۳ ) دی چی وایی پښتانه پخپله ځانونه قسماً د مصر قبطیان او قسماً د اسراییلو نسل بولی خو دئ دا نظر او دا روایت ردوی او داسی وایی : « هیڅ داسی کتیبه نه ده پیدا سوې چی دا عقیده تایید کړی چی پښتانه د یهودانو له نسله دي او د دوی خپله مبهمه عنعنه په داسی یوه موضوع کی د یو ثابت حقیقت په حیث نسی منل کېدای » ( جان ملکم : د فارس تاریخ ، لومړی ټوک ، ۵۹۷ مخ ) .

په هر صورت ، پورتنی ادعاګانی ( چی وایی پښتانه د بنی اسراییلو له نسله دي ) یا په عنعنوي روایاتو بنا سوي دي او یا په عادی مشاهداتو . اما کومی اصولی او دقیقی څیړني چی د پښتنو د تاریخ ، ژبی او اجتماعی خصوصیاتو په باره کی د نولسمی پیړۍ د آوایلو نه را دې خوا ته سوي دي ، د هغو په نتیجه کی دا ټول نظریات رد سوي دي . نوي څیړنی پښتانه د اصل او نسب په لحاظ آریایان او د هندو اروپایی کورنۍ د هغې ستری څانګی غړي بولی چی

د هندو آريايي په نوم يادېږي .

لومړنی غربی مؤلف چې د پښتنو د اصل او نسب په باره کی يې عنعنوي راويات په کلکه رد کړل ، منستيوراټ الفنستن ( ۱۷۷۹ ـ ۱۸۵۹ ) دی چی مشهور اثر يې ( د کابل سلطنت بيان ) نوميږی او په ۱۸۱۴ کی يې تأليف کړی دی . دا کتاب د پښتنی ټولنی د اصولی مطالعې په برخه کی داسی دقيق او نفيس اثر دی چی تر اوسه يې سارئ نه دی ليکل سوی . دئ ليکی چی د پښتنو اصل او نسب چی بنی اسراييلو ته راجع کيږی ، د بطلان دليل يې په خپله په همدې روايت کی پروت کی : ځکه دا روايت ساول ( ملک طالوت ) د ابراهيم پيغمبر پنځه ځلويښتم پښت ګڼی . خو د دې دوو ټکو څخه اول يې د تورات سره قطعاً اړخ نه لګوی او دوهم ټکی يې منطق نه منی . ځکه يوازی اووه ديرش پښته شپاړس سوه کاله نه کيږی .

اما کوم غربی مؤلف چی د پښتنو د اصل او نسب په باره کی لومړی ځل ډيره وسيعه او دقيقه اصولی څېړنه وکړه او د پښتنو د يهودي بللو روايت يې سخت رد کړ ، هماغه لوی مستشرق او د بشری علومو مشهور جرمن عالم برنارډ ډورن ( ۱۸۰۵ ـ ۱۸۸۱ ) دی . ډورن د خپل علمی ژوند يوه لويه برخه د پښتنو د ژبی او تاريخ مطالعې ته وقف کړې ده . نوموړي د خپلو ډيرو نورو کارونو تر څنګ د خواجه نعمت الله هروی ( تاريخ خان جهانی و مخزن افغانی ) په انګريزی ترجمه کړی او په ۱۸۳۶ کی يې په لندن کی چاپ کړی دی . ده پر دې ترجمه يو لړ ډير پاخه او ارزښتناکه يادابښتونه ليکلي او د کتاب سره يې ضميمه کړي دي چی په يوه برخه کی يې داسی ليکی : « دا چی د فارسی ژبی مؤرخين پښتانه د يهودو له نسله ګڼی ، دا پرته له يوې خبری نه د کوم بل شي ثبوت نسی کېدای او هغه دا چی دغه ليکوالان روايات ، پرته له دې چی ماهيت يې معلوم کړی ، د خپل دود په اساس ، د مسلمو حقايقو په توګه ثبتوی . » ( د افغانانو تاريخ ، يادابښتونه ؛ ۱۸۳۶ ، لندن ؛ ۶۵ مخ ) . ډورن وړاندی ځی او د هغو ټولو مؤلفينو نظريات او روايات علماً او منطقاً ردوی چی وايی پښتانه د يهودو له نسله دي او دې نتيجې ته رسيږی چی پښتانه د هندو اروپايی ولسونو د ستری کورنۍ غړی دي خو په عين وخت کی يې يو ځانته لرغونی ولس ګڼی .

په معاصر وخت کی پوهانو د يو ولس د اصل او نسب د معلومولو يوه ښه لار د هغه ولس د ژبی د اصل او ريښې د ماهيت څرګندول ګڼلی دی او د پښتو ژبی په باره کی هم په دې ارتباط کافی څېړنی سوي دي چی له مخی يې هغه د سامی او عبرانی ژبو سره تقريباً هيڅ او برعکس د هندي ـ آريايي او سنسکريت ژبی سره اساسی تړاو ثابت سوی دی .

دا لا څه ، که د پخوانيو ادعاګانو څخه تير سو ( چی وايی پښتانه د بنی اسراييلو نسل دی ) ، نن د ساينسی او ارثی پلوه هم دا ثابته سوې ده چی پښتانه د بنی اسراييلو ذات نه دی . د وينو هغه سمپلونه چی د يو شمير پښتنو څخه اخيستل سوي او معاينه سوي دي ، داښيی چی هغوی د ارثی پلوه په بنی اسراييلو نه ورګډيږی او هيڅ خونی تړاو نه ورسره لری .

اوځار برتانوي پروفيسور ( تيودور پرفيټ ) څو کاله مخکی د پخوانيو افسانوي رواياتو پر بنا ادعا کوله چی پښتانه د لرغونو بنی اسراييلو اولاده ده . نو هغه و چی د دې تخيلی ادعا د ثابتولو لپاره يې په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کی د يو شمير پښتنو پر ( ډي . ان . اې ) باندی يو لړ

لابراتواري معاينات وکړل ، خو دا يې دا ثابته نکړه چی پښتانه د لرغونو بنی اسراییلو سره د وينی تړاو لری . ډاکټر پرفيټ مخکی د جنوبی افريقا يو توکم ( ليمبا ) تر پرله پسې بيولوژيکی معايناتو وروسته د لرغونو بنی اسراییلو د يو ورک ټبر په حيث ثابت کړی و ، خو د پښتنو په باب يې دغه ساينسی مطالعات ناکام سول .

بيا په ۲۰۱۰ کی د هندوستان د ممبئ « د ايميونو هيماتولوجی د ملی انستيتوت » د ارثی علومو ماهري شهناز علی د اترپردیش ایالت مرکز ( لکنو ) ته نږدې د مليح آباد په سيمه کی چی ګڼ شمير اپريدي پښتانه اوسيږی ، د زياتو پښتنو د وينو سمپلونه واخيستل او د اسراییلو په حيفا کی يې « د اسراییلو د تکنالوجی په انستيتوت » کی د اسراییلی ساينس پوهانو په کومک تر دقيقو معايناتو او څيړنو لاندی ونيول . خو د هغوی « ډي . این . اې » يو ځل بيا دا علمأ ثابته نکړه چی پښتانه د بنی اسراییلو نسل دی . شهناز علی ته د اسراییلو خارجه وزارت د دې څيړنو او ګرويږنو ټول مصارف ورکړي وو او پوره درې مياشتی يې هلته دا معاينات او مطالعات وکړل مګر دا ګرده ټيم ناکام سو .

په اسراییلو کی د یوروشلیم پوهنتون د بشر پيژندنی د ديپارتمنت يوه څيړونکې ميرمن ( شلوا نييل ) وايی چی « پښتانه د روايتی او شفاهی تاريخ له مخی په وياړ سره ځانونه بنی اسراييل بولی . خو د معايناتو او لابراتواری کتنو څخه دا تړاو علمأ هيڅ نه دی ثابت سوی . ډی این اې دا معلومولای سی چی پښتانه د کومی سيمی څخه راټوکيدلی دي . خو دا هيڅ نه يقيني کوی چی هغوی دی د يهوديانو سره ارثی تړاو ولری . »

د لکنو پوهنتون يو استاد ( نورس اپريدی ) هم پرله پسې زيار باسی چی د پښتنو د يهوديت سابقه ثابته کړی او اسراییلو ته يې سفرونه او هلته يې څيړنی هم کړي دي خو هيڅ نتيجه يې نه ده ورکړې . دئ وايی چی « پښتانه په نړئ کی يوازينی هغه ټبر دی چی د لسمی پيړئ راهيسی د يهودي ، عيسوي او يا مسلمانو مؤلفينو لخوا ( که مذهبی دي يا سيکولر ) د لسو ورک سوو بنی اسراییلی قبيلو څخه د يوې قبيلې ډيره ادعا ورباندی سوې ده . » خو د وينی سمپلونه يې د يهودو سره نسلي تړاو نسی ثابتولای .

په دې هکله وروستي لابراتواري معاينات د امريکا د حکومت د وراثتی شورا د ادارې لخوا تير کال وسول . دغه ټيم د افغانستان او پاکستان د څو سوو پښتنو د وينو سمپلونه واخيستل او هغه يې تر يو لړ دقيقو لابراتواری معايناتو او مطالعاتو لاندی ونيول ، څو چی د ۲۰۱۲ د مارچ پر ۲۸ يې ننني پښتانه د لرغونو بنی اسراییلو ذات او نسل ثابت نکړ ، بلکی اعلان يې وکړ چی اوسني افغانان ( که پښتانه دي ، يا تاجک ، يا هزاره ) ټول دلته د پنځه زره کالو راهيسی اوسيږی او ګډ ژوند لری . او زياته يې کړه چی پښتو ژبه نه سامی ده نه خارجی ، بلکی د آريايی څانګی څخه ده چی په هندو- اروپايی کهول پوری اړه لری .

بنه ، نو آيا بيا هم کوم شک پيدا کېدای سی چی پښتانه ناحقه او بې دليله په بنی اسراییلو پوری وتړو ؟ آيا دغسی بې موجبه او بې استناده ادعاګانی « سياسی مانورې » او « مرموزی نقشې » نسو بللای ؟

اوس به مسأله له بلی زاويې څخه هم وشنو ، يعنی يو څه به شا ته ولاړ سو او د پښتو ژبی تړاو به د سامی ژبو ( خصوصاً عبرانی او عربی ) سره وڅيړو . په لرغونو زمانو کی د آريايی او سامی مدنيت روابط څه نا څه موجود وو .عربو مؤرخينو هم له پخوانی زمانې څخه د بنی اسراييلو خروج د خراسان پر خواوو ذکر کړی دی او دا يې راوړي دي چی د يهودو ځينی ډلی پر دې خواوو آبادی وې ( معجم البلدان ؛ ابوالفداد ) . که موږ د جغرافيې پخوانې کتب وپلټو همداسی ښکاری چی د اسلام په لومړۍ دوره کی په بلخ ، هرات او نورو ښارونو کی ځينی يهود اوسېدل . مثلاً حدود العالم ( د ۳۷۲ هجری قمری کال تأليف ) د گوزگانان مرکز او پايتخت ( يهودان ) بولی ، او وايی چی په گوزگانان ( اوسني جوزجان ) کی د عربو ځينی ډلی هم اوسېدلې چی پوونده وو او د خراسان تر نورو عربو دوی سره پاشلې پراته وو .

د دغو تاريخی دلايلو څخه دا ويلای سو چی د آمو په جنوبی ورشوگانو او د گوزگانان او خراسان په حدودو کی د اسلام تر وختو پوری لا هم يهود او عرب يعنی سامی خلک موجود وو . دا خو طبيعی خبره ده چی د دوو قومونو گډون او نژدې والی د دوی پر ژبو او اخلاقو يو له بله اثر کوی . نو ښايی چی هم د دغه اثر نتيجه وی چی په پښتو ځينی عبری يا عربی لغات گډ سوي وی او له دغه کيفيته ځينی خلک په دې فکر کی لوېدلي وی چی پښتو هم عبري يا عربي ته ورته سامي ژبه ده .

مگر وروسته چی د اروپا محقق پوهان راغلل ، دا ژبه او د دې ژبی قواعد او اصول يې په علمی معيار وکتل ، نو دوی په ښکاره د پښتو د سامي توب نظريه افسانه وگڼله او د پښتنو تعلق يې د بنی اسراييلو سره خورا ليری وباله .

د اوسني تاريخ اساس پر مشاهداتو او څرگندو دلايلو ايښو کيږی او سړی نسی کولای چی د تشو اقوالو په تاريخی پلټنو کی د ځان ويسا وکړی ، البته که روايات او عنعنات د مشاهداتو سره مرستي سی ، نو هغه تاريخی خبره به خورا ټينگه وی . په اوسنيو علمی اساسونو کی چی د تاريخ لپاره خورا اهميت لری ، د ژبو مقايسه او پرتله کول دي . د کومو قومو ژبی چی سره ورته وی ، سړی ځکم کولای سی چی دوی هم سره خپل او سره نژدې دي .

پښتو معلومه ده چی ډيرو آريايی ژبو او زند او سنسکريت ته ورته ده . د آريايی ژبو سره عنصری او اساسی گډون او اشتراک لری . سامی ژبو ته نه د قواعدو ، نه د لغاتو او محاورو له خوا ورته ده ، نو ځکه پوهانو د پښتو د سامي توب نظريه نه ده منلې .

دا چی د پښتو او عبري ځينی لغتونه سره مشابه دي ( لکه غر ، غور = گور ، جمع يې گورم ؛ ويشلې = شلح..... ) مگر که موږ په غور او ځير وگورو کټ مټ همدا کلمات په اويستا او سنسکريت کی هم سته . نو که موږ دا خبره ومنو چی د عبری ژبی ځينی کلمات د آريايی پخوانيو ژبو سره ورته دي ، نو بايد آريايی ژبی هم له سامی کورنی څخه وگڼو ؟! خو دا خبره د علم او تحقيق له مقياسه ډيره ليری ده . ښه ، اوس نو سړی ويلای سی چی غر ، غرڅه ، غلجی ، غرستان ټول آريايی دي . که په عبری ژبه کی ( گور ) وی ، وي دې ، هر شی خپل نژدې ته راجع کيږی ، نه ليری ته . بل لغت هم ( اور ) دی چی په پښتو کی اور ( يعنی آتش ) بلل کيږی ، په کلداني ژبه هم هغه ته اور وايی خو په عبري ژبه بيا اور ( نور ، رڼا ،

روښنايی ) ته وايی چې لږ پښتو ته ورته ښکاری مګر دا کوم بنسټيز ترړوا نه دی چې له مخی يې عبراني او پښتو د عين ټبر ژبی وبولو .

ځکه نو د پښتو لغاتو او کلماتو نښلول په سامی ژبو پوری کوم علمی اساس نه لری . او فقط دا فکر د بنی اسراييلو او سامی کهولو له نژدې هستوګنی او ګاونډي توب څخه پښتو ته پيدا سوی دی .

دلته بايد دا خبره هم په لنډ ډول ذکر سی چې له پخوانو زمانو څخه د هند لخوا د اقوامو روابط د سامی اقوامو سره جاری وو . د سِند په اوسنۍ علاقه کی د « موهنجو ديرو » کشفيات دا ښيی چې شپږ زره کاله دمخه يو مشترک مدنيت د دې ځايه تر بابل او آشوره موجود و . وروسته چې آريايی اقوام پر هند مسلط سول ، نو د دوی تجارتی او د تګ راتګ روابط هم طبيعی دي ، په دې تعامل او ارتباط کی ضرور ژبی هم يو پر بل باندی اثر کوی ، لغات او کلمات يې هم يو له بله اخيستل کيږی او سره ګډيږی . مثلاً موږ ډير سوچه او لغږ آريايی د سنسکريت لغات وينو چې په عربی ژبه کی هم کټ مټ سته ، او دا ليری نه ده چې دغه لغات په تجارتی او اجتماعی تعامل کی له هنده عربو ته تللي وی ، يا ځينی لغات له عربی څخه هند ته راغلي وی . د مثال په توګه د ( اپت ) پښتو کلمه وګورئ ! عربی آفت جمع يې آفات مستعمله ژوندۍ کلمه ده ، چې په سنسکريت کی هم عيناً اپت يا اپتی د فاجعې ، بد بختۍ ، پريشانۍ او خفت او رسوا توب په معنی ده . په پښتو کی هم دغه کلمه په همدغو معناوو کټ مټ ژوندۍ ده لکه په دې لنډيو کی :

لکه شين کښت رِليو زمول کړم .......... راباندی راغله له آسمانه اپتونه

د وير اپت راباندی راغی .......... په بيلتانه کی د زړه وينی توېومه

ځکه چې سنسکريت ژبه پښتو ته خورا نژدې ده ، نو دلته موږ دا ويلای سو چې اپت هم آريايی کلمه ده او پښتو او سنسکريت له عربی څخه نه ده اخيستي .

نو که داسی کلمات ومومو چې اوس هم په پښتو کی وی ، هم په عربی او په نورو آريايی ژبو ، سنسکريت او زند کی هم وی ، دلته نو موږ په ټينګه ويلای سو چې هغه کلمې آريايی دي او د سامی ژبو څخه نه دي راغلي ، بلکی ښايی چې له آريايی ژبو څخه سامی ژبو ته نقل سوي وی ، او دا خبره دليل هم نه ګرزی دې ته چې موږ دې پښتو له سامی کهوله وبولو .

هر څه بايد په تاريخی او لغوي پلټنو کی ولټول سی او پسی معلوم او ثابت سی . سامی ژبی پخوانو متمدينو قومونو لکه بابل ، آشور ، فنيقه ويلې . سامی ژبی دا ډولونه لری :

الف : آرامی : د بابل زړه ژبه ده چې سريانی او کلدانی يې ځانګی دي .

ب : عبرانی : چې تورات په دې ژبه دی . اسرايليانو آرامی او کلدانی سره ګډه کړه .

ج : عربی : په سامی ژبو کی خورا ښه او مشهوره ژبه ده چی عربی ملتونه يي وايی او د اسلام او قرآن مقدسه ژبه بلله کيږی . حبشي او سوماليايی ژبی هم د عربی څانگی دي .

په عمومی ډول ژبی د ادايني له پلوه پر دوو برخو ويشل کيږی چی ثابتی او اوښتونکی دي . ثابتی هغه ژبی دي چی د اوښتلو او اشتقاق وړتيا نلری لکه چينايی ، او د ليری ختيځ ژبی او هم د لاتينی امريکي د بومی خلکو ژبی .

اوښتونکي ( متصرفه ) ژبی هغه دي چی د تصريف او اړولو او اشتقاق قابليت ولری ، په کلماتو پوری دمخه هم ملحقات نښلی او وروسته هم ( يعنی پري فيکسس او سفيکسس يا مختاړي او روستاړې ) . اوښتونکی ژبی دوې څانگی لری :

لومړی ـ آريايی ژبی دي ؛ چی زموږ د وطن ارياېی نسل خبری په کوی . هر ځای چی زموږ له خاورو څخه آريايان تللی دي د دوی ژبو ته آريايی وايو ، او اروپايان « هندو اروپايی » هم ورته وايی . دا ژبی شمالی او جنوبی څانگی لری . شمالي يې د اروپا آريايی ژبی دي لکه : لاتينی ، يونانی ، سلتی ، سلاوی ، تيوتونيک . جنوبی يې د آسيا آريايی ژبی دي لکه سنسکريت ، زند ، پښتو ، پاړسو .

دوهم ـ سامی ژبی چی پورته ووېل سوې .

بايد ووايو چی د اصلی او لرغونی آريايی ژبی کوم اثر او نخښه اوس نه ده پاته . خو پښتو د هغي سره نژدې والی لری . لکه سنسکريت او اويستا چی ځنی زيږېدلي دي ، پښتو هم د هغي ژبی لور ده .

فلهذا ، پښتو د هندو اروپايی يعنی آريايی ژبو څخه ده . ځکه چی د آريايی پښت زانگو دغه زموږ د هيواد مځکی دي . نو اصلی آريايی ژبه هم دلې ويله کېده ، او دلي په خپله پاته ده ، يا يې لور پښتو تر اوسه په دغو غرونو کی ژوندۍ ده .

بلخوا ، که سړی د مارگنسترن نظريه ومنی او پښتو د ساکا يوه لهجه وگڼی ، نو معنی به يي دا وی چی پښتو لږ تر لږه دوه زره کاله پخوا معموله وه . ځکه د ساکانو مشران د ميلاد نه تقريباً سل کاله دمخه يعنی د ۹۷ قبل الميلاد په شا وخوا کی ، په نننۍ پښتونخوا کی مسلط سول او په پنځم ميلادی کال کی يې سلطه پای ته ورسېده او په دې پسی يې ژبه هم لادرکه سوه . اوس سوال دا دی چی پښتو او « ساکا » خو ، اساساً د ايرانی ژبو په شرقی ډله پوری مربوطی ډلی دي ، نو پښتو دا دومره قوی د هندي ژبو خصوصيات له کومه کړل ؟ دا سوال دوه احتمالی ځوابونه لرلای سی : يو دا چی پښتو له اصله يوه ايرانۍ ژبه وه او د هندی ژبو ډېر زيات عناصر ، لکه څنگه چی ډارمستېتر او نور وايی ، وروسته ورداخل سوي دي . بل دا چی پښتو د اول سر نه داسی يوه ژبه وه چی هم يې د هندي ژبو خصوصيات لرل او هم د ايرانی ژبو . راځی چی لومړی دا اول احتمال وڅېرو : د يو قوم ژبی ته د يو بل قوم د ژبی په ډېره وسيعه پيمانه خصوصيات ، معمولاً ، هغه وخت ورداخلېدلای سی چی لومړی قوم د دوهم قوم تر ډېری قوي او اوږدې سياسی او ثقافتی سلطې لاندی راغلی وی . خو تاريخ شاهد دی چی د

پښتنو ملک په اسلامی عصر کی هيڅکله هم د هندوستان تر دغه راز سلطې لاندی نه دی راغلی ، بلکی په دې دوره کی ډير ځله هندوستان د افغانانو او پښتنو تر سياسی سلطې لاندی راغلی او اساسأ همدا کار په هند کی د اسلام او اسلامی ثقافت د خپرېدو سبب گرځېدلی دی . اما له اسلام نه وړاندی داسی يوه دوره تيره سوې ده چی په هغې کی د پښتنو ملک د هندوستان تر يوې قوي او طولانی سياسی او ثقافتی سلطې لاندی راغلی و . دا دوره د موريا د کورنۍ د واکدارۍ عصر دی چی د چندرا گوپتا د واکدارۍ له سر نه ( ۳۲۳ قبل الميلاد ) پيل سوې او د آشوکا په مرگ ( ۲۲۷ ق . م ) پای ته رسېدلې ده او نږدې سل کاله يې دوام کړی دی . په واقعيت کی همدا يوازينۍ دوره ده چی کېدای سی پښتو ته د هندي ژبو خصوصيات په دومره وسعت او قوت ورننوتی وی ، او که دا خبره همداسی وی ، نو پښتو به لږ تر لږه دوه نيم زره کلنه او حتی تر هغه هم زړه ژبه وی . اما کله که سړی هغه اول احتمال ومنی او داسی وگڼی چی په پښتو کی د هندي او ايرانی ژبو خصوصيات آن د اول سر نه موجود وو ، هلته نو بيا د ترومپ نظريه تقويه کيږی او پښتو د هندي او ايرانی ژبو تر منځ يوه ډيره لرغونې د اتصال کړۍ يا په بل عبارت د دغو دوو کورنيو د يو شمير ژبو د انشعاب منشأ گرځی .

که مسأله د خپل تل نه وڅيړو ، نو د يو تريخ واقعيت په توگه به ووينو چی په يو زيات شمير معتبرو پخوانيو تأليفاتو او تاريخونو کی داسی مطالب ليکل سوي او بيا په تواتر په نورو پخوانيو آثارو کی داخل سوي او په نهايت کی يې ځينو معاصرو تحقيقی څېړنو ته لاره پيدا کړې ده چی اساسأ خيالی او افسانوي ماهيت لری او د واقعيتونو سره اړخ نه لگوی . د دې خبری يو ډير لوی دليل دا دی چی يو پخواني مؤلف هر څه ليکلی دي ، ځينو نورو پخوانيو مؤلفينو په پټو سترگو رانقل کړي دي او وروسته بيا معاصرو آثارو ته هم ور داخل سوي دي . په پخوانيو ځينو تاريخونو او آثارو کی رښتيا هم ډير زيات داسی خيالی او جعلی روايتونه او خام مطالب راغلي دي چی يو يې هم د اصولی کره کتنی او منطقی استدلال تاب نه لری . يو مثال د پښتنو په باره کی د افغنه او قيص عبدالرشيد افسانه او د هغې پر اساس باندی د پښتنو د نسب جوړه سوې شجره ده ، چی هم د منطقې پخواني او ځينی اوسني تاريخونه پرې ډک دي ، او هم په پښتنو کی د ډير پخوا نه په شفاهی ډول رايجه سوې ده . خو که دا او داسی ډير نور د پخوانيو تاريخونو او آثارو مطالب د اصولی اجتماعی او تاريخی کره کتنی د معيارونو پر اساس وڅيړل سی نو يقين دی چی واقعی اړخ به يې پر افسانوي اړخ دومره غالب سی چی دا ټول روايت به باد يوسی .

په هر حال ، علمی تتبعاتو ثابته کړې ده چی پښتانه آريايان دي او لرغونی ټاټوبی يې « آريانا ويجه » ده . هغوی نه د فلسطين مهاجر دي او نه د بنی اسرايلو اولاده . د بنی اسرايلو له ذاته د هغوی بلل صرف پر احتمالاتو ، حدسياتو ، قياساتو او تشو گومانو باندی ولاړ دی ، ځکه :

لومړی ـ په ټول افغانستان او پښتونخوا کی هيڅ کومه کتيبه نه ده پيدا سوې چی پښتانه د بنی اسرايلو نسل وښيی ، حال دا چی د آريايی توب سره يې د اتصال په لسگونو ډبرليکونه ميندل سوي دي ( مثلأ د کندهار مډيگک ، د سِند موهنجو ديرو... )

دوهم ـ په غور ، غزنی ، کابل ، فيروز کوه او د کندهار په شاوخوا سيمو کی تر ننه هم کوم لرغونی کنيسه ( يهودي معبد ) نه دی کشف سوی لکه نعمت الله هروی چی وايی د ننني پښتنو

بنی اسرایيلی اجداد همدغو سیمو ته راغلل او آباد سول . که په کابل او هرات کی کومی دوې درې کنیسې موجودی وې ، د هغو سابقه یوازی سلو ـ دوو سوو کالو ته رسېده ( دا کنیسې د هغو یهودي مهاجرو وې چی د فلسطین څخه راغلي وو ، خو په ۱۹۴۸ کی هلته د اسرایيلی دولت تر استقرار وروسته بیرته ولاړل ) . هغوی د لومړۍ ورځی نه یهود او دین یې موسوي و ؛ نه پښتانه ول ، نه بل څه .

درېیم ـ په هیڅ اسلامی تاریخ ، په هیڅ نبوي حدیث او هیڅ اسلامی معتبر اثر کی د بنی اسرايیلو سره د پښتنو د نسلي تړاو یادونه او ذکر نسته ( لکه پورته چی مو د نعمت الله هروی نقل اقتباس کړ ) .

څلورم ـ د پښتنو ژبه ( پښتو ) چی ډیره لرغونې یعنی دوه نیم زره کلنه ده هیڅ د جوړښت ، گرامر ، لغاتو او لهجې له مخی د عبري ( یعنی بنی اسرایيلو د ژبی ) سره ورته والی او پیوند نلری بلکی د آریایی ژبو سره د تړاو په سلګونو مضبوط مثالونه لری .

پنځم ـ د پښتنو د بنی اسرایيلی بللو ادعا له ابتدا نه د « روایت او گومان » څخه راپیل سوې ده چی هماغه د ابوالفضل انګېرنه ده چی وایی « پښتانه ځانونه د بنی اسرایيلو اولاده بولی.... پښتانه په دې عقیده دي چی ډېر لیری نیکه یې چی افغان نومېدئ ، درې زامن یې لرل چی هغه سړبن ، غرغښت او بېټن وو » . په دې ادعا کی هیڅ کره سند ، ثبوت ، دلیل او اساس نسته بلکی د نن ورځی په حساب د یوې آوازې را انتقالول دي چی مابعده مؤلفینو پسی تکرار کړي دي .

شپږم ـ مهمه دا چی بنی اسراییل د تاریخ په ټولو دورو کی ( که په فلسطین کی وو او که شړل سوي وو ) هیڅکله ډیر نه دي بې اتفاقه سوي ، خو پښتانه بیا هیڅکله ډیر نه دي متفق سوي ! دا څنګه د وینی د تړاو خصوصیت دی چی داسی ژر برعکس سو ؟

اووم ـ لابراتواري او بیالوژیکی دقیقو معایناتو دا ثابته نکړای سوه چی پښتانه د لرغونو بنی اسرایيلو سره نسلی تړاو لری بلکی دا ټبر یې د همدې سیمی بومی ، اصلی او ځایی توکم بللی دی او د هغوی ژبه یې هم په آریایی څانګه پوری مربوط ګڼلې ده .

په هر صورت ، د پښتنو شجره تر سړبن ، غرغښت او بیټنی پورته چا ته علمأ معلومه نه ده او نه هم تر ننه علمأ ثابته سوې ده . بلکی ها خوا ته چی هر څه ویل کیږی ، صرف ګوماني ، تخمینی او افسانوي ماهیت لری . یو پخواني مؤلف چی هر څه لیکلی وی ، ځینو نورو پخوانیو مؤلفینو په پټو سترګو رانقل کړي دي او وروسته بیا معاصرو آثارو ته هم داخل سوي دي .

خو د معاصری تاریخ لیکنی میتودونه پر نقد او ارزونې ولاړ دي او مؤرخ باید خپلو ټولو مأخذونو ، مدارکو ، کتبی اسنادو او نورو خورو ورو پاڼو ته د نقد او کره کتنې په سترګه وګوری ، او کره او کوټه سره بیل کړی . د اوسنی زمانې پلټونکی مؤرخ دې ته اړ دی چی د خپلو ټولو خبرو او ادعاګانو اسناد وښیی .

نو د پښتنو او زموږ د سيمې د نورو ولسونو د پخواني اجتماعی ژوند په باره کی د واقعی او حقیقی اطلاعاتو د تر لاسه کولو لپاره یو ډېر اساسی او حتی ضروری شرط ، د علمی اجتماعی مطالعاتو د اصولو په اساس د پخوانیو تاریخونو او تألیفونو جدی او دقیقه کره کتنه ده . په دغسی کره کتنه کی باید دغه آثار په کاملاً آفاقی ډول چاڼ سی او کومی برخی چی یې له حقایقو او واقعیتونو سره اړخ نه لګوی په هغو ټولو د بطلان خط کش سی او نور د اجتماعی او تاریخی مطالعاتو د آثارو مخونه پرې تور نسی .

د ايثار يو جالب روايت

يوه ورځ د رسول کريم صلی الله عليه وسلم خوا ته يو تن راغی، ور نږدې شو او ورته يې وويل، دا څو ورځې کيږي وږی يم، څۀ مې نه دي خوړلي.
نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپلو شاوخوا ملګرو ته نظر وکړ،خو څوک يې ونه موند، چې نوموړی سړی مېلمه کړي. څۀ وخت وروسته "ابوطلحه " اوچت شو او وې ويل: زۀ اماده يم، چې دی مېلمه کړم او هغه يې لۀ ځان سره کور ته بوتۀ.
دوی خپله ټوله شتمني د اسلام پۀ لار کې مصرف کړې وه، څۀ يې نه درلودل، کله کله به يې پۀ کور کې دېګ جوشېدۀ. پۀ دغې ورځ "امّ سليم " د ابوطلحه ښځې شوروا د ماشومانو لپاره باندې کړې وه او غوښتل يې چې هغه پر ماشومانو وخوري.کله چې مېلمه کور ته راغی، ښځې او سړي پۀ خپلو کې سره وويل "نن شوروا د رسول الله مېلمه ته ورکوو، موږ کولی شو دا شپه هم پۀ وږي نس تېره کړو او يو ډول نه يو ډول ماشومان ويدۀ کړو."
دوی يوازينی کار چې کولی شو، هغه دا و، چې ډوډۍ پر دسترخوان کېښندي، ښځه يې پۀ ناګارۍ سره څراغ مړ کړي او د کور مالک تش لاس تر خولې يوسي او بېرته ټيټ کړي؛ ځکه غذا دومره وه، چې يوازې يې يو تن مړولی شو، پۀ دې ډول مېلمه خپل ځان موړ کړ. ښځې او خاوند خپل تصميم عملي کړ.
سهار شو، دوی د لمانځۀ د ادا کولو پۀ نيت پۀ نبي کريم صلی الله عليه وسلم پسې اقتدا وکړه.
کله چې لمونځ خلاص شو، نبي کريم صلی الله عليه وسلم پۀ ابوطلحه او مېلمه پسې سترګې غړولې او لټول يې او وې پوښتل " نن شپه مو څۀ کړي، چې ستاسې پر اړه دا ايت نازل شو:
"د شېخ صاحب پۀ قول: خدای جل جلاله مو حيران کړ."
و يوثرون على انفسهم ولو كان بهم خصاصة. حشر: ۹
هر څومره چې خپله پۀ مشکل کې وي، بيا هم نورو ته پر ځان ترجيح ورکوي.

سبحان الله
دا د هغۀ نبي صلی الله عليه وسلم روزنه وه، چې امت ته يې د بېلګو دنګ غرونه ودرول. هغۀ صلی الله عليه وسلم اسلام داسې زړونو ته کوز کړ، چې مخکې پکې جهالت او تياره وه، د صدقې او ايثار پۀ نوم يې څۀ نه پېژندل، خو کله چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم تر روزنې لاندې ونيول، بيا يې تر قيامته پورې ساري ونه موندل شول.

د نن ورځې بنيادم داسې بېلګې نه شي وړاندې کولی.

محمد الفاتح خپل زوی "بايزيد" ته وصيت!!!

د ترکيې د عثماني خلافت سلطان، غازي محمد الثاني الفاتح: فاتح سلطان محمد خان الثاني د عثماني دولة اووم پاچا وو، چې د ال عثمان د اولادې څخه وو.
محمد خان الثاني ته د الفاتح، ابي الفتوح او ابي الخيرات لقبونه کاريدل، خو کله يې چې قسطنطينيه فتح کړله د قيصر لقب يې هم په القابو کې وراضافه کړل شه، چې له ده مخکې ياد لقب کوم بل خليفه ته نه وو ورکړل شوی.

معلوميږي چې سلطان محمد الفاتح په بيزنطينه امپراطوری باندې وروسته د يولس پيړو څخه حکومت کړی دی.
ده ديرش کاله په اسيا او اروپا باندې حکومت کړی، ده د اناضول ټول ممالک سره يو کړل، ده کوشش کوه چې د اروپا، بلجراد او بيزنطيه اداري شکل د عثماني خلافت په څير شي.

خو کله چې سلطان محمد الفاتح وفات شه؛ نو د "کنائس" چې د عيسويانو معبد خانو ته ويل کيږي، د أمر په امر پکې تر ديرو ورځو پورو ګډاګاني کيدلې، ګنګړي پکې شرنږيدل، ځکه دوی راحت موندلی وو، اوس يې دومره ويره نه کيدله څومره چې د محمد الفاتح په وخت کې وو.

محمد الفاتح خپل زوی بايزيد الثاني ته وصيت کوي، پداسې حال کې چې دی د مرګ په فرش باندې پروت دی، ورته وايي " نږدې ده چې زه مړ شم، خو مرګ ته خفه پدې نه يم چې ما ستا په څير ځای ناستي پريښی دی، ته يو عادل، صالح او مهربان شخص جوړ شه، په خپل رعيت باندې بې له دې چې کوم چا ته ترجيح ورکړې د عدل لاس وغوړوه!.

د اسلام په خپرولو کې ډير کوشش، ځکه په ځمکه د دين خپرول او عملي کول د پاچاهانو فرض دي، په هر څه باندې ديني امورو ته وړندې والی ورکوه او هيڅ کله يې په هميشه والي کې له سستی څخه کار مه اخله!

د هغو کسانو په خدمت کې د هيڅ وخت لپاره مه لويږه چې هغوی د اسلام اهتمام نه ساتي، د

لويو ګناهونو څخه پرهيز نه کوي، په فحشا کې ډوب شوي وي او د بدعت او مفسدو کارونو څخه ډير لرې تښته او له هغه کسانو هم لرې تښته کوم چې تا بدعت او خرفاتو ته کش کوي.

د ښارونو جغرافيه په جهاد سره پراخه کړه، د بيت المال په پوره توګه حفاظت او ساتنه کوه، د اسلامي حق پرته د هيڅ چا مال ته لاس مه اوږدوه، فقيرانو ته د مرستې ضمانت ورکوه، حقدار ته د خپل حق په ورکړې سره اکرام او عزت کوه!

د علماء کرامو عزت او برم ته په لوړه سترګه ګوره او تل يې پلوي کوه، ځکه چې علماء د اسلامي دولت محمکې ستنې دي.
کله چې واورې يو عالم په کوم لرې ښار کې ژوند کوي، دليدلو لپاره يې خامخه ورشه، په مالي مرستې سره يې عزت او احترام کوه.

پام او پام چې مال او لښکرې دې دوکه نه کړي، هيڅ کله دې ديني لاربښوونکي ستا په دروازه چې د طمع په پار سرونه ټيټ نه کړي، هيڅ کله هغه څه ته ميلان مه کوه کوم چې د شريعت خلاف وي، ځکه چې اسلامي دين زموږ هدف دی، هدايت زموږ راسته لاره ده او پدې سره زموږ نصرت کيږي.
په اخر کې محمد الفاتح خپل زوی ته وايي: زما لطرفه دا درسره وساته چې په دې ښار کې زه د يوه واړه ميږي په څير اوسيدلی يم، دا ماته الله تعالی يو لوی نعمت راپه برخه کړی وو.

ته بايد يواځې زما مسلک ونيسې، زما په تګلار لاړ شې، ته د دين او د ديني اشخاصو د عزتمند ساتلو لپاره هيڅ کله له هلو ځلو دريغ مه کوه.
ته بايد د دولت مال په چټياتو، بې معنی او د قدر څخه په زياتو شيانو مصرف نه کړې، ځکه چې دا د تر ټولو د ستر هلاکت زريعه بللی شوي ده.

ژباړه: نور احمد شاکر:

بربريت !

"بربر "داندلس دفاتح موسی بن نصير او طارق ابن زياد قوم دی ، دهغه مهال په صليبي جګړو کې يې داندلس او غرناطې نصرانيانو ته سخته ماتې ورکړې وه .
اروپا ته تبنتيدلو نصرانيانو چې کله له خپلې ماتې شکست او رسوايې نه پس دارام ساه واخيسته ، نو يوځل بيا يې وغوښتل چې اندلس او غرناطه خپله کړي .
نصرانيانو په اندلس او غرناطې له عسکري بريد وړاندې رواني فکري جګړه پيل کړه ، دوی د بربر قوم په خلاف د وحشت له جملې سره دبربريت جمله هم روستاړې کړه .
او ويل به يې چې مونږ به له اندلس اوغرناطې نه وحشت او بربريت ختموو .
دډير تاسف او خفګان خبره دا ده چې زمونږ دټولنې ګڼ شمير لوستي ، ليکوالان ، شاعران ، اديبان او حتی عالمان دبربري قوم له تاريخ نه دناخبرئ په وجه دهغوی په سپکاوي کې دهغه مهال دنصرانيانو تقليد کوي .

د ساباط معرکه...

د ساباط معرکه د مسلمانانو او د فارس ځواکونو ترمنځ شوې، ددې جګړې لپاره فارسيانو يو داړونکی زمری هم راويستلی وو او د مسلمانانو خوا ته يې ور خوشی کړ، هاشم بن عتبة بن أبي وقاص چې د ډار نه پيژندونکي زړه خاوند وو په زمري حمله وکړه د خپل خنجر پواسطه يې له پښو وغورځاوه چې ددې سره د فارسيانو د ځواکونو په زړونو کې سخته ويره خوره شوه او د همدې ويرې څخه يې ماتې وخوړله.

(البداية والنهايه .

زيد ابن خطاب رغی الله عنه !

موږ او تاسو ټوله سيدنا عمر بن الخطاب رضي الله عنه پيژنو ، مګر أيا د هغه ورور زيد بن الخطاب رضي الله عنه هم پيژنو ؟

زيد بن الخطاب رضي الله عنه تر حضرت عمر رضي الله عنه مخکي اسلام قبول کړ ، د أولو مهاجرينو صحابه يي کرامو څخه دی ، په ټولو غزاء وو کي يي د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره شرکت کړی ، د أحد په غزاء کي حضرت عمر رضي الله عنه و غوښتل چي خپله زغره و خپل ورور زيد رضي الله عنه ته ورکړي مګر هغه انکار وکړ ، او ورته ويي ويل چي زه هم داسي د شهادت اراده لرم لکه ته چي يي لرې او داسي شهادت غواړم لکه ته چي يي غواړي.
حضرت زيد رضي الله عنه د هغه قهرمانو او جنګياليو صحابه يي کرامو له جملې څخه وو ، په " معرکة اليمامة " د يمامه په غزاء کي د اسلامي لښکر بيرغ دده په لاس کي وو ، او په دغه ورځ کي يي وويل ( والله لا أتكلم حتى يهزمهم الله أو ألقى الله فأكلمه بحجتي) په رب قسم چي تر هغه وخته به خبرې و نکړم تر څو چي الله رب العزت و کفارو ته شکست نوی ورکړی او يا زه شهيد سوی نه يم چي د خپل رب په وړاندي خپل دليل او حجت ولرم.

حضرت زيد رضي الله عنه د يمامة د غزاء په ورځ وکولای سوه چي د مسيلمة الكذاب د لښکر يو لوی قمندان ووژني ، دا چي د اسلامي لښکر بيرغ دده په لاس کي وو کفار وربانديي را ټول سوه او ورسره و جنګيده تر څو چي شهيد يي کړ.

کله چي يي د شهادت خبر و کشري ورور عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته ورسيد ، هغه وويل ( رحم الله أخي ، سبقني إلى الحسنيين ، أسلم قبلي ، واستشهد قبلي) الله رب العزت دي زما پر ورور خپل رحمتونه وکړي ، تر ما وړاندي سو د سعادت په دواړو کارونو کي ، هم يي اسلام زما تر مخ راوړ ، او هم يي شهادت زما نه مخ کي په نصيب سو.
حضرت عمر رضي الله عنه ډير محبت ورسره لاره ، او په بيلتانه کي يي ډير غمجن سو آن تر دي چي حضرت عمر رضي الله عنه به ويل چي هر وخت د سهار شمال را والوځي د زيد بوی پکښي محسوسوم.

المصدر : البدايه والنهايه.

د الجبر مؤسس یو مسلمان عالم وو.

علم الجبر د رياضياتو له فروعو يوه فرعه ده، چې مسلمانو علماوو يوازې په رياضياتو کې په حساب بسنه ونکړه؛بلکې په رياضياتو کې يې خپلې څيړنې لا پسې وغځولې، او په رياضياتو کې يې مشکلو مسايلو ته حل لار ومونده.
مسلمانو علماوو د لومړي ځل لپاره په الجبر کې څيړنې پيل کړې.
زياتې ليکنې يې پکې وکړې، چې د الجبر مؤسس هم یو مسلمان عالم ابو عبدالله محمد بن موسى الخوارزمي دی، چې په خوارزمي سره يې شهرت درلود؛ نوموړی عالم په (۱۶۵هـ) کې زيږدلی او په (۲۳۲هـ) کې د فارس په خوارزم نومي ښار کې وفات شوی دی.
ښاغلي خوارزمي د لومړي ځل لپاره د الجبر لفظ وکارولو، الجبر ته يې اصول او قوانين وضع کړل او په الجبر کې يې د (المختصر فی الحساب الجبر والمقابلة) تر عنوان لاندې کتاب تصنيف کړ .

چنگيزخان څوک وو؟

چنگيز خان په تاريخ کې يو وحشي ، بې رحمه او خونړی مغول سوبمن( فاتح) سردار او واکمن تير شوی . تاريخونو دده اصلي نوم تموچين راوړی ، ويل کيږي چې نوموړی داوسني مغولستان ( منگوليا ) هيواد دگوبي صحرا ( دښتې ) په هنتی نومې سيمه کې په ( ۱۱۶۰ زيږديز /ميلادی) کال کې زيږيدلی ، پلار يې (يسوگی) او نيکه يې (کبلی خان )نوميدل، په ديارلس کلنی کې يې پلار د تاتاريانو له خوا وو وژل شو، اودده دقبيلې مشرانو دی ، د ده ورونه ، خويندې او مور دښتو او صحراووته تبعيد کړل، ده وروسته ديوې قبيلې د سردار جاموخان سره دوستانه اړيکی ونيولې، خو وروسته بيا دخپل پلار ديوه ملگري اونگ خان سره چې هغه هم ديوې قبيلې سردار او مشر وو، ددوستی مزي او اړيکي ټينگې کړې . هغه دچنگيزخان هر کلی وکړ ، خوبياوروسته ددغې قبيلې د سردار اونگ خان او ده تر مينځ اختلاف رامينځ ته شوو ،چې له امله يې اونگ خان او زوی يې سنگون ووژل شول .
په ۱۲۰۶ زيږديز کال دده دقوم مشرانو ( تموچين ) د ستر خان او مشر په توگه وټاکه ، او ستر روحاني (کوکوچو )ده ته دچنگيزخان لقب ورکړ چې سخت او پياوړي ته ويل کيږی.
چنگيزخان نهه ديرش کلن وو چې دپاچاهی پر تخت کښيناست ، لومړنی کار چې يې وکړ د قبايلو ځواک او قدرت يې محدود کړ. ده ، يو پياوړی پوځي جوړښت يې رامينځ ته کړ ، خپل پوځ يې د لس زريزه پوځی ډلو او قطعاطو نه جوړکړ ، چې تومان به ورته ويل کيده ، اوبيا يې هر تومان په زرو پوځي ډلو تقسيم کړ ، چې د هزاره په نامه به يادېده ، ده يوداسې پياوړی او منظم پوځ جوړ کړ چې په خپل وخت کې يې ساری نه درلود.
چنگيزخان په ۱۲۱۸ زيږديز /ميلادي کال خپل يرغلونه پيل کړل او دنړۍ دنيولو په فکر کې شو .ده پر چين ، روسيې، افغانستان ، ايران او منځنی ختيز بريدونه وکړل . دی به چې هرښارته ته نو دخلکو کورونه ، عبادت ځايونه ، مدرسې ، جوماتونه او کتابتونه به يې ورانول او سوځول او پر انسانانو څه چې پر حيواناتو او سپيو او پيشو گانو يې هم رحم نه کاوه .
دچنگيز په خونړيو بريدونو کې د منځنی آسيا سمرقند ، بخارا او مروې ښارونه چې داسلامي ثقافت او کلچر يوه بېلگه وه ، دخاورو سره برابر او د دغو ځايو ، سم نيمايي خلک يې ووژل ، ده دافغانستان دبلخ ښار ام ا لبلاد ( دښارونو مور) او دهرات ښارتباه کړل . ده دايران په نيشاپور او نورو ښارونو کې هم خونړي کارونه ترسره کړل او په بغداد کې عباسي خلافت دده دلمسی هلاکو خان له خوا له مينځه لاړ .
چنگيز خان ډيرې ميرمنې درلودلې چې د خپلو دغو ميرمنو نه يې ډير اولادونه درلودل ، خو

په تاريخ کې دده دغه لاندينی زامن ډير مشهور دی. جوجی، جغتای، اوگتای او تولی ، چنگيز ۲۵ کاله واکمني وکړه او په۱۲۲۷ زيږديز کا ل کې ددري اويا کلونو په عمر مړشو.
دده تر مړينې وروسته دده زوی اوکتای دچنگيز پر ځای واکمن شو.

سيف الدين قطز!

ځوان سيف الدين قطز رحمه الله يوولس مياشتي حکومت وکړ، په همدې وخت کي ئې د ۶۵۸-ه شمسي په مبارکه روژه کي د عين جالوت په تاريخي جګړه کي تاتاريانو ته ماته ورکړه.

علماوو ليکلي چي تر عمر بن عبدالعزيز رحمه الله وروسته تر ټولو غوره حاکم قطز وو...

د قطز مېرمن!!!

په عين جالوت سيمه کې له مغولي لښکر سره د مصر د پاچا سيف الدين "قطز" تر مشرۍ لاندې د مسلمانانو خونړۍ جګړه روانه وه چې په همدې کې د قطز مېرمن "جلنار" په يوه غشي ولګېده او را پرېوته؛
قطز چې د هغې دا حالت وليد نو د جګړې له ميدانه خپلې خيمې ته راوګرزېد او چيغه يې کړه چې "واحبيبتاه" وای زما محبوبې!
خو د اسلامي امت هغې رېښتونې او مجاهدې مېرمن چې له کفر سره د جهاد پر مهال د قطز له خولې دا غږ واورېد نو چيغه يې کړه چې "وا اسلاماه" وای زما اسلامه!
او هماغه وو چې د دې الهام بښونکي غږ په اورېدو قطز له همدې نارې سره چې وا اسلاماه وا اسلاماه بېرته په مغولي لښکر مخ را واړاوو
او هغه وحشي تاتاريان يې په داسې ايماني روحيه ورېبل چې بيا هيڅ ونه توانېدل چې د اسلامي نړۍ پر وړاندې دې مقاومت وکړی شي او له همدې ځايه يې د ماتې لړۍ پيل شوه.

ناپليون

ناپليون هغه اطرشي ضابط سره مصافحه ونکړه چې په اشغال کې ورسره مرسته کړې وه ورته ويې ويل: مزدورۍ دي واخله خو زه هغه شخص ته لاس نه ورکوم چې د خپل هيواد سره خيانت کوي که څه هم چې زما لپاره وي.
د /نيازی

د سلطان ايوبي ژړا !

کله چې صلاح الدين ايوبي د فاطمي خلافت وروستی کس (خليفه العاضد) معزول کړ او مصر يې د عباسي خلافت برخه وګرځوو نو د نوموړي په خلاف د فاطمي خلافت ځيني قومندانانو لاسونه يو کړل، چې په دوی کې يو هم فيض الفاطمي و څوک چې د صلاح الدين ايوبي ځانګړی نفر، د پوځ لوړ پوړی مشر، د سلطان ښی لاس او له پټو رازونو خبر و، د الفاطمي د دوه مخيتوب او بغاوت په اړه علي بن سفيان رح سلطان ايوبي ته خبر ورکړ خو هغه وويل چې په هيڅ صورت کې به دا ونه مني چې ګواکې الفاطمي دې د سلطان پر ضد له صليبيانو سره پټ لاس يو کړی وي، خو کله چې فيض الفاطمي له ثبوت سره ونيول شو او په خپل جرم او خيانت يې اعتراف هم وکړ نو ورته د مرګ سزا واورول شوه.
مراکشی تاريخ ليکونکی (أسد الأسدي) د صلاح الدين ايوبي د يوه کاتب په حواله ليکي: کله چې سلطان د الفاطمي د په دار ځړولو امر لاسليک کوو نو سلطان ايوبي په چيغو چيغو ژړل.

داسلامي تاريخ زړور سپاهيان او اتلان

علامه اقبال رحمه الله وايي !

په برطانيه کې وم، يو پلار خپل زوی ته ويل:
بچيه! مسلمانان زمونږ غلامان دي او تاسو بايد دا باداري برقراره وساتئ، زوی يې ورته وويل:
مسلمانان خوکله هم غلام کېدلی نشي، دوی خو هغه خلک دي، چې په ټول لښکر کې يې اته
توری وې مګر بيا هم جګړې ته روان ول (اشاره يې د بدر غزا ته وه)، دوی خو داسې ول
چې په وجود باندې يې اويا زخمونه ول مګر بيا هم دفاع ته ولاړ ول (اشاره ابو دجانه رضی
الله عنه ته وه)، د يوې زنانه پلار، زوی، خاوند او ورور هم ووژل شول، مګر زنانه يوازې د
خپل پيغمبر غم وړی وه، (د احد غزا ته اشاره وه).
پلاره! ما دا تاريخ لوستی دی.
هغوی به مسلمانان نه وي، چې زمونږ غلامي کوي

د تاريخ تر ټولو لوی قاتلان:

زمونږ د تصور خلاف چې فکر کوو هتلر د تاريخ تر ټولو لوی قاتل ده، خو چينايي ملحدينو او
کمونيسنانو د هغه رکارډ هم مات کړی ده، د جمهوري خلق چين بنسټ ايښودونکی "مائو
زيدانګ" کمونيسټ د خپل واک په دوران کې د ۷۸ مليونه انسانانو په وژلو سره د جدول په
سر کې ځای لري،
استالين کمونسټ د ۲۳ او هتلر د ۱۷ مليونه انسانو په وژلو سره په ترتيب په دوهم او دريم
مقام کې ځای لري...

په مدينه منوره کې د ولاړ ريل ګاډي حقيقت

د عثماني خلافت ( 34 ) خليفه سلطان عبدالحميد ( رحمه الله ) د خپل وخت يو ښه شاعر او د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) عاشق هم و .
د نوموړي د خلافت پر مهال د ترکيې څخه تر مديني منوری پورې د ريل ګاډي د پيل کولو پروګرام او منصوبه جوړه شوه چې نن هم هغه پټلی په مدينه کې شته دی او د ترکيې د ريل ګاډي د ستيشن يا تم ځای سره شهرت لري ؛ هغه مهال د ريل ګاډي انجن په کوېلې سره چليده ، هر کله چې هر ډول تياری مکمل شو نو د افتتاح لپاره يې په مدينه منوره کې سلطان عبدالحميد ( رحمه الله ) راوغوښت خو کله يې چې انجن چالان کړ نو د ګړب ګړب يو تيز اواز ورسره پيدا شو او شور يې جوړ کړ چې په دې سره د سلطان عبدالحميد ( رحمه الله ) رنګ له غوسې څخه بدل شو ، لرګي يې راواخيست او د ريل ګاډي په وهلو يې پيل وکړ او دا نعره يې وهله چې : د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) په ښار کې دومره لوړ غږ ويستل !!!
ادب ګا هست زير اسمان از عرش نازک تر
نفس ګم کرده می ايد جنيد و بايزيد اينجا
له هغې مهال تر اوسه څه د پاسه سل کلونه وشول چې دا ريل ګاډی اوس هم په مدينه منوره کې چوپ او خاموشه ولاړ دی او هيڅ غږ يې له خولې څخه نه وځي ، دومره ادب چې د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) په ښار کې يې د ريل ګاډي لوړ غږ هم برداشت نه کړ له همدې څخه يې د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) سره د محبت اندازه ولګوئ ! رب تعالى دې زموږ او ستاسې د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) محبت او شفاعت نصيب کړي .

اسلامي آمت !

آيا تاسو پوهيږئ؟! پۀ کال ۱۲۵۸ م کې د مغولو پۀ لاسونو بغداد او عباسي خلافت سقوط شول، خلکو ګمان کوه چې اسلام نور ختم شو بيا به هېڅکله سر راپورته نکړي ځکه مغول ډېر سخت ترين قاتلان او متشددين ول، خو پۀ همدغه ورځ الله عزوجل د عثماني دولت جوړونکی عثمان بن ارطغرُل بن سليمان شاه پيدا کړ ، دې نړۍ ته يې راوليږو، چې شپږ قرنه يعنې شپږ سوه کاله يې دغه دولت دوام وکړ، ۲۰ مېليونه کيلو مربع باندې يې حکومت او واک چليدو.!
چې يؤ رانسکوريږي الله ﷻ بل پيدا کوي ، دا امت به هيڅ وخت بې ځاروانه او بې رهبره نشي .

د عثمانيانو هنر!

د عثماني خلافت د تمدن مقدسه بناګانو کېداسي تاسي هم حېران کړی وی. د دې زړه راښکونکي هنر معمار د لسمي هجري پېړې مشهور او مهاره معمار #سنان_اغا دی. سنان اغا په يوه مسيحي کورني کې زيږېدلی دی او د عمر په دوو لومړنيو لسيزو کې مسلمان سوې دی، د ځواني په لومړيو کې فوځ ته شامله سو او بيا د خپل هنر او هنري ذوق له امله د خلافت د معمارانو مشرتوب ته ورسېده. د د څلور خليفه ګانو په دربار او حکومتونو کې خدمت کړې چې عبارت دي له: لومړې سلطان سليم، لومړې سلطان سليمان، دويم سلطان سليم او درېيم سلطان مراد رحمهم الله تعالی عليهم اجمعين. د ده عمر شاوخوا سل کاله وو او د خپل مرګ نه وروسته يې ۳۶۵ د معماري اثار د نړی په بېلابيلو سيمو کې په ميراث پرېښودلي دي، چې له دې ډلي څخه ۹۰ جوماتونه، ۵۵ مدرسې، روغتونونه، حمامونه، زندانونه، پلونه او داسي نور. د استانبول په ښار کې د ده په لاس جوړ اماکن خورا زيات دي. د ده په لاس جوړ مشهوره

بناګاني عبارت دي له :
د شاهزاده محمد جامع جومات
د خان جامعي جومات په قرم کې
جامع السليمانية په استانبول کې
جامع السليمية په ادرنه کې
جامع سليمانية په دمشق کې
جامع ملکه صفيه په قاهره کې.

اميرالمؤمنين حضرت عمر رضی الله عنه!

امير المؤمنين حضرت عمر فاروق (رض) په مسجد نبوي کښې ناست وو، او دمسلمانانو په ورځنيو چارو بوخت و.

يو دنګ ځوان چې سپيره ويښتان او سپيره مخ يې وو، خيرن کالي يې اغوستي او تنی يې هم څو ځايه شکيدلي وې، يوه اوږده لکړه يې په لاس کې وه، او څو لوښي، لرګي يې په څادر کې تړلي په شاکړي وو، جومات ته راننوت.

امير المؤمنين او ناستو کسانو ته يې سلام واچاوه؛ او په يوه طرف کې غلی کښيناست.
امير المؤمنين او ناستو کسانو د مسافر ګومان پرې وکړ، سلام يې ځواب کړ، او په خپلو کارونو بوخت شول.

ځوان هم ناست وو، چې ګڼه ګونه کمه شي او ده ته له امير المؤمنين سره د خبرو چانس پيدا شي.
د خلافت په دربار کښې خلك يو څه کم شول، عمر فاروق (رض) مسافر او وهلی ځوان ځانته راوغوښت؛ او د حاجت پوښتنه يې ورځني وکړه.

ځوان ورته وويل: امير المؤمنينه! زه تاسو راغوښتی وم، څو ورځې وړاندې ستاسي ليك راغی؛
او دادی زه له فرمان سره سم حاضر شوم.

امير المؤمنين حضرت عمر فاروق ډير فکر وکړ؛ خو داسي څه يې په ياد نه شول، چې دغه ځوان ته يې ليك استولی وي؛ نو په خورا تعجب يې ترې وپوښتل: ځوانه! ومې نه پيژندلې! زما نه دي په ياد چې تاته مې کوم بلنليك در استولی وي.

په دوړو او خاورو ککړ ځوان خپل شکيدلی ګريوان سره را ټول کړ، او په ډيره عاجزی، او

حیا، سره يې د خدای (تعالی) د رسول"رسول صلی الله علیه وسلم" وفادار ملګري ته وویل:

امیر المؤمنینه! زما نوم عمیر بن مسیب دی؛ او زه تیر کال ستاسې له لوري، د حمص والي ټاکل شوی وم.
تیره اونۍ د کلني احتساب په اړه ستاسو فرمان را ورسېد، او دادی زه له هغه سره سم د خپل مال، اسباب او هر څه سره یو ځای حاضر شوم.

امیر المؤمنین حضرت عمر (رض) ددې خبرو په اورېدو سره سترګې د ځوان په سترګو ښخې کړې، ګوته په غاښ پاتې شوه؛ او څو شیبې يې په ځیر ځیر د هغه حالت ته کتل.

امیر المؤمنین ته ورپه یاد شو چې، تیر کال يې دغه ځوان د مسلمانانو په مشوره، د شام د ښیرازه ولایت حمص والي ټاکلی و.

هغه مهال چې دغه ځوان شام ته روانېده؛ نو د ښکلا، خوښی، او شتمنی، نښې يې په تندې کې له ورایه معلومېدې.
د هغه د اغوستلو کالي په څو اوښانو بار وو، د تورو، زغرو او ډالیو حساب يې نه کیده؛ خو نن په داسې حال کې د مسلمانانو د امیر په وړاندې ناست دی؛ چې د فقر، غربت، او بې چارګی له امله د پیژندلو وتلی و. تنې او کالي يې شکیدلي وو، او څیره يې د بې خوبی، او نه خوراك له امله تکه زیړه شوې وه.

د اسلام خلیفه ورته وفرمایل: الله اکبر! عمیره! ته چې مې تېر کال استولې، خورا پنډ، او ترو تازه وې، د مال، او اسباب، حساب دې نه کېده؛ خو اوس دې په داسې حالت کې وینم چې، درته کتلای هم نه شم، خیر خو به وي؟ ولې په داسې حال يې؟

هغه ورته وویل: چې، امیر المؤمنینه! له دندې مخکې ما سودا ګري کوله، او کله نا کله به تاسې سره د خدای (تعالی) په لاره کې جهاد ته تللم، ما ته خدای (تعالی) ښې ډېرې پیسې، او شتمني راکړه؛ خو کله چې مو دمسلمانانو په دنده و ټاکلم؛ نو دمسلمانانو د ښېګڼې په لاره کې مې ځان هیر کړ.
امیر المومنینه! د حمص خلک زکات، او جزیه، په مینه ورکوي، تیر کال مو په ملیونونو درهمه، بیت المال ته تحویل کړل، له محاصلو او نورو عوایدو لاس ته راغلې پیسې، مو د هیواد او مسلمانانو په ښیرازۍ کې لګولي، په حمص کې مو لارې، کاروان سرایونه، ښارونه، بازارونه، کلا ګانې، حمامونه، مدرسې او جوماتونه جوړ کړي دي، حمص ستاسو د خلافت تر ټولو ودان، ښیرازه او ښدای ولایت دی.

امیر المؤمنین ترې وپوښتل: د ځان لپاره دې د بیت المال څخه بندوبست کړی دی؟
عمیر بن مسیب ځواب ورکړ: امیر المؤمنینه! د ورځې روژه یم، د شپې په اوبو روژه ماتوم، او څو خرما او یا هم نیمه د جوارو ډوډۍ خورم.
دغه په څادر کې غوټه لوټه او کنډولی مې د کور اثاثه دي، یو دغه څادر لرم، چې عورت پرې پټوم او یوه دغه لکړه، چې ځان پرې ساتم.

حضرت عمر رضی الله عنه ددې خبرو په اوريدو ژړغونی شو.
د عمير په حال يې غبطه راغله او خورا په زوره يې په ژړا پيل وکړ، او لاس يې په داسې په دعا پورته کړ:
ای الله! زه شاهدي ورکوم عمير پاک دی.
يا الله! ما په جنت کې له عمير سره يو ځای کړې، د عمير سر يې ښکل کړ او د راتلونکي کال لپاره يې بيا حمص ته واستاوه...

(صحيح بخاري: ۳۱۸۸).
ليکوال: حميد الله الفت زاده

تاريخ او حقيقت:

(دترکيې له تاريخ څخه)
په ترکيه کې د اسلامی خلافت له سقوط وروسته چې د عثماني شريفي کورنی سره له خپل هيواد او ټاټوبي نه د شړلو پر وخت کوم سپکاوی شوی، ښايی بيلګه يې بل ځای نه وي ليدل شوې.
د خلکو جمهوری ګوند چې په ترکي ژبه کې يې لنډلار( (CHPکيږي، له دغې کورنۍ سره هغه څه وکړل چې نه به يې کفار وکړي نه به يهودو کړي وي او نه مجوسيانو!
د کفارو په تاريخ کې به مو چيرته نه وي ليدلی چې له خپلو پلرونو او ميندو سره يې دا ډول چلند کړی وي لکه دوی چې د محمد فاتح له څوځات او لمسيانو سره وکړل، داسې چې د شپې په تياره کې يې يواځې د خوب په جامو کې له ترکيې نه اروپا ته کډه کړل.
د سلطان وحيدالدين کورنۍ او دهغه ميرمن له هغوی وغوښتل اجازه ورکړي په اردن، مصر يا شام کې پنا واخلی، خو هغوی يې اروپا ته وشړل، د غربي ښکيلاک موخې ښکاره وې، دا پرېکړه يواځې ددې لپاره وه چې ددغې اتلې کورنۍ نه د ټول اسلامی امت په استازيتوب غچ واخلي او سپکاوی يې وکړي، ځکه خويې د هغوي يوه برخه د يهودو ټاټوبي سالونيک او بله برخه يې اروپا ته وشړل.
د عثماني خلافت وروستی خليفه سلطان وحيدالدين يې د هغه له ميرمن سره فرانسې ته وشړل د هغوی ټول مالونه يې مصادره کړل، يواځې يې په کورنيو جامو کې په داسې حال کې وشړل چې په جيب کې يو قرش هم نه وو.
وايی چې د سلطان (اميرانو) ځامنو به د شپې له خوا په داسې حال کې چې خپل مخونه به يې پوښلي وو د پاريس په کوڅو کې دروېزه(سوالګری) کوله.
اوکله چې سلطان وحيدالدين ومړ مړی يې د ډېرو پوروونو په سبب د فرانسې په يوه کليسا کې تر هغو ساتل کېده چې بيا په فرانسه کې مسلمانانو د هغو د پوروونو د ادا کولو لپاره چنده وکړه اود هغه تابوت يې په هم هغو پيسو تر شام پورې و لېږدوه او هلته يې خاورو ته وسپاره.
بيا شل کلونه وروسته او دلمړي خل لپاره يې چې چا ددغې بدمرغې کورنۍ پوښتنه وکړه هغه ددغه هيواد د وزيرانو شورای رئيس عدنان مندريس و چې فرانسې ته يې د تلو او دهغوی د ليدو جرأت وکړ.
کله چې پاريس ته ورسېده د هغوی پلټنه يې کوله، خلکو ته به يې ويل ماته د خپلو ميندو او پلرونو ځای ځايګوتی را وښاياست، وروسته يې د پاريس په يوه وړوکي کلی کې، هلته په يوه

کارخانه کې او د لوښو د مینځلو په ځای کې یې د سلطان عبدالحمید میرمن شفیقه چې دا وخت یې عمر (۸۵) کاله وو او لور یې عائشه چې شپېته کلنه وه وموندلې په داسې حال کې چې په ناچېزه پیسو یې لوښي مینځل!
مندریس چې دوی په دې حالت کې ولیدل په لوی کومې یې ورته وژړل، د هغوی لاسونه یې ښکل کړل ویې ویل ماته ښښنه وکړئ، د ترکیې امیرې عائشې وویل ته څوک یې؟
کله چې عدنان مندریس ورته وویل زه د ترکیې صدراعظم یم، عائیشې لوښي وغورځول ویې ویل ته چېرته وې؟ ځویه تا ډېره ناوخته کړه او له همدې سره له ډېرې خوښۍ بې خوده شوه او په ځمکه را پرېوته..
مندریس چې انقرې ته را وګرځېده له جلال بیار سره یې په دې اړه خبرې وکړې، هغه ته یې وویل زه غواړم خپلو میندو ته عفوه اعلان کړم او هغوی بېرته خپل ټاټوبي ترکیې ته راستانه کړم، په لمړی سرکې جلال له دې پرېکړې سره مخالفت څرګند کړ وروسته یې د مندریس په ټینګار د سلطان عبدالحمید او وحیدالدین له نارینه اولادونو پرته یواځې د ښځینه وو له بیرته راستنولوسره هوکړه وکړه
مندریس د ملکې شفیقې او دهغې لور عائشې پسې فرانسې ته لاړ او هغوی یې ترکیې ته راستنې کړې، خو دهغوی نارینه بیا ان د نجم الدین اربکان د ریاست پر مهال وبښل شول او ترکیې ته وروستل شوه.
عدنان مندریس چې کله محاکمه کېده په هغه باندې یو تور دا و چې د دولت مالونه یې په غلا پر ملکه او دهغې په لور لګولي.
حقیقت دادی چې هغه به په اخترونو کې د شفیقې او د عائیشې کور ته ورته د هغوی لاسونه به یې ښکلول او هرې یوې ته به یې له خپلې تنخوا نه لس زره لیرې ورکولې.
په کال ۱۹۶۱د سبتمبر په ۱۷مه پرهغه اتل عدنان مندریس د اعدام حکم نافذ شو خو دهمدې میاشتې په ۱۸مه یعنې ایله یوه ورځ وروسته شفیقه او عائشه په لمانځه کې د سجدې په حالت کې مړې وموندل شوې..!
الله دې پر دوی رحم وکړي، او عدنان مندریس ته دې جنتونه ور په برخه کړي.
[سبحان الله، یواځې د اسلام دین ته دا اعزاز ورپه برخه دی چې نه پرېږدي د هغه قوم عزتمند لاپسې بې پته شي چې له خوارئ سره مخ وي، د بشریت لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایي: د هغه قوم پر عزتمندو خلکو رحم وکړئ چې له خوارئ سره مخ وي]
مصدر: د ترکیې اکاډمي
ژباړه : اورهان ترکمان
پښتو ژباړه: علی أحمد راصد

مسیحي مشر زویمر !

د مسیحیانو مشر زویمر په بیت المقدس کې د خپلې بیانې په ضمن کې وویل: اې مسیحي دولتونو، ستاسې وظیفه په هغو ځایونو کې چې محمدي دین هلته موجود دی دا نه ده چې خلک د اسلام څخه بیرون او عیسایان یې کړی ځکه دا هم د دوی عزت او احترم دی بلکه ستاسې دنده دا ده چې د اسلام څخه یې بېزاره او داسې خلک یې وګرځوئ، چې د خدای سره یې هېڅ

اړیکې نه وي؛
که تاسې داسې نسل جوړ کړای شی، چې نه یې د خدای سره اړیکې وې او نه یې د پیدا کولو هڅه وکړي، له اسلام څخه مو بیرون او په مسیحیت کې مو داخل نکړل، نو بالاخره داسې نسل مو وروزه، چې زموږ د نقشو د عملي کولو لپاره به هر وخت تیار وي، د لوړتیا په هکله به هڅه کوي، ارامتیا او بې غمي به له هر څه زیاته خوښوي او په دنیا کې به بې له جنسي شهوت د پوره کولو څخه بله دنده نه پېژني!

اسلامي_نړۍ_نن_سبا

حضرت قعقاع بن عمرو التمیمي رضی الله عنه!

په فارس باندی د حملې کولو پر مهال چې کله مسلمانانو د فارس د پوځونو شمیر او جنګي وسایل ولیدل او خپل شمیر او وسایل یې ورسره پرتله کړل نو خپل امیر او قوماندان حضرت خالد بن الولید څخه یې وغوښتل تر څو د حضرت ابوبکر ( رضی الله عنه ) څخه نوره پوځي مرسته وغواړي هماغه و چې حضرت ابوبکر صدیق ( رضی الله عنه ) څخه یې مرسته وغوښته ، د هغې خوا څخه ورته حضرت ابوبکر صدیق ( رضی الله عنه ) فقط یو کس ور واستولو ، کله چې نوموړی کس د حضرت خالد بن الولید ( رضی الله عنه ) پوځ ته ورسید نو مسلمانانو داسې فکر وکړ چې کیدی شي نور پوځ په ده پسې وروسته را روان وي ؛ هغه ورباندی پوه شو نو خلکو ته یې وویل : امیرالمؤمنین یوازې زه د مرستې لپاره رالیږلی یم د دی خبرې په اوریدلو سره مسلمانانو د خپل قوماندان په طرف ولیدل او ورڅخه یې وپوښتل : دا څه روان دي ؟ مرسته څه شوه ؟
حضرت خالد بن الولید ( رضی الله عنه ) ورته ځواب ورکړ : د جنګ تیاری وکوئ ! همدا مرسته ده .
دا دروند شخصیت حضرت قعقاع بن عمرو التمیمي ( رضی الله عنه ) و د چا په هکله چې حضرت ابو بکر ( رضی الله عنه ) ویلي و چې په پوځ کې د قعقاع بن عمرو غږ د زرو پوځیانو څخه غوره دی بلکې دا یې هم فرمایلي و چې په کوم پوځ کې قعقاع وي نو هغه پوځ ته ځوک ماتې نه شي ورکولې .
هر مسلمان ته د حضرت قعقاع بن عمرو التمیمی ( رضی الله عنه ) د سیرت څخه خبریدل په کار دي .

مسلمان جراح ابوالقاسم زهراوي:
ابوالقاسم زهراوي چې په اصل کې د مديني منورې له انصارو څخه و، په ۹۳۶ زيږديز کال جنوبي هسپانيه کې زېږېدلی؛ د لسمي ميلادي پېړۍ مسلمان جراح دی. هغه د عملياتي جراحي په پلار مشهور دی. په يوولسمه پېړۍ کې يې له ۲۰۰ ډېر د جراحۍ وسايل اختراع کړي، چې ميليونونه انسانان يې ژغورلي. دی هغومره نه دی ياد شوی لکه څومره چې د نوموړي د اختراعاتو ارزښت دی. د الزهراوي يو مشهور کتاب التصريف نوميږي. دغه کتاب ۳۰ جلدونه لري، چې د هغه د ۵۰ کلونو د تجربې محصول دی. دا په اصل کې د جراحي وسايلو تصويري دايرة المعارف (پوهنغونډ يا انسايکلوپيډيا) ده.
دغه کتاب په اروپايي پوهنتونونو کې تر ۵۰۰ کلونو پورې د لارښود کتاب په حيث تدريسېده. دې ناياب کتاب په عملياتي جراحي او اروپايي رنسانس کې کليدي کردار لرلی. دغه مسلمان جراح، اروپايان په لاتيني (علمي) لهجه ابوالکاسېس بولي. دی خپلې عملياتي پوهې او مهارت ته په کتو د منځنيو پېړيو او مسلمانې نړۍ تر ټولو لوی جراح ګڼل کيږي. هغه د داخلي ټکونو (Stiches) له پاره ( (Catgutاختراع کړی چې تر دمګړۍ کارول کيږي. الزهراوي د ناروغيو له هغې معالجې چې نبي عليه السلام به ښودلې وې؛ اغېزمن و او د وګړيو په تداوي کې به يې دغې طريقې کارولې. هغه د C-Section(جراحي شق په ذريعه د زيږون عمليات) او د Cataract(په عدسيه يو غير شفاف پوښ جوړېدل) عملياتو له پاره وسايل جوړ کړي وو. همدارنګه دی لومړنی شخص و، چې د فالج اصلي سبب يې معلوم کړ. مخکې د ده له وضاحته څوک نه پوهېدل چې لامل يې څه دی؟ الزهراوي ډېره ښه تشريح کړله چې دا څنګه د ملا د تير له کسر څخه رامنځته کيږي. هغه د جراحي وسايلو د تعقيم لپاره ځانګړې د کيمياوي موادو ګډوله وکاروله؛ کټ مټ لکه اوسنی ميکروب ضد مواد.
د هغه له مړينې کلونه وروسته نامتو ايتاليوی ژباړن ګيررډ د ده د زوکړې ځای يعنې د هسپانيې ټوليډو ته لاړ او د هغه ليکل يې له عربي نه لاتيني ته واړول. د ده اثار له ۱۲۵۰ ميلادي راهيسې په انګلستان کې د قلمي نسخو په شکل خوندي دي. له (۸مې تر ۱۳مې پېړۍ) دوره چې د مسلمانانو د طلايي عصر په نوم هم ياديږي، مسلمانانو پکې ګڼ نوموتي عالمان نړۍ ته وړاندې کړي.
مسلمانو پوهانو په دې عصر کې د پوهنې او علومو په بېلابېلو برخو؛ لکه: طب، نجوم، رياضي، فلسفه او... کې بنسټيز کارونه او څېړنې وکړې. الزهراوي د عصبي جراحي بې نظميو او ناروغيو په تشخيص کې هم حياتي کار کړی؛ د بېلګې په ډول د لاندې بې نظميو (Managementد تداوي لارې چارې مونډل):
د کوپړۍ د زخمونو، د ملا د تير د ټپونو، د سر د ماتېدو (درزونو)، ( Hydrocephalousد

CSFمايع تجمع په کوپړۍ کې چې د دماغو په انساجو زور راولي او سر معمولاً ډېر لوی ښکاري) او ( Subdural Effusionد کوپړۍ د Duraطبقې لاندې د مايع غونډېدل).
هغه يو وار له يو ماشوم سره مخ شو، چې سر يې لوی او پړسېدلی و. ده چې وکوت نو معلومه يې کړه Hydrocephalousدی چې د CSF(د دماغو او شمزي يوه بې رنګه مايع ده) له د غير مکمل (ناقص) جريان له کبله رامنځته شوې.
هغه څو لسيزې د Cordoba(د ده د اوسېدنې سيمې) د اموي واکدارانو (الحکم ثاني او له هغه وروسته د المنصور) درباري ډاکټر هم پاتې شوی. الزهراوي د اطفالو د جراحي له پاره هم ډېر کار کړی. هغه تر ټولو لومړی و چې د Haemophilia(د وينې په خپل سر بهېدلو ناروغي چې يوازې په نرانو کې وي) طبي اړخ يې وڅېړه. Cat-Intestines(د داخلي شقونو او جرحو ګنډل د هغو تار ته ورته موادو په وسيله چې د حيواناتو له کولمو څخه يې په لاس راوړل) يې د ګنډلو ( (Sutureله پاره وکاروه. د وچې غاړې جراحي ( (Tracheotomy عمليات يې ترسره او تشريح کړل.
هغه بيا هم لومړنی کس پاتې شوی چې دغه لاندې طبي پروسې او کارونه يې خپله ترسره کړې يا يې پکې توضيحات ورکړي:
د تيانو د سرطان کلاسيک عمليات، د مثانې د تيږو ماتول په شعاعګانو (اوسنۍ (Lithotripsy، د تايرايد (د مرۍ په قدام کې وي) غدې د Cystيا له مرداري ډکې کڅوړې د ليرې کولو تخنيک، د غوړو د غدو د کڅوړو ( (Sebaceous Cystدرملنه د پلټونکې ستنې په ذريعه، د Cauteryيا داغلو په مرسته د اوښکو د قنات د نالۍ داره زخمونو ( Lacrimal (Fistulaتداوي او د Walcherاو Lithotomy( نسايي وضعيتونه دي چې ميرمنو ته د زيږون پر مهال ورکول کيږي) پوزيشنونو ښودل.
د الزهراوي طبي دايرة المعارف کې لاندې طبي موضوعات او عملياتونه په خورا ښه ډول تشريح شوي:
( Cauterizationد داغلو په ذريعه د جوف لرونکو زخمونو تداوي)، ( Incisionجرحي شق)، Perforation(سورى کېدل) او Venesection(رګ زني)، د هډوکو ارجاع يا په ځای کول، د دوا جوړونې په برخه کې هغه د زړه د ناروغيو او قبضيت له درملو نيولې د ښکلا تر دواګانو او پرهيزانه خوړو پورې توضيح کړې. په خپل کتاب ( (Liber Servitorisکې يې د خپل وخت د دوايي د ساده او مرکبو (پيچيده) ترکيبونو په هکله هم معلومات ليکلي.
هغه پوځي طبي مرستې هم تشريح کړې او ترسره کړې، يورولوژي (د بولي تناسلي لارو جراحي) او اورتوپيډي (د هډوکو جراحي) کې يې هم اساسي کارونه کړي دي لکه د اوږې ارجاع (چې خورا سخت عمليات دي) او د اوس وخت ( (Kocher'sمانورې چې د تايرايد د غدې او د ګېډې په عملياتو کې ترې کار اخيستل کيږي.
هغه له Ambroise Pareنه ۶۰۰ کاله دمخه واضحه کړې، چې رګونه څنګه Ligate(د رګونو تړل چې وينه و نه بهيږي) کيږي.
د پوزې د هډوکو او د ملا د مهرو د کسرونو د تداوي ترڅنګ يې د هډوکو او بندونو په اړه هم زښته ډېر ليکل کړي.
د هغه په تصويري دايرة المعارف د لسمي پېړۍ د کارېدونکو نسايي ولادي آلاتو تصويران هم شته.
هغه وخت يې چې د Gynecomastia(د نرانو تي د ښځو په شان غټېدل) جراحي تداوي او د معالجې وسايل ښودلي، اوس هم استعماليږي.

د هغه طبي ليکنې چې ګېررد، روګريوس او رونالډوس ژباړلې، په غربي نړۍ کې ډېرې کارول شوې او ستايل شوې دي. د ده اختراعات او د جراحی لارښوونې تر دیارلسمې پېړۍ بيخي ډېر کارېدونکي او عصري ول.
د څوارلسمې پېړۍ مشهور فرانسوي جراح ( Guy De Chauliac)په خپل کتاب کې له ۲۰۰ وارو ډېر د الزهراوي يادونه کړې. دغه کتاب تر اتلسمې پېړۍ پورې وخت په وخت خپور شوی، اوس هم په Oxford , Basel او Venice ښارونو کې موجود دی.

مالديپ
هغه هيواد کوم چې په دوو مياشتو کې ټول مسلمان شو !
مالديپ د هند په سمندر کې يو سياحتی هيواد دی ، دا هيواد په ( 1192 ) جزيرو باندی مشتمل دی چې فقط ( 200 ) جزيرې يې په انسانانو ابادی دي او پاتی نوری يې غيری ابادی دي .
په مالديپ کې سل په سلو کې ټول مسلمانان دي او د هغه ځای د قوميت اخيستلو لپاره مسلمان کيدل ضروري دي .
د حيرانتيا خبره خو دا ده چې دلته د بودا پيروکار ميشت ول کوم چې په دوو مياشتو کې د بادشاه څخه نيولی تر ګدا پورې ټول مسلمانان شول خو دا څنګه او کله وشول ؟
دا پيښه مشهور مسلمان سياح ابن بطوطه د مالديپ د سياحت څخه وروسته په خپل کتاب کې ليکلې ده بلکې ابن بطوطه تر څه وخته پوری هلته د قاضی دنده هم سر ته ورسوله .
هغه په خپل کتاب ( تحفة النظار فی غرائب الامصار و عجائب الامصار ) کې ليکلي دي چې :
د مالديپ اوسيدونکي د بودا مذهب پيروکار او د انتهايي درجې وهم پرسته خلک و چې له همدی امله وربانDی يو پيرې مسلط شوی و ، هغه پيرۍ به د هرې مياشتې په اخري ورځو کې د سمندر څخه د رڼاګانو سره راښکاره کيده ، خلکو به هغه ته د سمندر په غاړه جوړ شوي يو درمسال يا بت خانه کې يوه پيغله انجلی سينګار کړی ليږله ، هغه پيري به هلته شپه تيروله او سهار به خلکو د هغی انجلۍ مړې له درمسال څخه راوويست او وبه يې سوزولو ، د هغی پيغلي انتخاب به د قرعه اندازۍ سره کيدله ، دا ځل د هغه پيري لپاره په قرعه اندازۍ کې د يوې کونډې ښځې يوازينې لور راووته چې له امله يې هغې ښځې دومره وژړل چې بی هوشه شوه ، د کلي خلک د کونډې په کور کې راټول شوي و او د دی په انتظار کې و چې پيغلی ته سينګار وکړي او هلته يې پيري ته وسپاري ؛ په دی خلکو کې په هغه ورځ باندی يو مسافر هم راغلی و ، کله چې هغه د کليوالو څخه په دی هکله وپوښتل نو خلکو ورته ټوله کيسه وکړه او د پيري ظلمونه يې ورته بيان کړل ، هغه مسافر هغی کونډې ته ډاډ ورکړ او ورته يې وويل :
نن شپه به زه ستا د لور پر ځای د پيري خوا ته درمسال ته ځم ، خلکو چې دا واوريدل حيران شول خو هغوی دا خبره نه منله ، هغوی په دی ويريدل هسی نه چې په دی کار سره هغه پيرې خفه شي او ټول کلي ته خطر پيښ نه کړي خو هغه مسافر په خپله خبره ټينګار کاوه ، کله چې کليوالو د هغه ډاډ او ټينګر وليد نو اجازت يې ورکړ ، مسافر اودس وکړ او د سمندر غاړی درمسال ته ولاړ ، کله چې هلته ننوت نو د قرانکريم په تلاوت يې پيل وکړ خو کله چې پيرې راغلو او د قران کريم تلاوت يې واوريده يوه چيغه يې ووهله او بيا هيڅکله راښکاره نه شو ،
سهار چې خلک راغلل تر څو د مسافر مړی راوباسي او ويې سوځوي خو کله يې چې هغه ژوندی وليده په خپلو سترګو يې باور نه راتلو ،
دا مسافر مشهور مسلمان دعوتګر ، مبلغ او سياح ابوالبرکات بربری و ، د ابوالبرکات راتلل او

د پيري سره د مقابلې خبر د ځنګل د اور په څير خپور شو تر دی چې د بادشاه غوږونو ته هم ورسيده ، بادشاه شيخ راوغوښت او شاهی دعوت يې ورته وکړ ، شيخ ورته خپل تعارف او ټوله کيسه وکړه ، وروسته يې ورته دعوت ورکړ تر څو اسلام قبول او دا خرافاتي عقيده پريږدي ؛ بادشاه اسلام قبول کړ او د دوو مياشتو په موده کې د مالديپ ټول هيواد مسلمان شو ، دا د ( 1314 م ) خبره ده ، نوموړي دعوتګر هملته استوګنه غوره کړه او خلکو ته يې د قران او سنت درسونه ورکول چې له امله يې هلته زرګونه مساجد جوړ کړی شول ، نوموړی شيخ هملته وفات او دفن کړی شو ، په ښکاره خو ابوالبرکات يو فرد ښکاريده خو په يوازې ځان يې دومره کار وکړ لکه د يو امت ، رحمه الله رحمة واسعة . سلمان قريشي

بشريت ته چا زيان رسولی؟

که د نړۍ د انقلابونو په تاريخ نظر واچول شي او تر دقيقي څيړنې لاندې ونيول شي؛ نو يو ريښتونی بشردوست انسان به له دې پرته پاتې نشي، چې ووايي: هو! مسلمانان دي، چې د خپلو انقلابونو په برکت يې بشريت ته روڼا، ارام او سکون را وړی، بشريت ته يې پرمختيايي بدلون ور په برخه کړی او يوازې همدا د مسلمانانو انقلابونه دي، چې هر اړخيز په پټه او ښکاره پياوړي او ټول شموله دي.

يقينا په هر وخت کې، چې مسلمانان د اقتدار په سر راغلي او د انقلاب هڅه يې کړې؛ نو په پوره توګه په دې خبره بريالي شوي دي، چې د خپل انقلاب په برکت، بشريت له ناخوالو وژغوري او د يوه روښانه، ځلانده او هوسا ژوند څخه يې برخمند کړي؛ خو د دې برخلاف، چې په نړۍ کې کله هم د انقلابونو هڅه شوې او واګې يې د مسلمانانو په لاسونو کې نه وي؛ نو نړۍ ستر زيانونه ګاللي، داسې زيانونه، چې تر قيامته به يې جبيره ونشي، او له دې سره ـ سره بشريت له داسې ناورين زغملو سره مخ شوی، چې تلپاتې تريخوالی به يې کله هم تاريخ هير نه کړي.

درنو لوستونکو! موږ به په دغه ليکنه کې د بشريت د ستر لاربنود، د عالمينو د رحمت، د مسلمانانو د انقلابونو بنسټګر او د الله جل جلاله له لوري د راليږل شوي استازي، خوږ پيغمبر محمد رسول الله صلی الله عليه سلم د انقلاب هغه نقشه وړاندې کړو، چې تاريخ ليکونکو د هغه عليه السلام او د هغه مبارک د مخالفينو د افرادي تلفاتو په هکله ويستلي ده او همداشان به د هغه انقلابونو د تلفاتو نقشه هم وړاندې کړو، چې واګې يې د مسلمانانو پر ځای د دوی په لاسونو کې وو. په پای کې به تاسو درنو لوستونکو ته له دغه دواړو نقشو څخه د دې پوښتنې ځواب په ډېره اسانی تر لاسه شي، چې: "بشريت ته زيان چا رسولی؟"

د رسول الله صلی الله عليه وسلم انقلاب، په درويشتو کالو کې بشپړ شو، چې د هغه لپاره يې د اتو کالونو په موده کې اوه ويشت غزاګانې وکړې، چې تقريبا هرکال څلور غزاګانې راځي او هغه عليه السلام د دې انقلاب په پار د خپلو ملګرو پنځه پنځوس جهادي لښکرې هم ولېږلې.

انسان حتما دا فکر کوي، چې په دې شمېر جنګ جګړو کې به څومره خلک وژل شوي وي؟
څومره لويه تباهي او بربادي به يې رامنځته کړې وي؟
او څومره خلک به تبا برباد شوي وي؟ خو تاريخ ليکونکو د هغه عليه السلام د ملګرو او د هغوی د مخالفينو د جګړو په هکله لاندې نقشه ويستلې، چې د دغو جنګونو تلفات داسې ښايي:

کافران: ۶۵۶۴ بنديان ۴۵۹ وژل شوي او ټپيان
مسلمانان: ۱۱بنديان ۱۲۷ تنه زخميان ۴۵۹ تنه شهيدان شوي.

خو د دې بر خلاف په هغو انقلابونو کې، چې واګې يې زموږ (مسلمانانو) په لاسونو کې نه وې، او د دوی (کافرانو) په لاسونو کې وې، نړۍ په لاندې توګه بشري، مادي او روحاني زيان وليد.

په لومړي نړيوال جنګ کې، چې په ۱۹۱۴ ميلادي کې پيل او په ۱۹۱۸ ميلادي کې پای ته ورسېد د شاو خوا څلورو کلونو په لنډه موده کې: اولس لکه کسان د روسيې، شپاړس لکه خلک د جرمني، ديارلس لکه اوياز‌ره خلک د فرانسې، څلور لکه شپېته زره خلک د ايټاليا، اته لکه خلک د استراليا، اوه لکه او شپږ زره خلک د برتانيې، دوه نيم لکه خلک د ترکيې، يولک اودوه زره عسکر د بلجيم، يو لک عسکر د رومانيا او پنځوس زره عسکر د امريکا په دغه جګړه کې ووژل شول، چې په ټولې ډول په دغه جګړه کې هغه کسان، چې جګړې ته ورټيل وهل شوي وو او پکې ووژل شول شمير يې پنځه شپېته ميلونو ته رسيږي.

په ياده جګړه کې درې ميلونه عسکر بيخي ورک شول، درې ميلونه بنديان شول، نه ميلونه خلک يتيمان، شل ميلونه خلک ټپيان، پنځه ميلونه ښځې کونډې او لس ميلونه خلک بې کوره شول او هغه مادي زيانونه، چې نړۍ وليدل له زرګونو ميليارده ډالرو څخه زيات وو.

دويم نړيوال جنګ، چې په ۱۹۳۹ ميلادي کې پيل او په ۱۹۴۵ميلادي کې پای ته ورسيد د شاو خوا شپږو کالو په موده کې يوازې اوه لکه پنځوس زره نظاميان د روسيې، درې لکه د امريکا د متحده اياالاتونو، پنځه نيم لکه د انګلستان، دوه لکه د فرانسې، اته ويشت لکه او پنځوس زره د جرمني، درې لکه د اټاليا، دوه ويشت لکه د چين او پنځلس لکه کسان د جاپان ووژل شول او له دې سره ـ سره ټول ټال اتلس ميلونه عام وګړو هم په دغه جګړه کې خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د ۱۹۴۵ ميلادي کال د اګست په شپږمه امريکايانو د هيروشيما په ښار اتوم بم واچوه، چې د دغه ښار د اوسيدونکو خلکو شمېر درې ميلونه او پنځه ديرش زرو ته رسيده او په همدې توګه يې د اګست په اتمه بل بم ناګاسا کې استعمال کړ، چې لکونه خلک پکې ووژلای شول.

شل لکه خلک د اروپا په مذهبي جګړو کې له منځه لاړل، چې درې لکه او څلويښت زره خلک د اسپانيې پکې ووژل شول او دوه ديرش زره نور يې ژوندي وسوځول شول، چې د دوی په منځ کې يوازې درې لکه او پنځه ديرش زره ساينس پوهان د کليسا د مشرانو لخوا ووژلای شول، چې ځيني يې آن ژوندي په اور وسوځول شول.

لس ميلونه خلک د امريکا د متحده ايالاتو په کورنی خپلمنځي نښتو کې له منځه لاړل.

دا ډول د ويتنام په جګړه کې لس لکه او پنځوس زره خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړ، چې پنځوس زره يې يوازې امريکايان وو.

وروسته تر هغه، چې د فرانسي انقلاب بري ته ورسيد او د دې لپاره، چې خپل مخالفين ښه وټکوي؛ نو انقلابيانو د ټول وژنې په خاطر د ګوئتين ماشينونه نصب کړل، چې د دې ماشينونو په واسطه يې شل لکه انسانان ذبحه کړل.

روسانو د ۱۹۳۱ ميلادي کال کې د کريميا په جمهوريت کې شل زره خلک ووژل، پنځوس زره خلک يې له هيواد څخه وشړل او يو زر او پنځه سوه څلور جماتونه يې په شرابخانو بدل کړل.

د هغې احصايې له مخې، چې روسيې تر سره کړې، يولس زره خلک، چې ټول يې مسلمانان وو يوازې ستالين په شهادت رسولي دي او د بخارا او خيوه له جماتونو پرته په کال ۱۹۱۳ ميلادي کې د روسيې د جماتونو شمير شپږ ويشت زره دوه سوه او نه اويا وه، چې ټول يې په شرابخانو بدل کړل.

د هغه مسلمانانو شمير څلور څلويښت ميلونه اټکل شوی وه، چې په ختيځ او لويديځ ترکستان کې هستوګن ول؛ خو د هغوی شميره تر شپږ ويشتو ميلونو راټيټه شوه، ځکه چې اتلس ميلونه مسلمانان په شهادت ورسيدل.

د انګليسي ښکيلاکګرو اشغالونه، د روسيانو په جګړه کې، چې په افغانستان باندې يې حمله وکړه څومره خلک ووژلای شول؟ د بوسنيا وژنې، د لبيا او سوريې وژنې او همداسې نور... او يو ميلون او دوه سوه زره خلک د عراق په جګړه کې، چې امريکايان موجود وو ووژل شول.

څومره خلک په افغانستان، فلسطين، چيچنيا، يمن، برما او نورو اسلامي هيوادونو کې ووژلای شول، چې د دغه ټولو جګړو پيلونکي دوی او موږ يې يوازې قربانيان وو.

له پورته څيړنې او وينو تويولو څخه په څرګنده معلوميږي، چې بشريت چا زيان رسولی؟ بشر دوستان څوک دي؟ که څوک لږ شعور هم ولري؛ نو له دې پرته به پاتې نشي، چې ووايي:
دوی دي چې بشريت ترې تلپاتې زيانونه ليدلي دي، دوی وحشيان دي، دوی دي چې ټوله نړۍ ترې په وحشت کې ده او دا شان نورې ډېرې خبرې دي، چې له ځانه سره به يې فيصله کړي.

د اسلام د سرلوړی په هيله.
عبدالصمد شاکر

د تاریخ تر ټولو د درد ناک مرګ کیسه

د غوا له لاری تشدد او د ظلم کومه طریقه چې نن تاسې ته وړاندی کوم دا په انساني تاریخ کې ساری نه لري ، دا طریقه د هسپانیه ( اسپین ) د کلیسا د تحقیقاتو د اداری له خوا د مسلمانانو د نسل کشئ لپاره په کار واچوله چې په اوریدلو یې هم د انسان غونی زیږیږي .
په دی کې به یې د اوسپنی څخه د جوړی کړی شوی غوا خیټې ته د پورته دروازی څخه مسلمان ور واچولو او بیا به یې د غوا د خیټې لاندی اور بل کړ ، څومره به چې اور ګرمیده هومره به دننه مسلمان د ګرمئ څخه چیغې پیل کړی چې دی چیغو ته دوی د ( Bull bellow ) نوم ورکړ د غوا دننه ګیر مسلمان به چیغې وهلی تر دی چې ټول بدن به یې د بخاراتو د لاری په هوا کې ختم شو .
دی تشدد او ظلم پنځه مرحلی درلودی چې په لاندی ډول دي :
1/ ښکار ( مسلمان ) به یې پورته برخه کې د شته دروازې له لاری د غوا خیټې ته ننویست او د پورته څخه به یې ورباندی دروازه بنده کړه .
2/ د پورته دروازی د بندولو وروسته به یې د غوا د خیټې د لاندی اور بل کړ .
3/ غوا څخه تنور جوړیدل او د غوا دننه د بند مسلمان چیغې پورته کیدل تر دی چې بدن به یې په بخاراتو کې ختم شو
4/ له دی وروسته به د غوا په پوزه کې د موجوده سورني یا نلکی څخه اوازونه پورته کیدل کوم ته چې دوی د ( bull bellow )نوم ورکاوه ، دا چیغی به د غوا د پوزی د سوري څخه وتلی .
5/ کله به چې چیغې ډیری او تیزی شوی نو اواز به لکه د کوم دیو یا د پیري په شان ډیر ویرونکی شو تر هغی چې روح به یې له بدن څخه رخصت واخیست .
دا طریقه د هسپانیه د کیتولک فرقی د تحقیقاتو د اداری لخوا سر ته رسیدله او د هسپانیي صلیبي بادشاهانو به ډیر خوند ورڅخه اخیسته .
ژباړه سلمان قریشي

داسلامي تاریخ زړور سپاهیان او اتلان

د انساني تاريخ تر ټولو لومړنی تور پوستي پيلوټ
دا تور پوستي ځوان احمد علي ازميري نوميږي او د نايجيريا اوسيدونکې دی ، نوموړی په ( 1911 م ) کې د عثماني خلافت يو غوره پيلوټ و حال دا چې هغه مهال په اروپا او امريکا کې په تعليمي ادارو کې تور پوستو ته داخله بنده وه .
د عبادت لپاره د سپين پوستو کليساو ته نه شو تللی .
هوټل کې د خوراک کولو اجازت يې نه درلود بلکې په هوټلو به ليکل شوي و چې سپي ته د دننه تللو اجازت شته خو تور پوستي ته نشته .
تر دی پوری چې په هديره کې يې د تور پوستو مړي هم خښيدلو ته نه پريښودل .
اسلام کې سپين په تور او تور په سپين هيڅ فضيلت نه لري بلکې د فضيلت معيار تقوا او دينداري ده .

د بلاط الشهداء جنګ

د بلاط الشهداء جنګ د فرانس په زمکه باندی داسی یو جنګ و چې که مسلمانانو ګټلی و نو نن به په ټوله اروپا باندی د مسلمانانو حکومت و
مسلمانانو د اندلس د حاکم عبدالرحمن الغافقی په مشری کې په ( 732 م ) کې د صلیبیانو سره یو خطرناک جنګ وکړ او نږدی و چې د صلیب زامنو ته شرموونکې ماتی ورکړي ، په داسې موقع باندی چې مسلمانان د فتحې په درشل کې و نو دښمن دا افواه خپره کړه چې :
په نورو جنګونو کې چې مسلمانانو کوم د غنیمت مالونه نیولي و هغه په خطر کې دي او دښمن وربانډی قبضه کول غواړي ؛ هماغه و چې مسلمانان د دښمن په شیطاني چال کې راغلل ، میدان یې پرېښود او په هغه طرف روان شول کوم ځای کې چې د غنیمت مالونه و ، د دی حالت په لیدلو سره عبدالرحمن الغافقی رحمه الله مسلمانانو ته ډیر غږونه وکړل خو هغوی راواپس نه شول ، دښمن چې کله د مسلمانانو شمیر بیخي کم ولیده نو راواپس شول او عبدالرحمن الغافقی رحمه الله یې شهید کړ ، د عبدالرحمن الغافقی رحمه الله د شهادت څخه وروسته د پاتی مسلمانانو مورال هم کمزوری شو چې له امله یې د ډیرو مسلمانانو په شهادت سره مسلمانانو ماتی وخوړه او په ټوله نړی باندی د مسلمانانو د حکومت او خلافت خوب تر سره نه شو .
سلمان قریشي

---

**اختتام**

25/3/1399 هجري شمسي

22/10/1441 هجري قمري

14/6/2020 عيسوي ميلادي

عزيزالرحمن حسيني

لوګر مرکز پل عالم .

داسلامي تاريخ زړور سپاهيان او اتلان